خراسان غږ

خراسان غږ مجله
اتمه ګڼه

إِن تَمْسَسْكُمْ حَسَنَةٌ تَسُؤْهُمْ وَإِن تُصِبْكُمْ سَيِّئَةٌ يَفْرَحُوا بِهَا وَإِن
تَصْبِرُوا وَتَتَّقُوا لَا يَضُرُّكُمْ كَيْدُهُمْ شَيْئًا إِنَّ اللَّهَ بِمَا يَعْمَلُونَ مُحِيط

که تاسې ته څه ښېګڼه رسیږي، نو هغوی خپه کیږي؛ او که پر تاسې څه مصیبت راځي، نو دوی پرې خوشحالیږي.
خو د هغوی هیڅ دسیسه ستاسې پر خلاف اغیزمنه کېدای نشي، په دې شرط چې تاسې له صبر څخه کار واخلئ
او له الله څخه د وېرېدو سره عمل وکړئ. دوی چې هر څه کوي د الله د علم په چاپېریال کې دي.

[سُورَةُ آل عِمرَان : 120]

دیني، تاریخي، سیاسي، ادبي او خبري مجله



تفسير القرآن الكريم

امریکا د یو کال په تیریدو
لا هم خپل زخمونه څټي

طالبان د دیموکراسۍ
د اساساتو په تله کې

لنده کیسه / په الله توکل

د جهاد د کاروان ځلاند ستوری

الشيخ مقبول تقبله الله

مؤسسة العزائم الإعلامية

اتمه ګڼه / یک شنبه 1 صفر 1444هـ

مؤسسة العزائم يې وړاندې کوي

ديني برخه

1 تفسير القرآن الکريم

5 نثر اللؤلؤ والمرجان في سلسلة معرفة الرحيم الرحمان (اووم درس)

8 الفالح والرشاد في مسائل الجهاد (اووم درس : صحيح البخاري کتاب الجهاد)

سياسي برخه

16 امريکا د يو کال په تيريدو لا هم خپل زخمونه څټي

21 طالبان د ديموکراسۍ د اساساتو په تله کې

ادبي برخه

30 شعر (ښاري شازلميو ته)

31 دجهاد د کاروان څاروان (شيخ ابو عمر مقبول تقبله الله تعالى)

40 شعر (د خلافت مجاهدين)

41 په الله توکل (لنډه کيسه)

50 نظم (ماتيږي لړزيږي طاغوت د جهان)

خبري برخه

46 د لښکرو احصائيې

47 خراسان د مرتدينو مقبره

تفسير القرآن الكريم

سُورَةُ التَّوْبَة

اتم درس ۸

أعوذ بالله من الشيطان الرجيم

د سورت توبې درس شروع و، مخکې الله عزوجل د منافقانو صفات او هغوی ته زجرونه ذکر کړل، د جهاد پریښودونکو ته وعد او وعید، انذار او تبشیر، ثواب او عذاب ذکر شو، اوس په دې آیت کې په ماقبل باندې تفریع ذکر کیږي، چې دا منافقان د کفر او نفاق له امله په جهاد کې خرچه نه کوي، نو د دوی دې مالونو ته تعجب نه دی پکار، په دې سره ورته الله عزوجل عذاب ورکوي.

فَلَا تُعْجِبْكَ أَمْوَالُهُمْ وَلَا أَوْلَادُهُمْ إِنَّمَا يُرِيدُ اللَّهُ لِيُعَذِّبَهُمْ بِهَا فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَتَزْهَقَ أَنْفُسُهُمْ وَهُمْ كَافِرُونَ (55)

ژباړه: نو تعجب کې دې وا نه چوي تا لره، مالونه د دوی او نه اولاد د دوی، یقینا غواړي الله تعالی (په دې ډیر والي د مالونو او اولاد د دوی سره) چې عذاب ورکړي دوی لره په هغې سره، په ژوند دنیوي کې او وځي روحونه له دوی په داسې حال چې دوی به کافران وي.

تفسير:
[فَلَا تُعْجِبْكَ أَمْوَالُهُمْ وَلَا أَوْلَادُهُمْ إِنَّمَا يُرِيدُ اللَّهُ لِيُعَذِّبَهُمْ بِهَا فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا]:

یعني د منافقانو مالونو ته پسخیدل ندي پکار، ځکه دا د عذاب باعث دي، دنیا کې هم ورته د دې مالونو په سر غم، خفګان او تشویش رسیږي، ډیر په سخته یې ګټي، او عاقبت یې دا شي چې مؤمنان یې ترې غنیمت کړي، د دوی له لاسو څخه یې په زور واخلي، نو د دوی د سترګو یخوالی او د ژوند ټولې خوشحالۍ یې له منځه لاړې شي، ارمانونه او حسرتونه یې ملګري شي.

همدغه رنګه په آخرت کې یې الله عزوجل په جهنم کې سوځوي، ځکه دوی د هغه رب شکر نه دی اداء کړی چې هغه په دې نعمتونو نازولي دي، همدارنګه د دې مالونو زکاتونه یې ندي ورکړي، صدقې یې ورڅخه نه دي کړي.

او چا خو ویلي دي چې عبارت کې تقدیم تاخیر دی، معنا به یې داسې شي: فَلَا تُعْجِبْكَ أَمْوَالُهُمْ وَلَا أَوْلَادُهُمْ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا، إِنَّمَا يُرِيدُ اللَّهُ لِيُعَذِّبَهُمْ بِهَا فِي الْآخِرَةِ لِأَنَّهُمْ مُنَافِقُونَ، فَهُمْ يُنْفِقُونَ كَارِهِينَ فَيُعَذَّبُونَ بِمَا يُنْفِقُونَ.

په دنیا کې د دوی مالونه او اولادونه تا په تعجب کې وانه چوي، یقینا الله عزوجل د دې مالونو له امله ورته آخرت کې عذاب ورکوي. ځکه دوی منافقان دي، دوي په ناخوښۍ سره د الله په لار کې مال مصرفوي، او په دې مال ورکولو سره دوی ته عذاب میلاویږي.

مشهوره قاعده ده چې بخیل نه پیسې اخستل هغه لپاره لوی عذاب دی.

او دا د منافقانو حال وي چې د همدې اولادونو او مالونو له امله تر مرګه پورې دغه نفاق او دنیایي لالچ کې اخته وي، او توبې ته نه وزګاریږي.

[وَتَزْهَقَ أَنْفُسُهُمْ]:

دا یې د مرګ په وخت حال وي، چې سختۍ سره ترې روحونه ویستل کیږي.

[هر کله چې د منافقانو کفر په ډاګه شو، بلّه لار ترې ورکه شوه، نو قسمونه یې شروع کړل چې مونږ خو مسلمانان یو]

وَيَحْلِفُونَ بِاللَّهِ إِنَّهُمْ لَمِنْكُمْ وَمَا هُمْ مِنْكُمْ وَلَكِنَّهُمْ قَوْمٌ يَفْرَقُونَ (56)

ژباړه: او قسمونه کوي دوی په الله تعالی چې یقینا دوی ستاسې له ډلې څخه دي او نه دي دوی ستاسې له ډلې څخه، خو دوی داسې قوم دی چې ډاریږي.

تفسير:
[وَيَحْلِفُونَ بِاللَّهِ إِنَّهُمْ لَمِنْكُمْ]:

دوی له تاسې څخه دي، په کومو کارونو کې ځان له مسلمانانو څخه حسابوي؟ په دین اسلام کې، د نبي علیه السلام تابعدارۍ کې او د الله عزوجل کتاب منلو کې ځان د مؤمنانو له ډلې څخه حسابوي.

[وَمَا هُمْ مِنْكُمْ]:

الله عزوجل پرې رد کوي او د دوی حقیقت په ډاګه کوي، چې دا منافقان هیڅکله ستاسې له ډلې څخه نه دي خو په ظاهري کاذبو شعارونو ځانونه تاسو ته منسوبوي، نور په باطن کې دوی د مشرکانو او کفارو ملګري دي، هر کله چې د تخریب موقعه په لاس ورشي بیا ناراستي پکې نه کوي.

[وَلَكِنَّهُمْ قَوْمٌ يَفْرَقُونَ]:

ژباړه: دوی ډارن دي، یعني ځان یې د اسلام په جامه کې ځکه رانغاړلی چې د مشرکانو عاقبت یې ولیدلو، وژل، تړل، بندي کول، بچیان یې غلامان او میرمنې یې وینځې کول، د همدغه عاقبت له ډاره په ځان یې د اسلام څادر راخپور کړی او تقیه کوي.

[دا د سوال ځواب دی چې کله دا منافقان د مسلمانانو له ډلې څخه نه دي نو ولې دلته ناست دي، ځانونه یې په تکلیف کړي دي، بل خوا ولې نه ځي؟ لکه نن سبا خارج ته ولې نه ځي چې دلته یې مسلمانانو کې ژوند شروع کړی]

لَوْ يَجِدُونَ مَلْجَأً أَوْ مَغَارَاتٍ أَوْ مُدَّخَلًا لَوَلَّوْا إِلَيْهِ وَهُمْ يَجْمَحُونَ (57)

ژباړه: که دوی موندلی وای ځای د پناهې، یا غارونه، یا سمڅې خامخا ورغلي به وای هغې ته په داسې حال چې منډې به یې وهلې.

تفسير:
[لَوْ يَجِدُونَ مَلْجَأً أَوْ مَغَارَاتٍ أَوْ مُدَّخَلًا]:

کچیرې دوی د پناهې ځای موندلی نو دوی به د مسلمانانو له څنګه تښتیدلي وای خو دوی چې دار الاسلام کې ناست دي علت یې دا دی چې بل ځای یې نشته.

او بل لامل یې دا ده چې دلته د خپلو مالونو له امله ایسار دي. ځمکو، کورونو، باغونو او فصلونو څخه یې زړه نه کیږي، دا شیان له ځان سره وړلی نشي، له همدې امله ټول عمر په سخته کې تیروي، نه هم مؤمن دی چې په ایمان یې اطمینان وشي، سختۍ د اجر په تمه وګالي، او نه سم د کافرو ځای کې دي چې ځان ښکاره کافر وبولي او دا د تقیې څادر وغورځوي.

او دې آیت کې د منافقانو د بزدلۍ او جبن ذکر هم شوی چې سخت ډارن خلک دي.

ملجأ: لجَأ یلجَأ او لجِأ یلجَأ د فتح او سمع دواړو بابونو څخه اسم ظرف دی. د پناه اخستلو ځای ته ویل کیږي. مغارات د مغارة جمع ده، ژور ځای ته ویل کیږي، غر یا ځمکه کې کوم غار ته وایي. مدخلا د دَخَلَ څخه د باب افتعال ظرف دی، د حروفو د ډیریدو له امله په معنا کې هم اضافه وشوه، یعني په سختۍ سره د ورننوتلو ځای. هدف په دې الفاظو کې هم دا دی که چیرې دوی بد ځای هم موندلی نو دوی به دلته نه وای پاتې شوي.

[يَجْمَحُونَ]:

عربان وایي: جَمَحَ الفَرَسُ، کله چې اس د انسان له واک څخه ووځي او وتښتي، یعني دا منافقان مسلمانانو سره، د دوی مجالسو سره، د دوی عباداتو سره سخته کینه لري، په اسلامي ټولنه کې دوی ته ژوند تیرول ډیر ګران وي.

[اوس دې آیت کریمه کې د منافقانو درې نور بد صفات ذکر کیږي]

وَمِنْهُمْ مَنْ يَلْمِزُكَ فِي الصَّدَقَاتِ فَإِنْ أُعْطُوا مِنْهَا رَضُوا وَإِنْ لَمْ يُعْطَوْا مِنْهَا إِذَا هُمْ يَسْخَطُونَ (58)

ژباړه: او ځینې له دوی څخه هغه څوک دي چې عیب لګوي په تا باندې په تقسیم د زکاتونو کې، نو که ورکړای شي دوی ته له هغې څخه نو خوشحاله شي دوی او که ورنکړای شي دوی ته له هغې څخه نو دغه وخت دوی خفګان کوي.

[وَمِنْهُمْ مَنْ يَلْمِزُكَ فِي الصَّدَقَاتِ فَإِنْ أُعْطُوا مِنْهَا رَضُوا]:

د دې منافقانو درې صفات ذکر دي:

لمړی صفت: د مال تقسیمولو باب کې په نبي او امیر باندې هم اعتراضات کوي او عیب لګوي.

جوهري وایي: اللَّمْزُ الْعَيْبُ، وَأَصْلُهُ الْإِشَارَةُ بِالْعَيْنِ وَنَحْوِهَا. لمز عیب ته وایي، او دا په اصل کې په سترګه باندې اشاره کولو وغیره ته وایي. او دا په سترګو اشارې د مجلس د آدابو خلاف دي.

د منافقانو دا صفت په حدیث د صحیح البخاري کې هم راغلی دی: عَنْ أَبِي سَعِيدٍ، قَالَ: بَيْنَا النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْسِمُ، جَاءَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ ذِي الْخُوَيْصِرَةِ التَّمِيمِيُّ، فَقَالَ: اعْدِلْ يَا رَسُولَ اللَّهِ، فَقَالَ: «وَيْلَكَ، وَمَنْ يَعْدِلُ إِذَا لَمْ أَعْدِلْ» قَالَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ: دَعْنِي أَضْرِبْ عُنُقَهُ. صحيح البخاري.

ژباړه: نبي علیه السلام د مال تقسیم کاوو چې عبد الله بن ذو الخویصرة التمیمي راغی، او ویې ویل: اې د الله رسوله ! انصاف وکړه. هغه ورته وفرمایل: هلاک شې، چې زه عدل ونه کړم بیا به څوک عدل کوي؟ عمر بن خطاب وایي: ما پریږده چې دا څټ یې ووهم.

دویم صفت: چې کله ورته دنیاوي مفاد ورکړل شي، نو بیا صفتونه کوي چې فلانی امیر صاحب ډیر ښه سړی دی.

دریم صفت: خو چې کله ورته مادیات نه ورکول کیږي، چوکۍ او مشري نه ورکول کیږي نو بیا سخت خفه وي.

او د داسې خلکو په اړه حدیث کې ډیر وعیدات راغلي دي، لکه:

د چا بیعت، اطاعت او جهادي صف

کې دخول چې آسانی، مال، شهرت، منصب يا سهولت لپاره وي نو هغه انسان ته دغه وعيدونه متوجې دي.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ، قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : " ثَلَاثَةٌ لَا يُكَلِّمُهُمُ اللَّهُ وَلَا يَنْظُرُ إِلَيْهِمْ وَلَا يُزَكِّيهِمْ وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ : رَجُلٌ عَلَى فَضْلِ مَاءٍ بِطَرِيقٍ يَمْنَعُ مِنْهُ ابْنَ السَّبِيلِ ، وَرَجُلٌ بَايَعَ رَجُلًا لَا يُبَايِعُهُ إِلَّا لِلدُّنْيَا فَإِنْ أَعْطَاهُ مَا يُرِيدُ وَفَى لَهُ وَإِلَّا لَمْ يَفِ لَهُ ، وَرَجُلٌ سَاوَمَ رَجُلًا بِسِلْعَةٍ بَعْدَ الْعَصْرِ فَحَلَفَ بِاللَّهِ لَقَدْ أَعْطَى بِهَا كَذَا وَكَذَا فَأَخَذَهَا ". [متفق عليه]

ژباړه: رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: درې کسان دي، الله جل جلاله ورسره خبرې نه کوي، نه به ورته ګوري، نه يې پاکوي او د هغوی لپاره دردوونکی عذاب دی. هغه کس چې په لاره (ضرورت څخه) زياتې اوبه له مسافر څخه منعه کړي او هغه کس چې امام سره دنيا لپاره بيعت کوي، که چېرې د ده خوښې ور څه ورکوي نو په بيعت پوره والی کوي او که داسې نه وي نو بيا بيعت نه پوره کوي، او هغه کس چې له ماديګر څخه وروسته په قسم سودا ګرانه کړي او بل يې ترې واخلي.

د دې حديث په اړه امام ابن بطال فرمايي:

فى هذا الحديث وعيد شديد فى الخروج على الأئمة ونكث بيعتهم لأمر الله بالوفاء بالعقود؛ إذ فى ترك الخروج عليهم تحصين الفروج والأموال وحقن الدماء، وفى القيام عليهم تفرق الكلمة وتشتيت الألفة. [شرح البخاري لابن بطال ج8/صـ279]

ژباړه: په دې حديث کې په اميرانو د خروج کولو او د هغوی د بيعت ماتولو، سخت عذاب بيان شوی، د الله د امر له امله چې د لوظونو په پوره کولو يې امر کړی ځکه د اميرانو اطاعت کې د عزتونو، مالونو او وينو حفاظت دی، او نافرمانۍ کې يې د اتحاد او محبت ختمېدل دي.

امام نووي فرمايي:

وأما مبايع الإمام على الوجه المذكور فمستحق هذا الوعيد لغشه المسلمين وإمامهم وتسببه إلى الفتن بينهم بنكثه بيعته لا سيما إن كان ممن يقتدى به والله أعلم. [المنهاج شرح صحيح مسلم بن الحجاج للنووي ج2/صـ118]

ژباړه: او هر چې هغه کس دی چې د دنيا لپاره بيعت کوي نو د دې عذاب مستحق ګرځي خو له دې امله چې دی له مسلمانانو او خليفه سره دوکه کوي او د ده بيعت ماتول د فتنو سبب ګرځي، خصوصا کله چې دا داسې مشر کس وي چې تابعداري يې کيږي.

حافظ ابن عبد البر فرمايي:

وَأَمَّا أَهْلُ الْحَقِّ وَهُمْ أَهْلُ السُّنَّةِ فَقَالُوا هَذَا هُوَ الِاخْتِيَارُ أَنْ يَكُونَ الْإِمَامُ فَاضِلًا عَدْلًا مُحْسِنًا فَإِنْ لَمْ يَكُنْ فَالصَّبْرُ عَلَى طَاعَةِ الْجَائِرِينَ مِنَ الْأَئِمَّةِ أَوْلَى مِنَ الْخُرُوجِ عَلَيْهِ لِأَنَّ فِي مُنَازَعَتِهِ وَالْخُرُوجِ عَلَيْهِ اسْتِبْدَالَ الْأَمْنِ بِالْخَوْفِ وَلِأَنَّ ذَلِكَ يَحْمِلُ عَلَى هِرَاقِ الدِّمَاءِ وَشَنِّ الْغَارَاتِ وَالْفَسَادِ فِي الْأَرْضِ وَذَلِكَ أَعْظَمُ مِنَ الصَّبْرِ عَلَى جَوْرِهِ وَفِسْقِهِ وَالْأُصُولُ تَشْهَدُ وَالْعَقْلُ وَالدِّينُ أَنَّ أَعْظَمَ الْمَكْرُوهَيْنِ أَوْلَاهُمَا بِالتَّرْكِ. [التمهيد لابن عبد البر ج23/صـ279]

ژباړه: او هر چې حق پرسته خلک، هغه دا أهل السنت دي، نو دوی وايي چې امام کې ښه خبره دا ده چې دا به غوره، د عدل خاوند او نيک خويه وي، که چېرې داسې نه وي نو د ظالمو مشرانو په اطاعت صبر کول د هغوی له نافرمانۍ څخه ډېر غوره ده ځکه هغوی سره شخړه کول او په هغوی خروج کول، امن په ويره بدلول دي او ځکه چې په دې سره د وينو تويېدو، سختو حملو او په ځمکه کې فساد ته لاره هوارېږي. او دا فسادونه د دې اميرانو په ګناه او ظلم له صبر کولو څخه ډېر لوی دي، اصول، عقل او دين په دې ګواه دي چې دوه مصيبتونو کې به لوی پرېښودلی شي.

[وَإِنْ لَمْ يُعْطَوْا مِنْهَا إِذَا هُمْ يَسْخَطُونَ]:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: «تَعِسَ عَبْدُ الدِّينَارِ، وَعَبْدُ الدِّرْهَمِ، وَعَبْدُ الخَمِيصَةِ، إِنْ أُعْطِيَ رَضِيَ، وَإِنْ لَمْ يُعْطَ سَخِطَ، تَعِسَ وَانْتَكَسَ، وَإِذَا شِيكَ فَلاَ انْتَقَشَ. [صحيح البخاري]

ژباړه: تباه شو د دينار او درهم بنده، هغه د شړۍ (څادر) غلام، که چيرې ورته څه ورکړی شي نو خوشحاليږي او که څه ورته ورنکړای شي نو خفه کيږي، هلاک دې شي او سرکوزی دې وي (يا جهنم کې دې پرمخې وي) او چې ازغی يې پښه کې لاړ شي دا دې ترې ونه ويستلی شي.

وګورئ، نبي عليه السلام د داسې کسانو لپاره ښيرې کړې دي.

لمړۍ فايده: دا آيت دليل دی په دې خبره چې څوک د رسول الله صلى الله عليه وسلم په طريقه باندې نيوکه کوي نو دا منافق دی.

دويمه فايده: دا ترې واضحه کيږي چې څوک د مادياتو لپاره د دين کار کوي دا هم منافق دی.

[اوس دې آيت کې الله عزوجل ادب د مال اخستلو ذکر کوي، او ترغيب ورکوي ښايسته اخلاقو ته چې له الله، رسول او اميرانو سره په ادب معامله کوئ.]

وَلَوْ أَنَّهُمْ رَضُوا مَا آتَاهُمُ اللَّهُ وَرَسُولُهُ وَقَالُوا حَسْبُنَا اللَّهُ سَيُؤْتِينَا اللَّهُ مِنْ فَضْلِهِ وَرَسُولُهُ إِنَّا إِلَى اللَّهِ رَاغِبُونَ (59)

ژباړه: او که دوی خوشحاله شوي وي په هغه څه چې ورکړي دي دوی ته الله تعالی او رسول د هغه (صلى الله عليه وسلم) او دوی ويلي وي چې پوره دی مونږ لره الله تعالی، زر ده چې رابه کړي مونږ ته الله تعالی له خپل فضل څخه او رسول (صلى الله عليه وسلم) د هغه يقينا مونږ خاص الله تعالی ته رغبت کونکي يو.

[وَلَوْ أَنَّهُمْ رَضُوا مَا آتَاهُمُ اللَّهُ وَرَسُولُهُ]:

علامه شوکاني وايي: معنا دا ده که چيرې دوی له صدقاتو څخه په هغه برخه راضي شوي وای چې الله ورته ټاکلې کړې ده او رسول الله عليه السلام ورته ورکړې ده.

او دلته د لو جواب حذف شوی دی، چې هغه داسې دی: [لَكَانَ خَيْرًا لَهُمْ]. دا کار به د هغوی لپاره غوره وای، ځکه الله او رسول چې کوم څه ورکوي په هغه کې ددنيا او آخرت خيرونه دي.

[وَقَالُوا حَسْبُنَا اللَّهُ سَيُؤْتِينَا اللَّهُ مِنْ فَضْلِهِ وَرَسُولُهُ]:

که دې منافقانو له ادب څخه کار اخيستی وای، او داسې يې ويلي وای: [كَفَانَا اللَّهُ، سَيُعْطِينَا مِنْ فَضْلِهِ، وَيُعْطِينَا رَسُولُهُ بَعْدَ هَذَا مَا نَرْجُوهُ وَنُؤَمِّلُهُ]. ژباړه: زمونږ لپاره الله عزوجل کافي دی، زر دی چې مونږ ته به له خپل فضل څخه يو څه راکړي، او د هغه رسول به مونږ ته هغه څه راکړي چې مونږ يې اميد ساتو.

[إِنَّا إِلَى اللَّهِ رَاغِبُونَ]:

مونږ الله ته رغبت کونکي يو چې هغه به مونږ ته له خپل فضل څخه هغه څه راکړي چې مونږ ترې تمه لرو.

ځينو خلکو کوښښ کړی او له دې آيت کريمه څخه يې هم د دې مسئلې راويستلو ناکامه هڅه کړې چې نبي عليه السلام هم د الله رب العالمين په څير رزق ورکونکی دی. سره له دې چې دې آيت کريمه کې د مال غنيمت او د زکاتونو او صدقاتو تقسيم ذکر دی. او که د چا ذهن د شرک په ناولتوب ککړ نه وي نو د هغه لپاره دې آيت کې زيات قرائن دي، لکه حسبنا الله، او بيا د [سيؤتينا الله] او [ورسوله] ترمنځ د [من فضله] جدايي راغلی او آخر کې بيا وايي [انا الى الله راغبون]. نو اصل ورکونکی الله عزوجل دی، نبي عليه السلام خو يوازې تقسيمونکی دی، لکه حديث کې راځي: عن مُعَاوِيَةَ، يَقُولُ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: وَإِنَّمَا أَنَا قَاسِمٌ وَاللَّهُ يُعْطِي. صحيح البخاري. ژباړه: زه خو يوازې تقسيمونکی يم او الله ورکونکی دی. نو رسول الله عليه السلام د الله تعالی د حکم پر اساس دغه غنائم او صدقات تقسيمول او د هغه له مرګ څخه وروسته بيا دا د امير المؤمنين دنده ده، او نبي عليه السلام په اړه قرآن کريم کې تکرارا دا موضوع بيان شوې چې زه ځان ته هم نفع او ضرر نشم رسولای، ما سره خزانې نشته، او د تبوک غزا ته د تګ لپاره چې له ځينو صحابه وو سره سورلۍ نه وې نو نبي عليه السلام ورته په واضحه ټکو خپله بې وسي ذکر کړه چې ما سره داسې څه نشته چې تاسې پرې مجهز کړم، او هغوی هم په ژړا بيرته ستنيدل نو له دې وضاحتونو څخه وروسته د ځينو مشرکانو له متشابهاتو څخه د استدلال کوم حيثيت نه پاتې کيږي.

[حافظ ابن کثير وايي: کله چې الله عزوجل د دې جاهلو منافقانو اعتراض په نبي عليه السلام باندې ذکر کړو، او د زکاتو په تقسيم کې يې هغه باندې عيب ولګاوه نو الله تعالی بيان وکړو چې دا د تقسيم اصول او حکم خو الله عزوجل بيان کړي دي، او دا کار يې په خپله کړې دی، بل چاته يې ندی سپارلی او د زکات لپاره يې مصارف ذکر کړل]

إِنَّمَا الصَّدَقَاتُ لِلْفُقَرَاءِ وَالْمَسَاكِينِ وَالْعَامِلِينَ عَلَيْهَا وَالْمُؤَلَّفَةِ قُلُوبُهُمْ وَفِي الرِّقَابِ وَالْغَارِمِينَ وَفِي سَبِيلِ اللَّهِ وَابْنِ السَّبِيلِ فَرِيضَةً مِنَ اللَّهِ وَاللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ (60)

ژباړه: يقينا زکاتونه ورکيدای شي غريبانو او مسکينانو ته او کار کونکو ته چې مقرر وي په هغې باندې او هغه څوک چې خوشحالولی شي زړونه د هغوی او په آزادولو د څټونو کې او قرضدارو ته او په لار د الله تعالی کې او مسافرو ته فرض کړای شوي دي له طرفه د الله تعالی او الله تعالی زيات پوهه او د حکمتونو والا دی.

تفسير:

په دې آيت کريمة کې د زکات مصارف بيان شوي چې دا به چا، چا ته ورکول کيږي؟

بيا حافظ ابن کثير دلته دا مسئله ليکلې ده چې آيا د زکات ورکول دې اته ډوله خلکو ته لازم دي او که نه دې کې چې هر قسم ممکن شو هغه ته ورکول پکار دي، نو دې کې دوه

قوله دي:
لمړی: ټولو ته رسول واجب دي. دا د امام شافعي او يوې ډلې قول دی.
دويم: ټولو ته رسول واجب نه دي بلکې له دې اتو څخه هر يو ته ورکول جائز دي. او دا له امام مالک، سلفو او خلفو څخه د يو ډلې قول دی، چې په دې کې د عمر، حذيفه، ابن عباس، ابو العاليه، سعيد بن جبير، ميمون بن مهران وغيره قول دی.
امام ابن جرير وايي: همدا د اکثره علماؤ قول دی. [تفسير ابن کثير]

[لِلْفُقَرَاءِ وَالْمَسَاكِينِ]:

فقير يې په ټولو ځکه مخکې کړو چې دا له نورو قسمونو زيات محتاج وي.
بيا فقير او مسکين دواړو الفاظو کې قانون دا دی. [اذا اجتمع افترق واذا افتراق اجتمع] چې کله يوځای ذکر شي بيا پکې فرق کيږي او چې کله جدا ذکر شي نو د يو بل په معنا استعماليږي.
فقير چاته وايي او مسکين چاته وايي، په دې اړه ډېر اقوال دي.
لمړی: امام ابو حنيفه وايي چې فقير څه نا څه مال لري او مسکين بيخي هيڅ نه لري.
دويم: جمهور وايي چې فقير هيڅ مال نه لري او مسکين يو څه لري. او دا قول له ابن عباس، مجاهد، حسن بصري، ابن زيد څخه نقل دی. او ابن جرير دا قول غوره کړی دی چې فقير هغه چاته ويل کيږي چې له خلکو څخه سوال نه کوي او مسکين هغه چاته وايي چې خلکو باندې ګرځي راګرځي او سوال کوي.
امام قتاده وايي چې فقير هغه چاته ويل کيږي چې مرض ولري او مسکين هغه چاته وايي چې روغ بدن والا وي. [تفسير ابن کثير]

[وَالْعَامِلِينَ عَلَيْهَا]:

عامل هغه څوک وي چې زکات راټولولو باندې مقرر وي. د اسلامي نظام لخوا په دې مکلف شوی وي، نو د دوی د دې خدمت په بدل کې ورته له زکات څخه يوه برخه ورکول کيږي. او دې کې قانون دا دی چې دا عاملين به د رسول الله عليه السلام له خپلوانو څخه نه وي، حديث د مسلم کې رازي:
عَنْ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ بْنِ رَبِيعَةَ بْنِ الْحَارِثِ: أَنَّهُ انْطَلَقَ هُوَ وَالْفَضْلُ بْنُ عَبَّاسٍ يَسْأَلَانِ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِيَسْتَعْمِلَهُمَا عَلَى الصَّدَقَةِ، فَقَالَ: "إِنَّ الصَّدَقَةَ لَا تَحِلُّ لِمُحَمَّدٍ وَلَا لِآلِ مُحَمَّدٍ، إِنَّمَا هِيَ أَوْسَاخُ النَّاسِ" صحيح مسلم برقم (1072)
ژباړه: عبد المطلب بن ربيعه بن حارث وايي: هغه او فضل بن عباس دواړو له نبي عليه السلام څخه غوښتنه وکړه چې هغوی زکات راټولولو باندې مقرر کړي، نبي عليه السلام ورته وفرمايل: يقينا زکات د محمد صلی الله عليه وسلم او د هغه د خپلوانو لپاره جائز نده، ځکه دا خو د خلکو خيري دي.

[وَالْمُؤَلَّفَةِ قُلُوبُهُمْ]:

دا د زکات دريم مصرف دی، هغه خلک چې په مال ورکولو سره يې زړونه ګټل کيږي. حافظ ابن کثير د دې اقسام هم ذکر کړی دی:
لمړی: ځينې هغه دي چې مال د دې لپاره ورکول کيږي چې اسلام راوړي. لکه نبي عليه السلام صفوان بن أميه ته له حنين غنيمتونو څخه ورکړي وو، هغه حنين ته تلی و خو مشرک و. خپله وايي: نبي عليه السلام ماته مال راکړ، تر دې چې ماته تر ټولو محبوب وګرځيد، وروسته له دې چې مخکې زما په ټولو خلکو کې زيات بد راتلو. لکه امام احمد حديث راوړی:
عَنْ صَفْوَانَ بْنِ أُمَيَّةَ قَالَ: أَعْطَانِي رسول الله صلى الله عليه وسلم يوم حُنَيْنٍ، وَإِنَّهُ لَأَبْغَضُ النَّاسِ إِلَيَّ، فَمَا زَالَ يُعْطِينِي حَتَّى صَارَ وَإِنَّهُ لَأَحَبُّ النَّاسِ إِلَيَّ. [المسند (6/465) وصحيح مسلم برقم (2313) وسنن الترمذي برقم (666)].
ژباړه: ماته رسول الله صلی الله عليه وسلم د حنين په ورځ مال راکړو، او هغه (مخکې) زما لپاره ټولو خلکو کې مبغوض شخص و، نو هغه ماته همداسې مال راکاوه تر دې چې ماته په ټولو خلکو کې محبوب شخص وګرځېد.
دويم: هغه کسان دي چې اسلام يې مضبوط شي، زړه يې کلک شي. لکه نبي عليه السلام د حنين په ورځ نويو مسلمان شويو او د قريشو مشرانو ته سل، سل اوښان ورکول. او دا يې فرمايل: "إِنِّي لَأُعْطِي الرَّجُلَ وَغَيْرُهُ أَحَبُّ إِلَيَّ مِنْهُ، مَخَافَةَ أَنْ يَكُبَّهُ اللَّهُ عَلَى وَجْهِهِ فِي نَارِ جَهَنَّمَ" صحيح البخاري برقم (1478).
ژباړه: يقينا زه يو کس ته مال ورکوم خو له دې څخه هغه بل کس ماته ډير ګران وي، د دې ډار له امله [مال ورکوم] چې الله عزوجل يې پړمخې جهنم ته ګزار نه کړي.
دريم: هغه کسان دي چې د دوی له امله نور خلک اسلام راوړي.
څلورم: هغه کسان دي چې مال ورته دې لپاره ورکول کيږي چې له خپلو نژدې خلکو څخه زکاتونه راټول کړي، يا د دار الاسلام په غاړو کې له مسلمانانو څخه دفاع وکړي. واللَّهُ أَعْلَمُ.
بيا حافظ ابن کثير دا مسئله ذکر کړې چې اسلام ته مائل کسانو ته به له نبي عليه السلام څخه وروسته (د نبی عليه السلام له وفات څخه وروسته) زکات ورکول جائز وي؟
نو په دې کې هم اختلاف شته. عمر، عامر، شعبي او يو ډله د علماؤ وايي: له نبي عليه السلام څخه وروسته به چاته د اسلام طرف ته د ميلان لپاره مال نه ورکول کيږي. ځکه الله عزوجل اسلام او مسلمانانو ته عزت ورکړ، په ښارونو کې يې ورته تمکين ورکړ او د خلکو څټونه يې ورته تابع کړل.
او نور علماء وايي: بلکې دوی ته به بيا هم ورکولی کيږي ځکه نبي عليه السلام د مکې له فتحې او د هوازنو له شکست څخه وروسته هم ورکړي دي، او چې کله داسې حاجت پيښ شي نو زکات ورکول ورته جائز دي.

[وَفِي الرِّقَابِ]:

له دې څخه مراد يا خو د مکاتِب غلام آزادول دي. (هغه غلام چې خپل مولا سره يې خبره کړې وي چې دومره مال به درکړم او ما به آزاد کړې) يا عام غلام آزادول مراد دي. چې احاديثو کې د دې زيات فضائل راغلي دي.
خو نن سبا غلامان نشته چې دا د اسلامي نظام يو امتيازي صفت دی او له لسو زيات لوی، لوی فوائد لري خو د بين الملل په کفري قوانينو ترل شوي طالبان هيڅکله د غلامانو نظام په نوم هم نه يادوي، الحمد لله اسلامي خلافت دغه مفقود نظام د عراق او شام په ساحو کې بيا تجديد کړ. رب دې بيا هغه شان حالات راولي. آمين.
شايد چې د اسيرانو خوشې کول هم دې کې داخل شي او يا هغوی في سبيل الله کې مراد دي.

[وَالْغَارِمِينَ]:

د زکات بل مصرف دا دی چې قرض دارو ته ورکړل شي. بيا د دې هم څو قسمونه دي. لکه هغه قرض دار چې تاوان يې کړی وي، يا د بل چا تاوان يې پر ځان منلی وي، يا ګناهونو کې قرض دار شوی وي او بيا يې توبه ويستلي وي نو هغه ته د دې قرض د اداء کولو لپاره زکات ورکول ترڅو له دې مشکل څخه خلاص شي او بيا غير مشروع لارو ته لاس وانه چوي. دغه رنګ يو کس دی چې د بنديانو د راخوشې کولو لپاره يې قرضونه کړي وي او نور....

[وَفِي سَبِيلِ اللَّهِ]:

د الله د لارې مجاهدينو ته زکات ورکول هم جائز دي. او په دې کې هغه غازيان هم داخليږي چې د مسلمانانو د دولت لخوا ورته رسمي وظيفه او معاش مقرر نه وي. او امام احمد، حسن او اسحاق وايي چې حج هم في سبيل الله کې داخل دی، احاديثو کې ورته في سبيل الله ويل شوي.

[وَابْنِ السَّبِيلِ]:

بل مصرف د زکات مسافر دی، هغه کس چې په يوه علاقه تيريږي خو په سفر کې څه نه لري، حاجت مند وي نو هغه ته دومره زکات ورکول روا دي چې خپل کلي ته پرې ورسيږي ولو که دا کس په خپل کلي کور کې مال ولري.

[فَرِيضَةً مِنَ اللَّهِ]:

يعني داسې حکم دی چې د الله عزوجل په تقدير کې همدا برخې ټاکل شوي دي.

[وَاللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ]:

الله عزوجل په ښکاره او پټو کارونو باندې ډير پوهه دی او د بندګانو په مصالحو باندې ښه خبر دی. کوم حکم چې صادروي هغه کې بې شميره حکمتونه وي.
[دې آيت کريمه کې هم د منافقانو لپاره زجر بيانيږي او د دوی قبيح صفات چې د رسول الله عليه السلام بې ادبي کوي]

وَمِنْهُمُ الَّذِينَ يُؤْذُونَ النَّبِيَّ وَيَقُولُونَ هُوَ أُذُنٌ قُلْ أُذُنُ خَيْرٍ لَكُمْ يُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَيُؤْمِنُ لِلْمُؤْمِنِينَ وَرَحْمَةٌ لِلَّذِينَ آمَنُوا مِنْكُمْ وَالَّذِينَ يُؤْذُونَ رَسُولَ اللَّهِ لَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ (61)

ژباړه: او ځينې له دوی څخه هغه کسان دي چې خفه کوي نبي عليه السلام لره او وايي دوی چې هره خبره منونکی دی، ته اووايه چې دا ستاسې د خير خبرې منونکی دي، ايمان لري په الله تعالی او خبره منې د مؤمنانو او ستاسې څخه د مؤمنانو لپاره رحمت دی ، او هغه کسان چې خفه کوي د الله تعالی رسول (صلی الله عليه وسلم) ، دوی لپاره عذاب دی دردناک.

تفسير:
[وَمِنْهُمُ الَّذِينَ يُؤْذُونَ النَّبِيَّ]:

دې منافقانو به نبي عليه السلام پسې بدې خبرې کولې چې چا به ورته وويل، چپ شئ که نبي عليه السلام خبر شي نو خفه به شي خو دوی ويل نه هغه ته مونږ چل ورکولای شو، د دروغو عذرونه ورته

بیانوو او هغه یې تصدیق کوي. الله عزوجل پرې رد وکړو چې نبي علیه السلام د خیر او نیکې خبرې مني. د مؤمنانو او ثقه خلکو خبرې تاییدوي، ستاسې په شان مجروح او متکلم فیه خلکو خبرې نه قبلوي.

[وَيَقُولُونَ هُوَ أُذُنٌ]:

وایي غوږ دی، نعوذ بالله. یعني څوک چې ورته څه ووایي دا یې تصدیق کوي، مونږ چې هم ورته کوم عذر ووایو هغه یې قبلوي او چې قسم ورته وکړو نو خامخا پرې باور کوي. دا معنا له عبد الله بن عباس، مجاهد او قتاده څخه نقل شوې ده. [تفسیر ابن کثیر]

ځینې خلک د امراءو شرافت څخه ناوړه ګټه اخلي، وایي فلانی امیر صیب، بس هغه سره چې زه یو مجلس وکړم، هغه دوکه کولای شم، ساده سړی دی، خو حقیقت کې هغه امراء د دې کس د لحاظ ساتلو له امله ورته د هغه دروغ نه ښکاره کوي، خو دلته الهي امر اوس همدا دی چې مرضي سړي ته به خپل مرض ښکاره کوې ځکه هغه بیا پروپاګند کوي چې دا خلک په هیڅ نه پوهیږي. او ما دوکه کړل.

[قُلْ أُذُنُ خَيْرٍ لَكُمْ]:

هُوَ أُذُنُ خَيْرٍ، يَعْرِفُ الصَّادِقَ مِنَ الْكَاذِبِ.

یعني هغه علیه السلام د خیر خبرې اوریدونکی دی، ریښتونی او درواغجن پیژني.

[يُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَيُؤْمِنُ لِلْمُؤْمِنِينَ]:

أَيْ: وَيُصَدِّقُ الْمُؤْمِنِينَ. معنا دا چې د مؤمنانو تصدیق او تایید کوي.

[وَرَحْمَةٌ لِلَّذِينَ آمَنُوا مِنْكُمْ وَالَّذِينَ يُؤْذُونَ رَسُولَ اللَّهِ لَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ]: د مؤمنانو لپاره رحمت دی، او کافرانو لپاره حجت دی، ځکه یې د دې منافقانو لپاره دردناک عذاب او وعید بیان کړو.

[اوس دې آیت کریمه کې د منافقانو بل خصلت ذکر دی، چې بندګانو رضا کولو لپاره د درواغو قسمونه کوي]

يَحْلِفُونَ بِاللَّهِ لَكُمْ لِيُرْضُوكُمْ وَاللَّهُ وَرَسُولُهُ أَحَقُّ أَنْ يُرْضُوهُ إِنْ كَانُوا مُؤْمِنِينَ (62)

ژباړه: قسمونه کوي په الله تعالی تاسې ته، دې لپاره چې رضا کړي تاسې لره او الله تعالی او رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د هغه حقدار دی چې دوی رضا کړي هغوی لره، که وي دوی مؤمنان.

تفسیر:
[يَحْلِفُونَ بِاللَّهِ لَكُمْ لِيُرْضُوكُمْ]:

امام قتاده وایي: د دې آیت شان نزول داسې دی چې له منافقانو څخه یو کس وویل: که چیرې د نبي علیه السلام تعلیمات حق وي نو زمونږ مشران خو له خرو څخه هم بدتر دي. دا خبره یو مسلمان واوریده، او ویې ویل: قسم په الله، نبي علیه السلام حق وایي، او ته له خره هم بدتر یې. بیا دغه کس نبي علیه السلام خبر کړو، نبي علیه السلام هغه منافق راوغوښت او تپوس یې وکړو چې ولې دې دا خبرې کړې دي؟ نو هغه لعنت ویل شروع کړل او قسمونه یې پیل کړل. مسلمان دعا وکړه: اې الله ریښتونی کس او دروغجن ښکاره کړې نو الله عزوجل دا آیت نازل کړو. [تفسیر ابن کثیر]

[وَاللَّهُ وَرَسُولُهُ أَحَقُّ أَنْ يُرْضُوهُ إِنْ كَانُوا مُؤْمِنِينَ]:

الله عزوجل فرمایي چې په دروغو قسمونو، د مؤمنان د راضي کولو پر ځای الله او رسول رضا کول پکار و. که چیرې یې تقوا پیدا کړه، سم ایمان یې راوړ او منافقت یې پریښود نو دا د دوی لپاره غوره ده.

او دلته [أن يرضوه] کې یې ضمیر مفرد راوړی دی، یا خو د الله عزوجل تعظیم له امله مفرد راوړل شوی، یا د الله او رسول علیه السلام رضا یو شی دی او یا دلته عبارت داسې دی چې [اللَّهُ أَحَقُّ أَنْ يُرْضُوهُ وَرَسُولُهُ كَذَلِكَ] الله عزوجل زیات حقدار دی چې راضي کړې شي او د هغه رسول هم همدغه شان.

[دې آیت کریمه کې الله عزوجل منافقانو ته تخویف اخروي ورکوي، او د دوی د کړنو عاقبت او انجام بیانوي]

أَلَمْ يَعْلَمُوا أَنَّهُ مَنْ يُحَادِدِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ فَأَنَّ لَهُ نَارَ جَهَنَّمَ خَالِدًا فِيهَا ذَلِكَ الْخِزْيُ الْعَظِيمُ (63)

ژباړه: آیا دوی نه پوهیږي چې یقینا چا چې خلاف وکړ د الله تعالی او د رسول له حدونو څخه نو یقینا ده لره اور د جهنم دی، همیشه به وي دا په هغې کې، دا لوی شرم دی.

تفسیر:
[أَلَمْ يَعْلَمُوا أَنَّهُ مَنْ يُحَادِدِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ]:

معنا دا ده : آیا دوی نه پوهیږي چې چا د الله او رسول مخالفت وکړ، جګړه یې ورسره وکړه، خلاف یې وکړو. دا په یو طرف کې و او الله او رسول علیه السلام په بل طرف کې وي.

بیا حدود دوه قسمه دي. یو هغه چې د ځینو جرمونو په هلکه کتاب او سنت کې بیان شوي، لکه غلا، زنا او شراب څکلو وغیره حدود دي. دویم هر حکم شرعي ته حد ویل کیږي.

[فَأَنَّ لَهُ نَارَ جَهَنَّمَ خَالِدًا فِيهَا ذَلِكَ الْخِزْيُ الْعَظِيمُ]:

دا کس به همېش جهنم کې وي: سپک او عذاب به ورته ورکول کیږي. او دا لویه بدبختي او ستر ذلت دی.

[دې آیت کریمه کې هم د منافقانو یو بل بد صفت ذکر دی چې د مؤمنانو خلاف د استهزاء پټ مجلسونه کوي]

يَحْذَرُ الْمُنَافِقُونَ أَنْ تُنَزَّلَ عَلَيْهِمْ سُورَةٌ تُنَبِّئُهُمْ بِمَا فِي قُلُوبِهِمْ قُلِ اسْتَهْزِئُوا إِنَّ اللَّهَ مُخْرِجٌ مَا تَحْذَرُونَ (64)

ژباړه: ویریږي منافقان چې نازل به شي په مسلمانانو باندې یو سورت چې خبر به کړي دوی، په هغه څه چې په زړونو د منافقانو کې دي، ته ووایه چې ټوکې کوئ تاسې، یقینا الله تعالی ښکاره کوي هغه څه چې تاسې د هغه له ښکاره کیدو څخه ډاریږئ.

تفسیر:
[يَحْذَرُ الْمُنَافِقُونَ أَنْ تُنَزَّلَ عَلَيْهِمْ سُورَةٌ تُنَبِّئُهُمْ بِمَا فِي قُلُوبِهِمْ]:

امام مجاهد وایي:

دا منافقان په پټو مجلسونو کې خبرې کوي. بیا وایي: امید دی چې الله عزوجل به زمونږ دا راز نه افشاء کوي. [تفسیر ابن کثیر]

نن سبا هم مرجفین او د اسلامي نظام بدخواهان د غصې او خفګان له امله د زړه براس په پټو مجلسو کې وباسي، او بیا دا امید ساتي چې زمونږ پروپاګند، وسوسې او دسیسې به له مجاهدینو څخه پټې پاتې شي خو دوی خبر نه وي چې د الله عزوجل په فضل د مجاهدینو استخباراتو ته راپور رسیدلی وي او دوسیه ورته جوړه شوې وي. او په وخت ورسره حساب کیږي.

[قُلِ اسْتَهْزِئُوا إِنَّ اللَّهَ مُخْرِجٌ مَا تَحْذَرُونَ]:

أَيْ: إِنَّ اللَّهَ سَيُنْزِلُ عَلَى رَسُولِهِ مَا يَفْضَحُكُمْ بِهِ، وَيُبَيِّنُ لَهُ أَمْرَكُمْ كَمَا قَالَ: {أَمْ حَسِبَ الَّذِينَ فِي قُلُوبِهِمْ مَرَضٌ أَنْ لَنْ يُخْرِجَ اللَّهُ أَضْغَانَهُمْ * وَلَوْ نَشَاءُ لَأَرَيْنَاكَهُمْ فَلَعَرَفْتَهُمْ بِسِيمَاهُمْ وَلَتَعْرِفَنَّهُمْ فِي لَحْنِ الْقَوْلِ} سورة محمد.

یقینا الله تعالی به په خپل رسول داسې وحیه نازله کړي چې تاسې به وشرموي، او ستاسې حال به ورته بیان کړي. لکه سورة محمد کې فرمایي: آیا هغو کسانو چې په زړونو کښې یې ناروغي ده دا انګیرلې ده چې الله به د هغوی د زړونو کینه ښکاره نکړي؟ که مونږ وغواړو نو مونږ به هغوی تا ته په سترګو دروښیو او د هغوی له څیرو به ته هغوی وپیژنې او د وینا له اسلوب څخه خو به یې ته هرو مرو وپیژنې. الله ستاسې ټولو په عملونو ډیر ښه پوهېږي.

دې منافقانو، مرجفینو او جواسیسو ته دا خطاب شامل دی، چې اسلامي نظام خلاف چې کومې طرحې جوړوئ، رب به یې مؤمنانو ته ښکاره کړي. ځکه امام قتاده وایي: كَانَتْ تُسَمَّى هَذِهِ السُّورَةُ "الْفَاضِحَةُ"، فَاضِحَةُ الْمُنَافِقِينَ. دې سورت ته شرمونکی ویل کیږي یعني د منافقانو شرمونکی سورت. او حافره هم ورته ویل کیږي چې منافقانو زړونه یې کنستلي دي. الله عزوجل ورته فرمایي ټوکې وکړئ، څه چې کولې شئ وکړئ. خو آخري انجام به مو شرم او رسوایي وي.

دې آیت کریمه کې د منافق یوه نښه دا ده چې دا هر وخت ډاریږي، هله داسې ونشي او دا راز مې افشاء نشي، ټول ژوند یې تریخ وي.

نثر اللؤلؤ والمرجان

في سلسلة معرفة الرحيم الرحمان

اووم درس

أحمد الله وأسبّحه بعلوّه وكماله الذي خلق السموات والأرض على مِنواله ونُوِّرَت بنوره وزُيّنتْ بجماله ثم استوى على العرش لائقا بذاته وجلاله ولا يخفى عليه شيئ من أمور العالم وأفعاله وعليم بجميع أحواله وأعلن الفوز لمن امتثل بإنزاله وإرساله وأصلي وأسلّم على رسوله ونبيه محمد وعلى أهل بيته وأصحابه وآله، أمابعد:

محترمو مسلمانو ورورنو او خوېندو!

مخکې د عقيدې په ذکر شوي بحث کې مونږ د لوی الله عز وجل په توفيق سره د الله تبارک وتعالی د ذات په اعتبار سره په مطلق علو باندې د أمة مسلمه د اهل السنة والجماعة اجماع ذکر کړه، اوس په دې "اووم" درس کې په مذکوره دعوې د سليم فطرت او عقل نه دلايل ذکر کوو:

(شمُّ العترة)

(في إثبات فوقية الله بالعقل و الفطرة)

د الله تبارك وتعالی د فوقية عقيده دا هغه جلي او بديهي معلوم حيثيت لري، که بالفرض والتقدير الله تبارك وتعالی له دې ځخه په قران کريم او رسول الله "صلى الله عليه وسلم" په احاديثو کې خبر هم نه وي ورکړيو نو بيا به هم د عقل لرونکو او سليم فطرت والاو په دې کې شک او تردد نه وي کړی، چې الله تبارك وتعالی بره دي. علامه مرعی بن يوسف المقدسی المتوفى هـ١٠٣٣ د فوقية د قائلونو دلايل ذکر کوي او فرمايي:

" واحتجوا أيضا على أنه في جهة العلو بأنه هو الذي طبع الله عليه أهل الفطرة العقلية السليمة من الأولين والآخرين الذين يقولون إنه فوق العالم إذ العلم بذلك فطري عقلي ضروري لا يتوقف على سمع"

ژباړه: او دليل نيولی همدارنګه په جهت د علو (يعنی په اثبات د فوقية د الله) په دې چې بې شکه همدا (فوقية د الله) هغه څه دی، چې الله ورباندې د جوړ فطرت او سليم عقل والا پيدا کړی ديو د اولينو او اخرينو څخه چې هغوی وايي، چې بې شکه الله دعالم نه بره دی ځکه چې په دې باندې علم لرل دا فطري او عقلي هغه ضروري علم دی، چې صرف په سمع موقوف نه دی.

بيا فرمايي:

"قالوا ولم يقو ل قائل يا ألله إلا وجد من قلبه ضرورة بطلب العلو بحيث لا يمكن دفع هذه الضرورة عن القلوب ولا يلتفت الداعي يمنة ولا يسرة"

دوی وايي، چې که داسې نه وي، نو بيا ولې وايو يو ويونکی چې کله هغه يا الله وايي، نو په خپل زړه کې هغه ضرورت مونده کړيو چې هغه د الله د علو (اوچت والي) تقاضا کوي په داسې طريقو چې ممکن نه وي، چې دغه ضرورت له زړه نه دفع کړي او دغه دعا کونکی دغه وخت د الله د ويلو سره ښي او چپ طرف ته هم نه متوجه کيږي (بلکه بره طرف ته يې توجه شي) وګوره أقاويل الثقات فی تأويل الأسماء والصفات ص٨٦.

اوس دا خبر د سمع نه بغير په عقل او فطرت سره څومره ثابت دی، دا هم وګورئ:

اول راځو د عقل نه د دې اثبات ته:

(اول عقل) عقل دا ضد د جهل سفاهة او حماقة دی، په لغت کې منعې ته وايي، د دې وجهې نه چې انسان د دې په وجه د سمي لارې څخه دکږېدو نه رامنع کيږي او يا دغه ډول د دې په وجه د ممنوعه او شنيع کارونو څخه منع کيږي او هم دا يې تقريبا اصطلاحي تعريف هم دی. نو همدا وجه ده، کوم خلک چې هغوی د ضد عناد او ياهم دابا‌ء او أجدادو تقليدونو پسې د حق په مقابل کې په کږه لار روان شوی او سمه لار يې پرېښې و هغوی ته الله تبارک وتعالی فرمايي: أفلا تعقلون"

ژباړه: ايا تاسو عقل نه لرئو وګوره البقره ٤٤ ـ٧٦ ــالأنعام ٣٢ الأعراف ١٦٩ يونس ١٦ هود ٥١ وغېره نور ډېرو مقاماتو کې، نو چې کله عقل کې هم دومره تاثير شته، چې ښه او بد أولی او أدنی پيژني، نو بيا دغه عقل دا هم واجبوي، چې الله تبارک وتعالی ته دې د کمال صفت ثابت شي او د نقص او کمي صفت نه دی پاک وګنل شي او د فوقيت اوعلو بالذات صفت د الله رب کريم باره کې د کمال صفت دی او سفل (ښکته والی) صفت دا د نقص صفت دی، نو معلومه شوه، چې عقل هم د دی عقيدې درونډ هرکلی اواستقبال کوي.

دوهم:

عقل کې الله تبارك وتعالی قوت د ردّ او قبوليت ايښی دی، د حسن او قباحت په معرفة کې پوره لاس لري، لکه څنګه چې مخکې ذکر شوه، نو د الله تبارك وتعالی د ذات باره کې هيڅ کله هم فوقية او علو قبيح او بد نه ګڼي او نه يې مخالفت کوي، بلکې دا عقيده عقل ممدوحه ګڼي او منظوروي يې؛

دوهم: راځو فطرت ته:

فطرت دا نوم د هغه سليم طبيعت خلقة او عادت دی، چې الله تبارك وتعالی پرې انسانان پيدا کړي دي، ځکه خو رسول الله "صلى الله عليه وسلم" فرمايي:

كل مولود يولد على الفطره فأبواه يهودانه او ينصرانه اويمجسانه كَمَثَلِ الْبَهِيمَةِ تُنْتَجُ الْبَهِيمَةَ ، هَلْ تَرَى فِيهَا جَدْعَاءَ "

هر انسان چې پيدا کيږي، نو دا په فطرت سره پيدا کيږي، خو مور او پلار يې بيا دغه يهودي کړي، يا يې نصراني کړي او يا يې مجوسي کړي، لکه په شان د څاروي چې بچی راوړي، نو روغ وي. آيا تاسو په هغې کې وينئ، چې غوږ يې څيري شوی وي؟

صحيح البخاري رقم الحديث ١٣٠٢ کتاب الجنائز. نو معلومه شوه چې فطرت دا سليم طبيعت ته وايي، نو اوس راځو او درب متعال د پاره د فوقيت بالذات اعتقاد منظوري استقبال او هر کلی د فطرت نه هم ثابتوو:

لومړی:

چې کله هم يو انسان د الله نه څه غواړي او يا هم د الله نه ويريږ، نو دغه صورت کې د ده توجه بالقلب والقالب بره(پورته) اسمان طرف ته ګرځی، هيڅکله هم داسې نه کيږي، چې يو کس د الله نه څه غواړي او هغه ته فرياد کوي او دا کس ښي يا چپ طرف او يا لاندې ځمکی ته توجه وکړي، دې متعلق شيخ الاسلام او نورو اهل علمو د محمد طاهر المقدسي نه نقل کړی:

چې يو ځل مجلس کې د ابوالمعاليي الجوينی سره ابو جعفر الهمدانی ناست وو، نو ابو المعالي په ممبر دا خبره کوله:

چې الله د عرش نه مخکې چېرته وو، نو اوس هم هلته دی، يعنې عرش نه يې جواب کولو، چې مقصد يې دا وو، چې الله بره نه دی، نو ابو جعفر الهمدانی ورته وويل:

يا أستاذ دعنا من ذكر العرش - يعني: لأن ذلك إنما جاء في السمع - أخبرنا عن هذه الضرورة التي نجدها في قلوبنا فإنه ما قال عارف قط " يا الله " إلا وجد من قلبه ضرورة تطلب العلو لا تلتفت يمنة ولا يسرة فكيف ندفع هذه الضرورة عن قلوبنا؟ قال: فلطم أبو المعالي على رأسه وقال: حيرني الهمداني

حيرني الهمداني ونزل"

ژباړه: ای استاذ!

بس تېر شه د عرش نه، ځکه دا خو په سمعی دلايلو ثابت شوی، خو مونږ ته له هغه ضرورت نه خبر راکړه، کوم چې مونږ په خپلو زړونو کې مونده کوو او هغه دا چې هيڅکله هم يو الله پيژندونکی دا نه وايي:

چې ای الله!

خو مګر هغه په زړه کې دا ضرورت مونده کوي، چې هغه (الله ته) د علو (فوقيت) طلب کونکی وي، چې نه ښي طرف ته توجه کوي او نه چپ طرف ته او د ده زړه بره توجه کوي، نو مونږ د زړونو نه دغه ضرورت څنګه لرې کړو؟

کله چې ابو المعالی دا واورېده، نو خپل سر يې په څپيړه وواهه او ويې ويل: چی زه همداني حيران کړم، زه همدانی حيران کړم او د ممبر نه راښکته شو. وګوره، مجموع الفتاوی ۴/۴۴.

دوهم:

علو او فوقيت داللـه تبارک وتعالی هغه فطري واجب ضرورت دی، چې که يو انسان ته په دې سمعی دلايل هم نه وي رسېدلي، نو فطرت به يې دی عقيدې ته رهبري او رهنمايي کړی وي، د دې ډېر مثالونه دي، هسې تاسو د يو داسې کس نه پو ښتنه وکړئ، چې هغه حد درجه فاسق بې لمانځه او د شريعت نه مکمل نا خبره وي، خو که ته ورته ووايې، چې الله چېرته دی، نو هغه به ضرور ګوته پاس نيسي، نو معلومه شوه، چې سليم فطرت د دې تقاضا کوي، چې د دې خاوند دې خپل خالق او مالک بره وګڼي.

دې باره کې تاسو ته د وينځې په هغه حديث کې سوچ پکار دی، چې کله هم هغې نه رسول الله پوښتنه کوي چې: (اين الله) الله چرته دی؟ نو هغه ورته د خپل فطرت د تقاضا موافق وايي: (فی السماء) الله په اسمان کې دی.

دريم:

که تاسو د يو ماشوم نه هم پوښتنه وکړئ، چې الله چرته دی، نو هغه به ګوته اسمان ته نيسي او اشاره به کوي، چې الله تعالی بره(پورته) دی، دا دليل دی، چې صفا او پاکيزه فطرت د همدی تقاضا کوي، چې د اسمانونو رب دا په اسمان کې دی، نه په بل کوم ځای کې؛

(سطر النقاط بحل شبهة النفاة)

د دې بحث او وضاحت نه خو معلومه شوه، چې الله تبارك وتعالی د ذات په اعتبار سره بره(پورته) په اسمانونو کې اوسيږي، خو د دې آياتونو سره به څه کوو؟

چې الله تعالی فرمايي:

(1)﴿ وَهُوَ ٱلَّذِى فِى ٱلسَّمَاءِ إِلَـٰهٌ وَفِى ٱلْأَرْضِ إِلَـٰهٌ وَهُوَ ٱلْحَكِيمُ ٱلْعَلِيمُ ﴾ دغه ډول

(2)﴿ يَسْتَخْفُونَ مِنَ ٱلنَّاسِ وَلَا يَسْتَخْفُونَ مِنَ ٱللَّهِ وَهُوَ مَعَهُمْ ﴾

اودايت چې

(3)﴿وَهُوَ مَعَكُمْ أَيْنَ مَا كُنتُمْ وَٱللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ﴾

او دا ايت چې:

(4) ﴿ مَا يَكُونُ مِن نَّجْوَىٰ ثَلَـٰثَةٍ إِلَّا هُوَ رَابِعُهُمْ وَلَا خَمْسَةٍ إِلَّا هُوَ سَادِسُهُمْ وَلَا أَدْنَىٰ مِن ذَٰلِكَ وَلَا أَكْثَرَ إِلَّا هُوَ مَعَهُمْ أَيْنَ مَا كَانُوا﴾

او نور دغه ډول د دې هم معنا آياتونه کوم چې ترې دا معلوميږي، چې الله تبارک وتعالی په هر ځای او مکان کې دی.

د دې شبهې نه دغه څو جوابونه هم ملاحظه کړئ:

لومړی:

د قران په معنی او تفسير کې به د سلفو فهم ته اعتبار وي او سلف په اول اعتبار سره هغه د رسول الله "صلی الله عليه وسلم" صحابه کرام دي او بيا د هغوی تابعين دي، خو دوی ټولو کې د يو نه هم چرته د دې معيت نه دا معنا او تفسير او يا هم کوم داسې مفهوم نه دی نقل، چې هغه په دې دليل شي، چې ګواکې الله تعالی په هرځای او هر مکان کې دی.

دوهم جواب:

دغه ډول داهل السنة والجماعة روستنيو مفسيرينو کې هم د کوم مفسر نه د دې معيت نه معيت بالذات تفسير يا ترجمه او مراد نه دی نقل شوی، بلکې د دې قسم معية نه يې مراد هغه معية فی العلم والاحاطه مراد کړی دی.

وګوره!

تفسير قرطبی تحت الاية ۷۴ لسورة الزخرف والشريعة للآجری ۳/۱۱۰۴ والرد علی الزنادقة والجهمية ص۹۲ـ۹۳ مجموع الفتاوی ۱۱/۲۵۰

دغه ډول د صحابه او مفسرينو نه په دې معنی علامه شيخ الاسلام ابن تيميه علامه ابن القيم علامه ذهبی علامه ابوعمر الطلمنکی علامه بن عبدالبر رحمهم الله اجماع نقل کړې ده.

وګوره!

مجموع الفتاوی ۵/۱۹۳ ـ ۵/۵۱۹ ـ و۱۱/۵۴۹ او التمهيد ۷/۱۳۸ اجتماع الجيوش الاسلاميه ص ۴۴

دريم جواب:

هغه دا ديو چې دلته کوم معيت ذکر دی نو د دې نه معيت فی العلم والاحاطه مراد د يو نه معيت بالذات، ځکه چې که يو کتونکی دې آياتونو باندې غور وکړي، نو معلومه به شي ورته چې د دې نه مراد "معية فی العلم والاحاطة والقدرة" مراد دی، ځکه چې دلته په دې ټولو آياتونو کې د علم ذکر شوی، نو مقصد واضح دی، چې الله تاسو سره ديو خو د علم په اعتبار سره که تاسو هرڅه کوئ او هر څنګه يې کوئ، نو الله تعالی درباندې خبردار دی، علم لري، نو قدرت لري چې تاسو ته ستاسو د اعمالو جزاء او يا سزاء هم درکړي، دغه ډول دا آيت چې: (وهو الذی فی السماء إله وفي الأرض إله)

د دې معنا په صحابه وو کې عمر علی او بن مسعود رضي الله عنهم او محدثينو کې امام احمد او مفسر قتاده رحمهم الله داسې معنا کړې: هو إله يعبد في السماء، وإله يعبد في الأرض" همدا الله معبود دی، چې په اسمان کې يې عبادت کيدی شي او همدا معبود دی، چې په ځمکه کې يې هم عبادت کيدی شي.

وګوره، العرش دامام ذهبی ۱/۱۷۸

(توفيق رب البرية في ذكر اقسام المعية)
بيا دا هم ياد ساتئ، چې دغه معية بالذات دا دوه قسمه دي:

(۱) معية خاصة او د دې نه مراد نصرة حفاظت او تأييد د الله تعالی دی، چې دا نوع معيت يې د مؤمنو او اولياء او مقربو بندګانو سره خاص دی، نو چې کوم آيت او يا حديث کې د الله له طرف نه د معيت دغه کليمه استعمال شوې وي، نو د دې مراد معية خاصه دی، چې د الله مدد، مرسته، حفاظت او عزت ترې نه مراد دی او د دې مثال په دې اياتونو کې دی :

{إذ يقول لصاحبه لا تحزن إن الله معنا}

{إن الله مع الذين اتقوا والذين هم محسنون}

او دغه ډول نور آياتونه چې د دی په څېر دی. وګوره، العرش للذهبی ۱/۱۷۶

(۲) معية عامة او دا دې ته وايي، چې الله تبارک وتعالی د علم او احاطې په اعتبار سره د ټول مخلوق سره دی، هيڅ انس او جن، وچ او لوند له دې نه مستثنی نه دی.

څلورم جواب:

دا دی، کوم چې شيخ الاسلام او امام ذهبی رحمه الله کړی، هغوی فرمايي:"ولفظ المعية قد استعمل في الكتاب والسنة في مواضع واقتضت في كل موضع أمورا لم تقتضها في الموضع الآخر، وذلك بحسب اختلاف دلالتها في كل موضع"

د (معيت) کليمه قران او سنت کې بار بار او ډېرو ځايونو کې استعمال شوې او هرځای کې داسې امور دې چې تقاضا کوي، چې بل ځای کې بيا د دې معنا تقاضا نه کوي.

وګوره العرش ۱/۱۷۴.

دغه ډول وګوره، درءتعارض العقل والنقل ٦/۱۴٦ والحموية ص۵۲۱ .

نو مقصد همدا دی، چې دغه نوع آياتونو کې مراد د معية نه دغه پورته ذکر شوي دوه قسمه معية مراد دي.

پنځم جواب:

دا دی، چې مونږ د مخلوق باره کې ډېر ځلې وينو، چې د هغوی متعلق د معية کلمه استعمال شوېو خو مراد ترې نه معية بالذات نه وي، نو معلومه شوه، چې عربي اسلوب او دنياوي عرف او عادت هم په دې دليل دی، چې هر د معية د کليمې د استعمال نه مراد معية بالذات نه وي مراد.

مثالونه يی دا دي:

امام ابو حنيفه رحمه الله فرمايي:

د دې داسې مثال دی، چې ته يو کس ته وليکې، چې فکر مه کوه، زه درسره يم او حال دا چې ته د هغه نه غايب يې. الأسماء والصفات للبيهقی ص ۴۲۹.

دغه ډول عرب فرمايي:

" مازلنا نسير والقمر" معنا موږ هميشه وو، چې روان وو او سپوږمی زمونږ سره وه، سره له دې چې سپوږمی په اسمان کې ده، دغه ډول خلک دا هم وايي:

چې لمر زمونږ سره دی، ستوري زمونږ سره دی اوسره د دې چې لمر او ستوري دا په اسمان کې دي، نو چې دا مخلوق دې په يو وخت کې د دوی معية اوعلو واقع کيږي او جمع کيږي، نو بيا د خالق باره کې څنګه دا اجتماع محال ګڼل کيږي،

نو د اوو، تر دې ځايه سمعی عقلي او فطري دلايل او شواهد په دې، چې الله تبارک وتعالی د اسمانونو نه بره (پاس) د يو چې دی ته د علو او فوقيت عقيده وايي، نو اوس باذن الله تعالی وتوفيقه راځو او دا ثابتوو، چې الله بره دی، خو د خپل عرش د پاسه دی، نو مؤمن او مسلمان باندې واجب دي، چې دا عقيده ولري، چې زمونږ رب بره(پورته) دی، خو د خپل عرش د پاسه دی، نو د رب د پاره به د فوقية سره سره عرش هم ثابتوو، د کوم تعريف او تفصيل چې لاندی فصل کې راروان دی.

باذن الله تعالی وتوفيقه!

(ترديدالنهج السقيم)
(بإثبات العرش لرب الكريم)

مخکې فصلونو کې تاسو الله تبارك

وتعالى ته د هغه د ذات متعلق د مطلق علو او فوقيت دلائل ملاحظه کړل، اوس په دې باب کې د دغه علو او فوقيت سره د استواء على العرش قيد ذکر کوو، يعنې الله تبارک وتعالى بره دى، خپل عرش لري او په عرش يې استواء کړې ده، اوس يو بنده ته د فوقيت د اعتقاد سره سره دالله عزوجل عرش باندې ايمان لرل او الله ته يې ثابتول څومره ضروري دي!!

راځو او اول دغه ضرورت ذکر کوو:

(وجوب التكفير)
(لمن أنكر عن عرش الرب الكبيروالخبير)

(۱)امام محدّث محمد بن اسحاق بن خزيمه رحمه الله فرمايي من لم يقر أن الله على عرشه، استوى فوق سبع سمواته، بائن من خلقه، فهو كافر يستتاب فإن تاب وإلا ضربت عنقه وألقي على مزبلة لئلا يتأذى برائحته أهل القبلة وأهل الذمة" څوک چې اقرار ونه کړي، په دې چې الله په عرش باندې دى (اوچت) برابر شوى دى، د اوو(۷) اسمانونو د پاسه او جدا دى، د مخلوق نه نو دغه کس کافر دى، د توبې ويستلو طلب به ترې کيدى شي، که توبه يې وويستله، فبها ګني نو څټ به ترې په توره ووهلى شي او په ډېران به وغورځولى شي، د دې د پاره چې د قبلې والا او ذميان ترينه په بد بويې تکليف ونه مومي.

وګوره معرفة علوم الحديث للحاكم ص۸۴ صفة العلو لابن قدامة ۱۲۷ العرش للذهبى ۲/۳۵۵".

(۲) امام ابوحنيفة نعمان بن ثابت المتوفى ۱۵۰ هـ رحمه الله

أبو مطيع الحكم بن عبد الله البلخي فرمايي: "

سألت أبا حنيفة عمن يقول: لا أعرف ربي في السماءأو في الأرض"

ما د ابو حنيفه رحمه الله نه پوښتنه وکړه، د هغه کس په باره کې چې هغه وايي، ماته خپل رب نه دى معلوم، چې په اسمان کې دى، که په ځمکه کى ديو نو (فقال) هغه جواب کې راته وفرمايل:

"من لم يقر أن الله على العرش فقد كفر"

څوک چې دا اقرار نه کوي، چې الله په عرش استوا کړې، نو دا کافر شو.

لأن الله تعالى يقول:

{الرحمن على العرش استوى) وعرشه فوق سبع سموات" الله تعالى فرمايي: رحمن ذات په عرش استوا کړې ده (برابر شوى دى) .

او عرش دهغه د اوو(۷) اسمانونو د پاسه دى فقلت: إنه يقول {على العرش استوى} ، ولكن لايدري العرش في السماء أم في الأرض. فقال: إذا أنكر أنه في السماء فقد كفر"

فرمايي بيا مې ورته وويل، چې که داسې ووايي، چې دا منم چې په عرش يې استوا کړې، خو دا راته معلوم نه دى، چې عرش په اسمان کې (بره) دى که لاندې په ځمکه کې؛

نو امام رحمه الله راته وفرمايل: چې کله دې دا نه مني، چې عرش په اسمان کې (بره) دى، نو بيا هم کافر شو.

وګوره، فقه الأبسط ص۴۹ مجموع الفتاوى ۵/۴۸ وشرح عقيدة الطحا و ية ص ۳۲۲.

(۳)علامه الأصمعى المتوفي ۲۰۵هـ رحمه الله ده. د جهم د ښځې متعلق چې هغې د الله تبارک وتعالى د عرش نه انکار کړى وو وفرمايل:

" هى كافرة بهذه المقالة"

دا په دې وينا سره (چې دعرش نه يى دانکار په وجه کړې وه) کافره شوې ده.

وګوره مجموع الفتاوى ۵/۵۳ اجتماع الجيوش ص۲۲۵.

(۴) وهب بن جرير الأزدى المتوفى ۲۰۶ هـ رحمه الله فرمايي:

ځان وساتئ د جهم د عقيدې نه، ځکه دوى جګړه کوي په دې کې چې وايي په اسمان کې (بره الله او عرش) هيڅ هم نه شته او نه دي، مګر دا د ابليس وسوسه او نه دى دا (اعتقاد) مګر کفر دى، د هغه عبارت داسې دى:

" إياكم ورأي جهم، فإنهم يجادلون أنه ليس في السماء شيء، وما هو إلا من وحي إبليس، وما هو إلا الكفر"

وګوره، خلق افعال العباد للبخارى ص۶ رقم الأثر۶ او صفة العلو لابن قدامه ص۱۱۸ والعرش للذهبى ۲/۲۸۶.

(۵)حرب بن إسماعيل الكرماني المتوفى۲۸۰هـ رحمه الله دا فرمايي "الجهمية أعداء الله، وهم الذين يزعمون أن القرآن مخلوق وأنه لايعرف لله مكان، وليس على عرش ولا كرسي، وهم كفار فاحذروهم" جهميه د الله دښمنان دي او دوى هغه خلک دي، چې دا عقيده لري، چې قران مخلوق دى او دوى وايي د الله ځاى هم نه دى معلوم او نه په عرش او نه په کرسي دى، پس دوى کفار دي، ځانونه ترې نه لرې وساتئ!!!

وګوره العلو دذهبى ص۱۴۳ او العرش ۲/۳۳۶

دا وو تر دې ځايه د يو څو معتمدو علماء او امامانو فتوې، د هغه چا په باره کې چې هغوى الله ته فوقية او ياهم استوا على العرش د منلو او د دې عقيدې لرلو نه انکار کوي، نو هغوى يې په دې کار سره کافر ګرځولي، چې له دې نه معلومه شوه، چې الله ته عرش منل دا فرض او واجب دي، چې انکار يې کفر دى، دې متعلق د امت د نورو امامانو او محديثينو فتوې او اقوال هم شته، چې دغه پنځه پورته ذکر شوي اقوال له دې څخه نمونه او کافي ګڼو، نو مخکې له دې نه چې مونږ رب متعال ته د عرش اثبات د قران سنت او اجماع دامت څخه ثابت کړو، راځو او اول د عرش متعلق نور مبادي اوضروري مباحث ذکر کوو.

الفلاح والرشاد في مسائل الجهاد ۷

اووم درس : صحيح البخاري كتاب الجهاد

الحمد لله رب العالمين والصلاة والسلام على رسوله الأمين وعلى أزواجه وأصحابه ومن تبعهم في إحسان إلى يوم الدين أما بعد:

محترمو مسلمانو ورونو او خويندو!

مخکې د عقيدې په ذکر شوي بحث کې مونږ د لوی الله عزوجل په توفيق سره د الله تبارک د ذات په اعتبار سره په مطلق علو باندې د أمة مسلمه د اهل السنة والجماعة اجماع ذکر کړه، اوس په دې اووم درس کې په مذکوره دعوې د سليم فطرة او عقل نه دلائل ذکر کوو.

محترمو مسلمانانو ورونو او خويندو!

مونږ مخکې درس کې د لوی الله په توفيق سره د الفلاح والرشاد په سلسله واره لړۍ درسونو ښخه په تير شوي درس کې د صحيح البخاري د کتاب الجهاد ښخه د دولسم ۱۲ حديث پورې وضاحت او تفصيل ذکر کړو، اوس د لوی الله متعال په توفيق سره په دې درس کې راځو او ديارلسم ۱۳ حديث شرح او وضاحت شروع کوو.

(حديث ۱۳) [رقم الحديث۲۷۹۵]

قال: وسمعت أنس بن مالك عن النبي صلى الله عليه وسلم أنه قال لروحة في سبيل الله أو غدوة خير من الدنيا وما فيها ولقاب قوس أحدكم من الجنة أو موضع قيد يعني سوطه خير من الدنيا وما فيها ولو أن امرأة من أهل الجنة اطلعت إلى أهل الأرض لأضاءت ما بينهما ولملأته ريحا ولنصيفها على رأسها خير من الدنيا وما فيها.

ژباړه: انس بن مالک د نبي کريم صلى الله عليه وسلم ښخه نقل کول چې بې شکه هغه فرمايل خاماخه يو بيګايي (وتل) په لاره د الله او يا يو صبايي (وتل په هغې کې) غوره دی له دنيا او هغه څه ښخه چې په دې دنيا کې دي. او خاماخه (اندازه د ځای) يو پاټی د ليندۍ د يو کس ستاسې په جنت کې او يا ځای د اندازې يعنې د چابك د هغه غوره دی له دنيا او دنيا کې چې څه دي. او که چيرته يوه ښځه د جنت والاوو ښخه د ځمکې اوسيدونکو ته را ښکاره شي نو د (ځمکې او اسمان) دواړو تر مابين به رڼا کړي او دغه ځای به له خوشبوۍ ښخه ډک کړي، او خاماخه پړونی د هغوی کوم يې چې په سر دي دا غوره (او قيمتی دي) له دنيا او هغه څه نه چې په دنيا کې دي.

[التفكروالمراقبة في ذكر التطبيق والمناسبة]

په دې حديث کې هم د امام بخاري رحمه الله شيخ او استاذ عبدالله بن محمد رحمه الله دی بلکې د دې حديث ټول سند د مخکې حديث سند دی، بيا مناسبة د حديث د ترجمة الباب سره واضح او ښکاره دی او هغه په دې سره چې باب کې د حورو ذکر شوی او دلته يې د دې حورو تذکره او بعضې صفات ذکر کړي چې هغه (ولو أن امرأة من أهل الجنة.....) دی بيا د مخکې حديث سره يې مناسبت په دې طريقې سره دی چې مخکې حديث کې د حور او د هغې صفات معنوي طريقې سره ذکر شوي وو، اوس دلته دې حديث کې لفظي ذکر شو چې دا حديث دې باب کې د مخکې تير شوي حديث تفسير ګڼل کيږي والله أعلم.

(إغاثة المغيث في ذكر شرح الحديث)

ولوأن امرأة ...دې جمله کې اشاره ده دې ته چې که د ادنی صفاتو ښځه هم د جنت والا دنيا ته راښکاره شي دنيا به ټوله رڼا کړي، او ممکن ده چې دلته تنوين د تعظيم لپاره وي نو دا به مقصود وي چې جنت کې د کمو او ادنی صفاتو زنانه نه شته ټولې د اوچت او عالی صفاتو زنانه دي (ولملأته ريحا) دلته ريحا موصوف دی صفت يې محذوف دی يعنې طيبا اومعطرا (ولنصيفها) نصيف هر هغه څه ته وايي چې سر پرې پټيږي، بيا برابره خبره ده هغه پټکی وي که رومال وي که ښادر وي که پړونی خو دلته چونکه د زنانه په حق کې ذکر دی نو له دې نه مراد پړونی دی، او کيدې شي چې د دې نه مراد سرپيچک وي هغه رومال چې بعضې زنانه وربانديې سر تړي او له پړونی يې لاندې راولي، والله أعلم.

[فوائد الحديث]

[۱] جهاد اوچت فضيلت لري چې په دې کې لږ وخت وتل هم جنت واجبوي.

[۲] د جنت لږ نعمت هم د دنيا وما فيها د نعمتونو او لذتونو مقابل کې زيات او بهتر دي.

[۳] جنت کې د نارينه وو پشان زنانه هم داخليږي.

[۴] دجنت ښکلا، حسن او مزې د عقل او تصور په احاطه کې نه راځي، اللهم ارزقناها.

[۵] جنت کې هم زنانه لوپټه ښادر او پړونی
استعمالوي.

-۷ باب تمني الشهادة

باب ثابت دی په بيان د ارزو (خواهش) کولو د شهادت کې.

{حصول الأجروالثواب بتشريح الكلمات مافى الباب} باب تمني الشهادة دا جمله خبر دی او هذا اسم اشاره مبتدا ده. تمنا وايي: ارادة حصول الشيئ. ته نو امام بخاري رحمه الله دلته دې باب کې دا مسأله ثابتول غواړي چې د شهادت تمنا کول جايز دي.

[مطرالرحمة والسحاب]
[في مناسبة ترجمة الباب مع الكتاب]

دا باب د کتاب الجهاد عدد او شمير په اعتبار سره اووم(۷) نمبر باب دی په دې کې امام بخاري رحمه الله دوه احاديث ذکر کوي اول د أبوهريره او دويم د أنس بن مالک رضی الله

عنهما چې مناسبت د ترجمةالباب د كتاب الجهاد سره ښكاره په لفظ د شهادة سره دی، ځکه کتاب د جهاد باره کې دی او شهادت په جهاد سره حاصلیږي نو مناسبة د كتاب د باب سره ثابت شوو والحمد لله رب العالمين.

[حصول السكينة والسعادة بذكرأقسام الشهادة]

اوس که څوک دا سوال وکړي چې شهادت خو بغیر له جهاد نه هم حاصلیږي، ځکه شهادت ډیر أقسام لري، لکه څنګه چې مخکې باب کی د شهداوو د اقسامو نه معلوم شو.

نو (۱) جواب دا دی، چې بې شکه شهادت اقسام لري خو چې کله د شهید او یا هم د شهادت لفظ مطلق ذکر شي نو بیا ترینه شهادت فی سبیل الله مراد وي.

(۲) جواب بل دا چې دا نور شهادتونه دا په حکم د اخرت کې دي، په دنیا کې د شهید احکام پرې نه جاري کیږی ځکه دوی ته به غسل ورکول کیږي کفن به وراغوستل کیږي او جنازه به پرې کیږي. او کوم چې د جهاد په وجه شهادت دی، نو دا شهادت فی الدنیا والاخرة دواړو کې دی، دنیا کې پرې د شهید احکام جاري کیږي، مثلا لکه غسل نه ورکول کفن نه ورکول جنازه وربانديې نه کول وغیره او اخرت کې هم د دوی درجې د نورو قسمونو والا شهیدانو نه غوره، جدا او اوچتې وي. نو دا أفضل او عالي شهادت دی او دلته باب کې د شهادت تمنا، خواهش او ارزو ذکر شوی او دا نه وي مګر د غوره او أفضل شهادت او هغه نه حاصلیږي، مګر د جهاد او قتال په سبب او ذریعه نو معلومه شوه چې مناسبت د باب د كتاب سره بلکل موافق دی.

(۳ جواب) دلته دا خبره هم یاد لرئ چې دلته دریم قسم شهادت او شهید هم شته چې هغه د اخرت په اعتبار سره حکم اخلي، اما د دنیا په اعتبار سره بیا د شهید احکام پرې نه جاري کیږی او دا هغه شهید دی چې زخمي شي او د معرکې له ځایه ژوندی نقل شي بیا ورځ نیمه یا زیات او کم وقت بعد وفات شي نو دنیوي لحاظ سره دا د شهادت د حکم نه لاندې نه راځي ځکه ده ته به غسل او کفن ورکولی شي او جنازه به پرې هم کیدلی شي اما د اخرت په اعتبار سره د شهید په حکم کې دی. د شهیدانو درجې به ورته حاصلیږي، والله أعلم

(حديث ١٤)(رقم الحديث ٢٧٩٦)

أن أبا هريرة -رضي الله عنه- قال: "سمعت النبي -صلى الله عليه وسلم- يقول: والذي نفسي بيده، لولا أن رجالا من المؤمنين لا تطيب أنفسهم أن يتخلفوا عني، ولا أجد ما أحملهم عليه، ما تخلفت عن سرية تغدو في سبيل الله، والذي نفسي بيده لوددت أني أقتل في سبيل الله ثم أحيا، ثم أقتل ثم أحيا، ثم أقتل ثم أحيا، ثم أقتل

ژباړه: بې شکه ابو هریره رضی الله عنه وفرمایل چې ما له نبي کریم صلی الله علیه وسلم څخه اوریدلي چې هغه فرمایل: قسم په هغه ذات چې زما روح یې په لاس کې دی که چیرته نه وې دا خبره چې څه کسان د مؤمنانو ځنې دا نه خوښوي چې دوی دې ځما نه شاته پاتې شي، او نه زه هغه څه مونده کوم چې دوی پرې بار کړم نو زه به د هیڅ هغه لښکر نه چې د الله په لاره کې غزا کوي شاته نه وی پاتې شوي.

اوقسم په هغه ذات چې زما روح د هغه په لاس کې دی زه خاماخه دا خوښوم چې زه دې قتل کړې شم په لاره د الله کې او بیا ژوندی شم بیا قتل شم او بیا ژوندی شم بیا قتل شم او بیا ژوندی شم او بیاقتل شم.

(التفكر والمراقبة فى ذكر التطبيق والمناسبة) دی حدیث کې د امام بخاري رحمه الله شیخ او استاذ هغه حکم بن نافع دی چې کنیه یې ابو الیمان دی چې د توثیق او تعدیل په باب کې د ثقة ثبت په وصف او درجه موصوف دی چې امام بخاري رحمه الله دغه حدیث د ده نه په سند سره له ابو هریره رضی الله عنه نه نقل کوي بیا مناسبت د حدیث د باب سره ښکاره او جلی دی، په (تغزو فى سبيل الله ....)او (ثم أقتل ثم أحيا ...) کلمو سره

(إغاثة المغيث بذكر شرح الحديث)

(والذي نفسي بيده) دا دلیل دې چې د یو موضوع د أهمیت له وجې نه قسم خوړل جایز دي او داسې قسمونه د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه ډیر ثابت دي. علامه ابن القیم رحمه الله په زادالمعاد ١٥٦/١ کې فرمایي: وحلف في أكثر من ثمانين موضعا. ژباړه: رسول الله صلی الله علیه وسلم د اتیا ۸۰ مقاماتو نه په زیاتو کې قسمونه کړي دي، اوس دلته راځو او په دې مقام کې د ید معنا او مفهوم ته نو دلته رسول الله صلی الله علیه وسلم، الله سبحانه وتعالی ته د ید اثبات کړی دی، چې دا د الله سبحانه وتعالی د صفاتو څخه دی، نو راځو دې ته چې د ید معنا وپیژنو چې ید څه ته وایي نو مونږ چې د عربي ژبې لغت ته وکتل نو ید مو په درې معناوو سره وموند.

(اول) ید په معنا د قوة او قدرة سره هم استعمال شوی لکه صحیح مسلم کې د نواس بن سمعان حدیث دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: أن الله يوحي إلى عيسى أني أخرجت عبادا لي لا يد ان لأحد بقتالهم.

ژباړه: الله تعالی به عیسی علیه السلام ته وحې وکړی چې ما خپل داسې بنده ګان راوویستل چې د هیڅ چا ورسره قوة د جنګ نه شته (رقم الحديث ٢٩٣٧) نو دلته ید په معنا د قوة طاقت او قدرت سره استعمال شوی دی.

(دویم) ید په معنا د نعمت هم استعمال شوی چې یو له هغې څخه د عروة بن مسعود قول دی چې قریشو حدیبیه کې رالیږلی وو او هغه ابوبکر رضی الله عنه ته وویل: لولا يد لك عندي لم أجزك بها، لأجبتك"

ژباړه: خبردار که چیرته ماسره ستا نعمت {احسان پیرزوینه) نه وی د کوم چې ما تر اوسه بدله نه ده درکړی، نو ما داسې نه پریښودې خاماخا به مې جواب درکړی وی، نو غرض دا چې دلته ید په معنا د نعمت سره ذکر شوی دی.

(دریم) ید په معنا د واک اختیار ملک او سلطنت سره هم راځي، لکه عرب

وايي: لايد لك عليه او لا سلطان لك عليه.

(څلورم) يد په خپله معنا حقيقي باندې هم ډير استعمال شوى چې هغه (لاس) دى. لكه سورة المائده ٦٤ نمبر ايت كې دي چې {بل يداه مبسوطتان}

او صحيح حديث كې هم دي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي: يد الله ملآى سحاء الليل والنهار أرأيتم ما أنفق مذ خلق السماوات والأرض، فإنه لم يغض ما فيه يمينه (صحيح البخاري كتاب التوحيد)

دغه ډول نبي عليه الصلاة والسلام فرمايي : "يطوي‌الله تعالى السماوات بيمينه والأرض بيده الأخرى(متفق عليه)

قال صلى الله عليه وسلم: "كلتا يديه يمين(صحيح مسلم) نو دې احاديثو كې د يد نه مراد لاس دى چې دا د يد خپله حقيقي معنا ده. خو دلته يوه خبره ياد ساتئ كله يد ذكر كيږي او مراد ترينه نفس الذات د ذواليد وي مثلا قران عظيم الشان كې الله سبحانه وتعالى په سورة الروم ۴۱ نمبر ايت كريمه كې فرمايي: { ظهر الفساد في البر والبحر بما كسبت أيدي الناس} دلته د بماكسبت ايدي الناس معنا ده اي بما كسبوا نو بيا برابره ده چې دا كسب د دوى په لاسونو شوى په ژبو شوى او كه په بدنونو خو دلته محض تعبير د نفس فاعل نه په يد سره شوى دى، نو دلته بحمدلله تعالى خپله هغه اعتراض ختم شو چې كله سياق تقاضا د دې وكړي چې دلته له يد نه مراد معنا حقيقى مراد ده خو دا به په مفرد او تثنيه كې ومنو اما چې جمع راشي نو بيا مونږ ځنګه د دې نه مراد حقيقي معنا واخلو، لكه مثلا د سورة يس دا ايت كريمه چې الله تبارك وتعالى فرمايي: أَوَلَم يَرَوا أَنَّا خَلَقنَا لَهُم مِّمَّا عَمِلَت أَيدِينَا أَنعَٰما فَهُم لَهَا مَٰلِكُون.

نو جواب دا دي چې په هيڅ وجه مونږ دا نه شو ويلى چې الله سبحانه وتعالى څاروى په خپلو لاسونو پيدا كړى دى، بلكه معنا دا ده چې الله سبحانه وتعالى د خپل طرف نه د هغې د پيدايش خبر وركړى چې كه هغه په هره طريقه پيدا كړي وي، نو دا ښكاره فرق شو په مابين د (مما عملت أيدينا) او په ما بين د(لما خلقت بيدي) كې نو د مما عملت ايدينا نه مراد ذات د الله مراد دى، هغه ذات چې لاس لري نو ګويا چې معنا د دې ايت [مما عملت]او د(لماخلقت بيدي)نه دوه لاسونه بغير له ذات نه مراد دي.

اوس دلته سوال راځي چې مونږ به دا فرق له كومې نښې څخه پيژنو چې مثلاً يو ځاى كې د (يد) كلمه ذكر شي او مونږ پوهه شو چې دا حقيقي يا مجازي معنا باندې حمل دى، نو د دې اسان فرق او د معرفت سبب هغه سياق د كلام او قرائن د هغې دي، مثلا يو سړى ووايي(لي يد طولى على هذاالأمر) نو دلته سياق تقاضا د دې كوي چې دلته د يد نه مراد مجازي معنا ده او هغه قوة او قدرت دى ځكه حقيقي معنا دلته ممكنه نه ده.

دغه ډول مخكې حديث د صحيح مسلم كې هم تير شو چې د (لايدان لأحد) كې هم همدا مجازي معنا مراد وه دغه ډول د ابوبكر رضي الله عنه په جواب كې چې عروه كومه جمله ويلي وه چې (لولا يد لك عندي) نو دلته هم سياق متقاضى د دې دى چې دا (يد) دى په معنا د احسان او نعمت باندې شي نه په خپله حقيقي معنا او كه څوك ووايي چې (إن في يدي كذا وكذا) زما په لاس كې دا او دا دي او د عقل له مخه دا محال وي چې دا كوم اشياء چې دا يادوي هغه دا په لاس كې نه شي راخستلى نو دا قرينه او سياق شو چې دلته د يد معنا اختيار، ملك، واك او سلطنت دى، خو چې كله سياق دلالت په دې كاوه چې دغه مجازي معناګاني محال دي نو بيا دې صورت كې د يد حقيقي معنا مراد ده مثلا الله سبحانه وتعالى د يهودو د طعن مقابل كې چې هغوى په الله تعالى لګولى وو چې (يد الله مغلولة) نو الله سبحانه وتعالى جواب كې وفرمايل (بل يداه مبسوطتان ......) دغه ډول رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي "يطوي‌الله تعالى السماوات بيمينه والأرض بيده الأخرى(متفق عليه) دغه ډول بل مقام كې نبي صلى الله عليه وسلم: فرمايي: كلتا يديه يمين(صحيح مسلم) نو دې احاديثو كې سياق د همدې تقاضا كوي چې د يد نه مراد لاس دى چې دا ديد خپله حقيقي معنا ده.

[شفاء الأمراض بدفع الشبهةو الإعتراض]

تاسو وويل چې يد الله سبحانه وتعالى ته په حقيقي معنا سره هم نسبت كيدې شي چې هغه لاس دى نو كه په دې كې فكر وشي نو دا خو د تجسيم اوتشبيه عقيده وجود ته راغله ځكه چې لاس ثابتولو سره الله سبحانه وتعالى ته جسم ثابت شو او بل د دې نه مشابهت لازميږي د مخلوق سره ځكه لكه ځنګه چې مخلوق لاس ته محتاج دى او د دې لاس د ده نه انفصال او جداوالى هم راتللى شي او تاسو الله سبحانه وتعالى ته هم د دې لاس نسبت وكړو نو دا خو عين مشابهت راغى د خالق د مخلوق سره؟

[الجواب بعون الله الوهاب]

اول خو دا قاعده ذهن كې كينول پكار دي چې الله سبحانه وتعالى چې كوم صفات ځان ته او يا هم رسول الله صلى الله عليه وسلم هغه ته ثابت كړي د هغې د اثبات نه تشبيه او تجسيم نه لازميږي. او همدا د اهل السنة والجماعة اتفاقي مسلك او عقيده ده او كه لږ سوچ وكړئ نو د تعطيل عقيده او مرض هم له همدې صورت نه منځ ته راغلى چې د دوى په ګمان د صفاتو د اثبات نه تشبيه لازميږي، لكه ابن القيم رحمه الله فرمايي: ولهذا قال بعض أهل العلم إن كل معطل مشبه ولا يستقيم له التعطيل إلا بعد التشبيه. وګوره الصواعق المرسله ١/٢۴۴ نو چې د چا ذهن كې د مخكې نه د الله رب متعال باره كې د تشبيه او تمثيل خاكه موجوده نه وي، نو هغه هر ګِز د خپل رب باره كې د دغه نوع خرافاتو نه ښكار كيږي، نو معطله دى، يَرى ديته مجبور كړل چې د رب د پاكو او كريمه صفاتو نه يې انكار وكړلو، نو له دې وجې نه علماء فرمايي

چې هر معطل دا اول مشبه وي ځكه چې دا كله هم د الله تبارك وتعالى صفت واوري نو فوراً يې ذهن ته تشبيه راشي او همدا بيا باعث د دې شي چې له ثابت صفاتو انكار ته غاړه كيږدي، او همدا تعطيل بيا د دې سبب شي چې تحريف ته وغزيږي او د الله سبحانه وتعالى د صفاتو په باره كې د الله په كلام او د رسول الله صلى الله عليه وسلم په احاديثو كې تحريفونه كوي مثلاً د يد معنا په قدرت او د استوى معنا په استولى سره كوي، نو اوس كه ته دا وايي چې د يد د اثبات نه تشبيه لازميږي، نو زه له تا پوښتنه كوم؛ ايا ته د الله سبحانه وتعالى دا يوصفت منې كه نه په نورو ورته هم قائل يې نو كه ته وايي چې هيڅ صفت يې نه منم نو دا خو بيا فرعوني او نمرودي تعطيل دى، چې انسان پرې د ملت څخه خارجيږي او كه وايي چې نور يې منم نو بيا پوښتنه كوم چې د[حَيٌّ عليم كلام وغيره] باره كې دې څه عقيده ده الله حي دى كه نه كه وي نو ته ځان ته وګوره فعلاً ته هم حي يې او كه نه؟!

كه يې نو اوس څه جواب كوې دغه ډول الله ته چې علم او كلام ثابتوې نو دا تاته هم ثابت دى، او كه نه نو انكار خو كولى نه شي، له دې چې ته هم دغه صفات لري، او دا تا الله سبحانه وتعالى ته هم ثابت كړل نو اوس ووايه چې دينه تشبيه لازميږي او كه نه نو تا جواب وكړو چې زما حيات، علم اوكلام جدا دى، او د الله تبارك وتعالى جدا، نو همدا قاعده او عقيده د (يد) باره كې هم پيدا كړه چې ستا يد جدا او د الله تعالى جدا دى.

ځكه دا قاعده ياده ساته چې په بعضې صفاتو كې قول كول دا به په ټولو صفاتو كې قول وي، مثلا يو كس له يو صفت نه انكار كوي، نو دا به له ټولو منكر حسابيږي او كه يو صفت منى نو په ده واجب ده چې نور ټول صفات هم قبول كړي.

نو لكه ځنګه چې الله تبارك وتعالى ته سمع، بصر، كلام، حيات وغيره منى نو د يد قدم رِجل نزول الى سماء الدنيا استوى على العرش وغيرها به ټول منى او بيا د صفاتو باره كې دا هم ياد ساته چې ځنګه مونږ د الله سبحانه وتعالى د ذات د كيفية نه خبر نه يوو، او علم يې نه لرو نو دغه شان د هغه د صفاتو كيفيت هم مونږ ته معلوم نه دى، نو له دې نه دا قاعده راووتله چې: القول فى الذات كالقول فى الصفات او د اهل السنة والجماعة همدا عقيده ده چې هغوى ټول صفات د الله تبارك وتعالى منى خو ځنګه چې د هغه د ذات سره لايق او مناسب وي نو هسې د فايدې لپاره دا هم واوره چې الله حيواناتو ته هم لاسونه او پښې وركړي، مثلا ميږي، فيل، اوښ، اسپ، زمرى وغيره ټولو ته نو د دوى لاسونه د يو د بل سره مشابه نه دي چې دا ټول يو مخلوق دى نو د خالق باره كې به ځنګه څوك دا سوچ وكړي چې دا به په صفاتو كې د مخلوق سره يو شان وي، ابن ابى العز الحنفي رحمه الله د عقيدة الطحاويه په شرح كې د ابو حنيفه رحمه الله نه نقل كړى چې هغه وفرمايل: لهُ يد ووجه ونفس، كما ذكر تعالى في القرآن من ذكر اليد والوجه والنفس، فهو له صفة بلا كيف، ولا يقال: إن يده قدرته ونعمته، لأن فيه إبطال الصفة. ژباړه: الله لره لاس، مخ او نفس ثابت دي، لكه ځنګه چې هغه په قران كې د لاس، مخ او نفس باره كې ذكر كړى دى، نو پس دا د هغه تعالى صفت دى بلا كيف او نه به شي ويلى چې لاس نه يې قدرت او يا نعمت مراد دى، ځكه دې كې تكذيب د صفاتو راځي شرح العقيدة ٢٦۴ نو تاته دي معلومه وي چې د الله تبارك وتعالي د صفاتو تشبيه وركول د مخلوق سره دا كفر دى، د دې وجې نه نعيم بن حماد د امام بخاري استاذ فرمايلي: من شبه الله بشيء من خلقه فقد كفر، ژباړه: چا چې الله په څه ځيز كې د مخلوق سره مشابه كړو نو دا يقيني كافر شو، او بيا فرمايي: ومن أنكر ما وصف الله به نفسه فقد كفر.

ژباړه: او چا چې انكار وكړو له هغه صفت څخه چې الله پرې ځان موصوف كړى نو ده يقيني كفر وكړو او بيا فرمايي: وليس فيما وصف الله به نفسه ولا رسوله تشبيه. ژباړه: او د اثبات

د هغــه صفاتــو نــه تشــبيه نــه لازميــږي کــوم چــې اللــه ځانتــه او يــا د هغــه رسـول صلـى اللـه عليـه وسـلم هغـه تـه ثابــت کــړي دي، او دغــه ډول إسحاق بن راهويه رحمــه اللــه فرمايلي: من وصف الله فشبه صفاته بصفات أحد من خلق الله فهو كافر بالله العظيم

ژبــاړه: چــا چــې اللــه پــه يــو صفــت موصــوف کــړو او بيــا يــې دا صفــت پــه مخلــوق کــې د يــو کــس ســره مشــابه کــړو نــو دا کــس پــه اللــه عظيــم ذات کافــر دی، او بيــا فرمايي: علامة جهم وأصحابه، دعواهم على أهل السنة والجماعة ما أولعوا به من الكذب: أنهم مشبهة، بل هم المعطلة. ژبــاړه: د جهــم او د هغــه د ملګــرو علامــه دا ده چــې دوی د دروغــو پــه وجــه پــه اهــل الســنة دا دعــوی کــوي چــې دوی مشــبه دي، بلکــې دوی پــه خپلــه معطلــه (د صفاتــو منکــر) دي وګــوره شرح الطحاويــة ص ۸۵ نــو غــرض لــه دي تفصيــل نــه هغــه همدا دی چــې اللــه تبــارک وتعالــی تــه بــه د هغــه ټــول صفــات ثابتيدلــی شي خــو بــلا تكييــف ولا تمثيــل ولا تشــبيه ولا تعطيــل. او د داســې صفاتــو د اثبــات نــه تشــبيه او تجســيم نــه لازميــږي، وباللــه تعالــی التوفيــق. والحمــد للــه رب العالميــن.

[الشرح والتوضيحات في ذكرقواعدالصفات]

نــو د دې بحــث د مناســبت سره لازم او ضروری ده چــې د اللــه ســبحانه وتعالــی د صفاتــو متعلــق لــږ وضاحــت وکــړو تــر څــو پــه دې بــاب کــې غټ او جلي معلومــات حاصــل کــړو، نــو پــه توفيق د لــوی تبــارک وتعالــی او فضــل پــه دې بانــدې پــه اســانه د پوهيــدو لپــاره يــو څــو قاعــدې ذهــن کــې کينــول پــکار دي. (اولــه قاعــدة) د اللــه ســبحانه وتعالــی چــې څومــره صفــات دي، کــوم چــې هغــه ځانتــه ثابــت کــړي او يــا ورتــه پــه صحيــح احاديثــو کــې د رســول اللــه صلــى اللــه عليــه وســلم څخــه د هغــې إثبات ثابت شــوی، نــو دې بــاره کــې بــه ســتا دا عقيــده وي چــې دا ټــول د کمــال صفــات دي، او هيــڅ نقــص د دې د اثبــات نــه نــه لازميــږي.

مثــلاً لکــه اثبــات د حيــات، علــم، قــدرت، ســمع، بــصر قــوت، حکمــت، رحــم، رحمــت، عــزت، علــو، قهــر، عظمــت امــا چــې لــه کــوم صفــت د اثبــات نــه د کمــال پــه ځــای نقــص لازميــږي نــو هغــه پــه حــق د اللــه ســبحانه وتعالــی کــې ممتنــع او نســبت يــې اللــه ســبحانه وتعالــی تــه کــول د شرک او کفــر پــه زمــره کــې راځي، لکــه مــرګ، جهــل، نســيان، عجــز، عمــې ړوندوالــی، ګــوڼ والــی، فقر، خوب، ســنة(پرکالــی)، خــوف، ولــد، والــد صاحبــة، او دغــه ډول نــور دا قســم صفــات نــو دا اللــه ســبحانه وتعالــی لــه خپــل ځــان نــه او دغــه ډول رســول اللــه صلــى اللــه عليــه وســلم لــه هغــه څخــه نفــې کــړي دي، چــې ګــڼ شــمير اياتونــه او احاديــث پــرې موجــود دي.

خــو دلتــه دا هــم واورئ چــې بعضــې صفــات بيــا داســې هــم شــته چــې پــه يــو اعتبــار سره مــدح او کمــال او پــه بــل اعتبــار سره نقــص او مذمــت وي، نــو د اهــل الســنه والجماعــة پــه داســې صفاتــو کــې دا عقيــده لــري چــې داســې صفــات نــه مطلقــا د اللــه تعالــی پــه حــق کــې جايــز دي، او نــه مطلقــا ممنــوع يعنــې نه بــه ورتــه مطلقــا د دې اثبــات کيــږي او نه بــه تريــنــه مطلقــا نفــی کيدلــی شي نــو پــه هغــه مقــام او حــال کــې چــې دا پــه کمــال دلالــت کــوي، نــو اثبــات يــې جايــز دی او چــې پــه کــوم حــال او مقــام کــې تريــنــه نقــص لازميــږي نــو بيــا بــه ممتنع وي، د دې مثــال لکــه مکــر، خــدع، کيــد، اســتهزاء نــو دا صفــات بــه پــه حــق د اللــه ســبحانه وتعالــی کــې د کمــال وي چــې کلــه دا پــه مقابــل د هغــه چــا کــې وي چــې هغــوی د دې معاملــه کوونکــي وي همــدا وجــه ده چــې پــه قــران کــې دغــه ډول صفــات اللــه ســبحانه وتعالــی مطلــق نــدي ذکــر کــړي، بلکــې دا يــې د مقابلــې او تقابــل پــه صــورت کــې ذکــر کــړي، چــې مثالونــه د قــران پــه ډيــرو اياتونــو کــې موجــود دي، او کــوم چــې د معنــا او مفهــوم پــه اعتبــارسره مطلــق نقــص دی، او پــه هيــڅ وقــت د اوقاتــو کــې پــه کمــال بانــدې دلالــت نــه کــوي نــو دا مطلقــا پــه حــق د اللــه ســبحانه وتعالــی کــې ممنــوع دي، لکــه د مثــال پــه طــور د اللــه ســبحانه وتعالــی دا کلام کريــم دی چــې فرمايــي: ((وإن يريدوا خيانتك فقد خانوا الله من قبل فأمكن منهم والله عليم حكيم)) نــو دلتــه وګــورئ اللــه ســبحانه وتعالــی د دوی د خيانــت مقابــل کــې ځانتــه د خيانــت صفــت ذکــر نــه کــړو وجــه دا ده چــې خيانــت وايــې (الإخــلاف وعــدم الوفــاء) تــه دغــه ډول خيانــت وايــي (خدعــة فــی مقــام الإئتــمان) تــه او دا نــه دی مګــر مطلــق نقــص او ذم نــو لهــذا د دې اثبــات پــه حــق د ســبحانه وتعالــی کــې ممنــوع او حــرام دی.

(دويمــه قاعــده) او هغــه دا ده چــې د اللــه رب کريــم د اســماءوو پــه مقابــل کــې د هغــه تبــارک وتعالــی د صفاتــو بــاب او لــرئ خــورا زياتــه پراخــه او غزيــدلي ده. ځکــه چــې د اللــه ســبحانه وتعالــی يــو نــوم هــم داســې نــه شــته مګــر دا چــې دغــه نــوم پــه يــوه معنــا دلالــت کــوي، او دغــه معنــا نــه وي مګــر صفــت د اللــه تبــارک وتعالــی مثــلاً: قديــر دا د هغــه تبــارک وتعالــی لــه نومونــو څخــه دی، خــو معنــا يــې ده قــدرت لرونکــی. دغــه ډول کريــم، رحيــم، عظيــم ،منــان وغيــره ټــول نومونــه او بعضــې د دې صفاتــو هغــه دلالــت کــوي پــه افعالــو د اللــه تعالــی او د افعالــو د اللــه تــه پــه هيــڅ زور او طاقــت سره شــمار او د

هغې احاطه نه شي کيدلی، او بل دا هم ذهن کې کينوئ، کوم چې د الله سبحانه وتعالی صفات دي نو هغې نه الله سبحانه وتعالی ته نوم نه شو اخذ کولی چې اوس يو سړی راولګي او ووايي چې د الله تبارک وتعالی د نوم نه د هغه صفت اخذ کيږي نو له دې صفت څخه دې هم نوم اخذ کړی شي، نو ستا به تيار دا قانون په ذهن کې موجود وي چې باب د صفاتو دا واسع او پراخه دی، په نسبت د باب د اسماءوو نو له دې څخه همدا قانون په لاس راغی چې مونږ به صفات د الله سبحانه وتعالی هغه ته داسې ثابتوؤ او هغه به پرې داسې موصوف کوو لکه څنګه چې هغه خپله خپل ځان په دې صفت موصوف کړی، او يا هم ورته رسول الله صلی الله عليه دغه صفت ثابت کړی وی. نو مونږ ته جايز نه دي چې اوس راولګوو او د صفاتو نه ورته اسمونه اخذ کړو مثلاً الله سبحانه وتعالی ځانته مجيئ امساک اتيان اخذ بطش استهزاء مخادعه وغيرها صفات ثابت کړي دي.

او يو کس تري نه الله تبارک وتعالی ته نوم اخذ کړي او د جاء فعلي صفت څخه چې مجيئة دي(جائی) او د يمسك السموات نه (ممسك) او د يستهزئ نه (مستهزئ) او د اخذ ربك نه(آخذ) او له يخادعهم څخه (مخادع) او له يريدالله څخه (مريد) او له بطش ربک لشديد څخه (باطش) وغيره نومونه جوړ کړي، نو دا به غلط او ناجايز وي.

نو خلاصه د دويمې قاعدې هغه دا شوه چې باب د صفاتو د الله هغه ده باب د اسماؤو څخه واسع او پراخه دی بل دا چې مونږ د هر نوم د الله تعالی نه د هغه صفت اخذ کوې شو، خو د صفت څخه يې نوم نه شو اخذ کولی.

(دريمه قاعده) او هغه دا چې د الله سبحانه وتعالی ټول صفات دا په دوه قسمه تقسيميږي

(اول) ثبوتي

(دويم) سلبي

نو {١} ثبوتي صفات دا هغه صفات دي، چې الله سبحانه وتعالی خپل ځانته په خپل کتاب قرآن کې ثابت کړي وي، او يا هم ورته رسول الله صلی الله عليه وسلم ثابت کړي وي نو دا ټول د کمال صفات دي، په هيڅ وقت د اوقاتو کې له دې څخه نقص او کمی نه لازميږي لکه حيات، علم، قدرت حکمت، استواء علی العرش، نزول الی سماء الدنيا وجه يدين عينين انامل اصابع رجل ساق قدم وغيره نو د دې صفاتو اثبات به حقيقةً الله سبحانه وتعالی ته کيدای شي په داسې انداز او اعتقاد چې څنګه د هغه د شان سره لائق او مناسب وي بغير له دې چې کيفية، تشبيه، او تمثيل يې ذکر کړی شي او يا يې تعطيل وکړی شي،

{٢} سلبی صفات او دا هغه صفات دی، چې الله تبارک وتعالی د خپل ځان نه په قران او يا د هغه رسول د هغه نه احاديثو کې نفي کړی وي، نو دا ټول په ټوله د نقص او عيب صفات دي، په هيڅ وقت او هيڅ صورت کې الله ته نه شي ثابتيدلی مثلاً: لکه نسيان، جهل، غفلت، مرګ، خوب، پرکالي، عجز، ستړی والی، وغيرها خو بيا دا هم ياد لرئ چې دلته دغه نفي هم محض مجرده نفی نه ده بلکې دا نفي شامل ده، ثبوت د کمال ضد خپل ته نو د دغه صفاتو دغه نفې به په حق تعالی کې کمال ته شامله وي، ځکه داسې نفې چې هغه کې عدم قابليت د محل وي، نو داسې نفې کمال ته نه شامليږي، مثال يې دا دی، چې يو سړی ووايي: دا ديوال ظلم نه کوي، نو دغه نفې مجرده نفې ده، نو دا کمال نه دی، ځکه هغه محل د دې نه دی چې نسبت ورته ده څه شوی دی، نو د الله تبارک وتعالی د سلبي صفاتو نفې هغه د هغه کمال ته شامله ده مثلا { وتوکل علی الحي الذي لا يموت} نو دلته د لايموت په جملې سره سلبي صفت الله تبارك وتعالی له ځان نه نفی کړی دی، خو دغه نفې محض مجرده نفې نه ده، بلکې عظيم کمال ته شامله ده، او هغه آبدي ژوند دی، دغه ډول {ولا يظلم ربك أحدا} نفی د ظلم شامله ده، کمال عدل د الله تعالی ته.

(څلورمه قاعده) بل دا قاعده او اصل هم ياد لرئ چې ثبوتي صفات د الله تبارک وتعالی د سلبي صفاتو په مقابل کې ډير زيات دي، او بل دا ثبوتي صفات بذاتها ټول په ټوله د مدح او کمال صفات دی.

(پنځمه قاعده) پنځمه قاعده هغه دا ده: چې ثبوتی صفات د الله سبحانه وتعالی دا بيا په دوه قسمه دی

(١) ذاتي

(٢) فعلي

ذاتي هغه صفات دي چې هغه هميشه وي او الله هميشه په هغې موصوف وي، لکه علم، قدرة، حکمة، عظمة، سمع، بصر، علو، عزة، او فعلي صفات بيا دا هغه دي چې د الله تبارک وتعالی د مشيئة سره متعلق وي که خوښه يې وشي، کوي يې که خوښه يې شي نه يې کوي، د دې مثال: لکه استوی علی العرش دا رنګه د دنيا اسمان ته نزول غضب رضاء خو دلته بيا بل قسم صفات دي چې مشترک دي په منځ د فعلي او ذاتي صفاتو کې: لکه کلام چې دغه که په اعتبار د اصل سره واخلی نو ذاتي صفت دی، ځکه الله تبارک وتعالی هميشه کلام کوونکی دی، خو که د خبرو د باعث به اعتبار سره بيا دا فعلي صفت دی، ځکه دغه تکلم کول دا په مشيئة د الله تعالی پورې متعلق دی، نو چې کله يې خوښه وشي او څنګه يې وشي کلام کوي نو دلته دا وضاحت هم پکار دی، چې وشي، چې هر صفت د الله تبارک وتعالی چې په مشيئة پورې معلق وي، نو دا د حکمت تابع وی، دغه حکمت کله معلوم وی مونږ ته او کله نامعلوم خو مونږ ته جازم يقين پکار دی په دې چې مونږ په دې بايد يقين ولرو، چې حکمت په کې خامخا موجود دی او دغه حکمت خاص الله تبارک وتعالی ته معلوم دی.

(شپږمه قاعده) د الله سبحانه وتعالی د صفاتو د اثبات ترڅنګ به د دوه خطرناکو موقفونو څخه ځان ساتی

(١) تمثيل

(٢)تکييف،

اوس راځو د دې نه ځان خبرولو ته چې تمثيل او تکييف څه ته وايي: نو تمثيل دا د اثبات کوونکي هغه اعتقاد دی، چې د دې صفت په باره کې يې کوی چې دغه صفت کوم چې د الله ته ثابت کړی دا مخلوق ته هم ثابتوي، او دا اعتقاد د سمعی يعنې نقلي او عقلي دواړو دلايلو څخه ممنوع او باطل دی، نقل چې پرې رد کوي،مثلاً: الله تبارک وتعالی فرمايی(ليس کمثله شی) دغه ډول (أفمن يخلق کمن لايخلق أفلا تذکرون) دغه ډول (هل تعلم له سميا) دغه ډول (ولم يکن له کفو أحد) او کوم چې عقل دی نو تقريبا د درې وجو څخه پرې رد کوي.

(اول) لکه څنګه چې د خالق او مخلوق د ذات تر منځه تباين يقيني او ضروري دی. نو دا مستلزم دی فرق او تباين ته د صفاتو تر منځه ځکه د هر موصوف صفت د هغه سره موافق وی، نه زيات او کم مونږ چې مخلوقاتو ته ګورو، نو دا خبره پکې بديهي مخې ته راځي چې د دوی د ذواتو په فرق سره د دوی صفات فرق لري: مثلاً لکه اوښ او مېږی چې سره له دې نه دواړه حادث او ممکن کې داخل دي، خو د دې باوجود د ميږي لاس او پښه د اوښ د لاس او پښې نه ډيره وړه او مختلفه ده چې بلکل د هغې نه جدا ده، نو چې د مخلوق د صفاتو دغه جلی او ښکاره تباين درجه کې دی، نو خالق د مخلوق نه په صفاتو کې ډير اعلی او قوي او اعظم دی.

(دويم) څنګه کېدی شي چې قوي ذات چې د ناقص مخلوق خالق وي او دا ناقص مخلوق دې بيا د قوي او قيوم خالق سره په صفاتو کې برابر شي ځکه تشبيه د کامل او قوي د ناقص او ضعيف سره دغه قوي ضعيف کوي او کامل ناقص کوي او هيڅ عقل د دې په جواز قايل نه وي.

(دريم) مونږ بار بار په مخلوقاتو کې دا حس کوو چې ډير ځله په دوی کې په اسماؤ کې اشتراک خو اتفاقي وي خو کيفيت او حقيقت يې مکمل مختلف وي لکه د انسان لاس د فيل د لاس په شان نه وي او نه د ده قوت د اوښ پشانتې وي ګنې نومونو کې خو يو شان دي ګوره د انسان لاس ته هم لاس ويل کيږي او د فيل لاس ته هم لاس او د انسان قوت ته هم قوت ويل کيږي او د اوښ قوت ته هم قوت، خو حقيقت او کيفيت يې جدا دی نو چې مخلوق په صفاتو کې مشابهت نلري نو خالق باره کې دا تصور څنګه ومنلی شي؟ نو له دې نه دا قاعده مخې ته راغله چې تش په نوم کې اتفاق مستلزم نه دی په حقيقت کې اتفاق لره او تشبيه هم د تمثيل غونډې ده خو کله پکې فرق هم کيدی شي او هغه دا چې تمثيل دا برابروالی وي په ټولو صفاتو کې او تشبيه دا برابروالی وي په اکثرو صفاتو کې خو که د قران الفاظو ته وکتل شي، نو چې د تشبيه پر ځای تمثيل وويل شي اولیٰ به وي د دې ايت په وجه چې (لَيْسَ كَمِثْلِهِ شَىْءٌ) او کوم چې تکييف دی نو دا ديته وايي چې اثبات کوونکی د صفت دا عقيده وساتي چې دغه کوم صفت چې الله تبارك وتعالی ته ثابتوي دا داسې داسې صفت دی او هغې کيفيت ذکر کړي بغير له دې چې مماثل يې ذکر کړي.

([[اومه قاعده]]) هغه دا ده چې د الله تبارک وتعالی صفات توقيفي دي عقل ته پکې هيڅ مجال نه شته نو له دې وجې نه مونږ نه شو کولی چې د خپل طرف نه الله تبارک وتعالی ته يو صفت ذکر کړو مګر هغه چې کتاب او سنت يې په اثبات دلالت کوي.

امام أحمد رحمه الله تعالی: فرمايي (لا يوصف الله إلا بما وصف به نفسه، أو وصفه به رسوله صلى الله عليه وسلم، لا يتجاوز القرآن والحديث) الله تبارک وتعالی نه شي موصوف کيدلی مګر په هغه صفت چې الله پرې ځان او يا هم د هغه رسول پرې هغه موصوف کړی وي د کتاب او سنت نه په دې کې نه شي تيريدلی او بيا علماء فرمايي دلالت د کتاب او سنت په اثبات د صفاتو کې په درې وجو سره دی.

(اول) تصريح په صفت شوې وي پکې لکه عزة قوة رحمة وجه ساق يدين و غيرها.

(دويم) دغه صفت تضمني طريقې

سره د اسم نه ثابتیږي پکې لکه قدیر، غفور، رحیم، رحمان، سمیع، بصیر وغیره چې دا شامل دی قدرت مغفرت، رحم، سمع او بصر ته.

(دریم) چې اثبات د صفت پکې په تصریح د فعل سره وي لکه استواء علی العرش ـ النزول الی سماء الدنیا تر دې ځایه دغه اوه قواعد ذکر شول چې په باب د صفاتو کې مهم او ضروري دي چې زده کړی شي والله الموفق و هو المستعان والحمد لله رب العالمین.

نو اوس دلته حدیث ته راځو او دا معنا زده کوو چې دلته (والذی نفسی بیده) کې (د یَد) نه کومه معنی مراد ده نو د سیاق نه معلومه ده چې دلته د یَد نه مراد قدرت، ملک او سلطنت دی یعني قسم په هغه ذات د چا په واک قدرت او اختیار کې چې زما نفس (روح) دی رسول الله صلی الله علیه وسلم ته د وحې په ذریعه معلومه وه چې دا به د بل د لاسه نه قتل کیږي نو بیا د تمنا څه معنی ده جواب علماوو دا کړی دی چې د خیر او فضیلت تمنا کول دا وقوع لره مستلزم نه ده یعني چې یو کار نه واقع کیږي نو د هغې تمنا ممنوع نه ده بلکه دلته رسول الله صلی الله علیه وسلم د جهاد د فضیلت او د هغې طرف ته تحریض ورکولو کې مبالغه کړې ده.

[فوائد الحدیث]

[١]قسم خوړل بغیر له ضرورت نه هم جایز دي او په ضرورت کې هم.

[٢]قسم به خاص او صرف په الله او د هغه په صفاتو خوړل کیږي.

[٣] صحابه کرام د رسول الله صلی الله علیه وسلم شدید اتباع کوونکي وو.

[٤] صحابه به جهاد نه پاتې کیدل د غم او مصیبت مترادف ګڼل.

[٥] امیر او مشر ته پکار دي چې د ملګرو لحاظ او دل جویي وکړي.

[٦]قتل(شهادت) فی سبیل الله اوچت او عظیم منقبت دی.

(حدیث ١٥)(رقم الحدیث ٢٧٩٧)

عن أنس بن مالك -رضي الله عنه- قال:خطب النبي -صلى الله عليه وسلم- فقال: أخذ الراية زيد فأصيب، ثم أخذها جعفر فأصيب ثم أخذها عبد الله بن رواحة فأصيب، ثم أخذها خالد بن الوليد عن غير إمرة ففتح له. وقال: ما يسرنا أنهم عندنا". قال أيوب: أو قال: "ما يسرهم أنهم عندنا، وعيناه تذرفان .

(ژباړه) د انس بن مالک رضی الله عنه څخه روایت دی فرمایي نبی کریم صلی الله علیه وسلم خطبه ولوستله پس ویی فرمایل: زید جنډه واخستله نو هغه قتل کړی شو بیا جعفر واخستله پس هغه(هم) قتل کړی شو بیا (له هغه روسته) عبدالله بن رواحه واخستله پس هغه(هم) قتل کړی شو بیا (له دوی وروسته) خالد بن ولید بغیر د امر نه واخستله نو فتح ورکړې شوه هغه ته ویي فرمایل او نه خوشحالوي مونږ لره دا چې دوی (دلته) زمونږ سره وي او ایوب السَّختیانی فرمایي (په خپل روایت کې) او یا نبی صلی الله علیه وسلم داسې وفرمایل دوی لره نه خوشحالوي دا خبره چې دوی له مونږ سره وي او (دې ویلو سره یې) له سترګو اوښکې بهیدلې.

[التفکر والمراقبة فی ذکر التطیق و المناسبة]

دې حدیث کې د امام بخاري رحمه الله استاذ او شیخ هغه یوسف بن یعقوب الصفار الکوفی دی، چې د تعدیل او توثیق په باب کې د ثقة په درجه موصوف راوی دی، چې له ده څخه امام بخاري رحمه الله دغه حدیث په سند باندې د انس بن مالک رضی الله عنه څخه نقل کړی دی، یاد دی وي چې صحیح البخاري کې د ده نه بل روایت نه دی نقل شوی. بیا د حدیث مناسبت د ترجمة الباب سره هغه په دې جملو کې دی چې (ما یسرنا انهم عندنا) او یا دا چې(مایسرهم انهم عندنا) ځکه دې دواړو کې اشاره ده تمنا او خوشحالي کول په شهادت، او مناسبت یې د مخکې حدیث سره سره هم ښکاره دی چې هغه موافقت کول دي په معنی د تمنا د شهادت کې، والله اعلم.

(إغاثة المغیث بذکر شرح الحدیث)

(خطب النبی ....) شارحین لیکی چې دا خطبه رسول الله صلی الله علیه وسلم هله ولوستله چې په اتم ٨ هجري جماد الاولی کې یې موتة ته لښکر په قیادت د زید بن ثابت رضی الله عنه کې ولیږه، او ورته ویي فرمایل چې که زید شهید شو نو امیر مو جعفر بن ابی طالب دی، او که هغه هم شهید شو نو امیر مو عبد الله بن رواحه دی نو چې د کفارو سره جنګ شروع شو، نو زید رضی الله عنه شهید شو، نو بیا جعفر رضي الله عنه بیرغ واخیسته نو هغه هم شهید شو، نو بیا ورپسې عبدالله بن رواحه بیرغ واخیسته او هغه بیا هم په دې جنګ کې شهید شو، نو له هغې نه بعد دغه بیرغ د مشرۍ د جنګ خالد بن ولید واخیست، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم په خطبه کې وفرمایل(ثم اخذها خالد بن الولید) بیا له دوی نه بعد دا خالد بن ولید واخیسته (عن غیرامرة) یعنې بغیر د امر او مشورې نه یې دا کار وکړو، ځکه دې کې مصلحت د اسلام او مسلمانانو وو (ففتح له) دا د مجهول صیغه ده یعنې فتحه ورکړلی شوه. (مایسرنا أنهم عندنا) دې کې اعجاز د نبوت د نبي صلی الله علیه وسلم دی چې د وحې په ذریعه خبر ورکړل شوی، چې الله هغوی ته کوم کرامتونه ورکړی د هغې په وجه دوی زمونږ سره اوسیدل اوس مونږ نه خوشحالوی، بیا دلته د راوی ایوب السختیانی نه شک شوی چې یا د دې پر ځای نبي صلی الله علیه وسلم داسې وفرمایل: (مایسرهم أنهم عندنا) اوس دوی نه خوشحالوي دا چې مونږ سره واوسیږي د وجې د هغه سعادت او کرامت نه چې دوی عندالله مشاهده کړی دی، (وعیناه تذرفان) دا جمله حالیه ده یعنې دغه خبرې یې کولی په داسې حال کې چې دواړو سترګو د نبي صلی الله علیه وسلم اوښکې تویولی (عینا) تثنیه د عین ده په ډیرو معناګانو کې مشترک لفظ دی. دلته ترې مراد سترګې دي نون د اضافت له وجې نه پکې ساقط شوی(تذرفان)په معنا د (تسیلان) بهیدلو ته وایي دا د ثلاثی مجرد د سمع او فتح دواړو بابونو څخه راځي.

[فوائد الحدیث]

[١] حدیث دلیل دی په ریښتنوالی د رسالت د نبی صلی الله علیه وسلم.

[٢]لښکر کې امیر ټاکل سنت دی.

[٣] چې کله ضرورت وي او مصلت د اسلام او مسلمانانو پکې وي نو بیا مشرۍ ته بغیر د مشورې او امر نه مخکې کیدل جایز دي.

[٤] فتوحات د الله سبحانه وتعالی اختیار کې دي دا د انبیاؤ او صحابه وو اختیار کې نه دي.

[٥] شهیدان عندالله د اوچت کرامت او میلمستا حقدار دي.

[٦] د ملګرو په غم او مصیبت خفګان پکار دی اګر که عندالله هغوی ته د دې غم او مصیبت په وجه عظیمې بدلې هم ورکول کیږي.

[٧]په غم او مصیبت د مړو اوښکو ژړا بغیر له جزعو فزعو نه جایز ده.

باب فضل من يصرع في سبيل الله فمات فهو منهم

وقول الله عز وجل : {ومن يخرج من بيته مهاجرا إلى الله ورسوله ثم يدركه الموت فقد وقع أجره على الله} وقع وجب.

باب ثابت دی په فضیلت د هغه چا کې چې د الله په لار کې له سورلۍ نه وغورځیږي او مړ شي نو دا له دوی (یعنی له مجاهدینو او شهیدانو) څخه شوو او په دې باندې دلیل هغه د الله عزوجل دا قول دی چې فرمایي: او څوک چې ووت (په لاره د الله کې) د خپل کور څخه په داسې حال کې چې هجرت کوونکی وو، الله او د هغه د رسول طرف ته او بیا مرګ ده لره راګیر که نو یقیني د ده اجر (د جهاد او شهادت) هغه په الله باندې واجب شو.

امام بخاري رحمه الله فرمایي: د وقع معنا وجب ده

(حصول الأجروالثواب)
(بتشریح الکلمات مافی ترجمة الباب)

دلته (باب) لفظ کې دوه قسمه اعراب احتمال لري یا خو دا خبر دی مبتدا یې محذوفه یعنې هذا باب نو په دې اعتبار سره به بیا کلمه د (باب) نکره وي او یا دا معرفه دی په اضافة سر (فضل) ته نو بیا به باب مرفوع معرفه مضاف او فضل به مجرور مضاف الیه وي او په اوله توجیه به (فضل) مرفوع وي، او اضافت به یې د (من) کلمې ته شوی وي، (من) بیا عام دی که نر وي او که ښځه امیر وي که مأمور نو په دې دعوې باندې امام بخاري رحمه الله دغه د سورت النساء ١٠٠ نمبر ایت په دلیل کې راوړی دغه ډول په (یدرکه الموت)کې مرګ عام دی که قتل وی د دشمن د لاسه او که خپله له سورلۍ یا بل کوم ځای نه راوغورځیږي، او یا په هره طریقه چې د ده روح ووځي نو اجر یې په الله تبارک وتعالی دی، بیا په ایت کې امام بخاري رحمه الله د (فقد وقع) کې د (وقع) تفسیر او معنا په (وجب) سره کوي فرمایي: (وقع وجب) خو بعضو نسخو کې دغه الفاظ غورځیدلي دي، والله اعلم.

(مطر الرحمة والسحاب)
(فی ذکر مناسبة الباب مع الکتاب)

دا باب د کتاب الجهاد د ابوابو د عدد او شمیر په حساب سره اتم(٨) نمبر باب دی.

په دې کې امام بخاري رحمه الله یو حدیث د انس بن مالک چې هغه د خپلې خاله ام حرام بنت ملحان نه ذکر کوي راوړی دی.

دا حدیث په دریم باب کې زمونږ د شرحې په حساب سره په (٧) نمبر او د عمومي روایاتو په اعتبار سره په رقم الحدیث (٢٧٨٨)کې تیر شوی دی. بیا مناسبت د باب د کتاب سره په اثبات د فضیلت د لارې د الله دی، چې دا دلیل دی په فضیلت د جهاد چې بې غیر له قتل نه مرګ په کې هم شهادت حسابیږي، والحمد لله رب العالمین.

(حدیث١٦)(رقم الحدیث٢٧٩٨)

عن أنس بن مالك عن خالته أم حرام بنت ملحان قالت: "نام النبي -صلى الله عليه وسلم- يوما قريبا مني، ثم استيقظ يتبسم

, فقلت: ما أضحكك؟ قال: أناس من أمتي عرضوا على يركبون هذا البحر الأخضر كالملوك على الأسرة، قالت: فادع الله أن يجعلني منهم , فدعا لها. ثم نام الثانية، ففعل مثلها، فقالت: مثل قولها، فأجابها مثلها، فقالت: ادع الله أن يجعلني منهم، فقال: أنت من الأولين. فخرجت مع زوجها عبادة بن الصامت غازيا أول ما ركب المسلمون البحر مع معاوية، فلما انصرفوا من غزوتهم قافلين فنزلوا الشأم فقربت إليها دابة لتركبها فصرعتها فماتت“.

ژباړه: انس بن مالک رضی الله عنه د خپلې خاله ام حرام رضی الله عنها نه روايت نقل کوي چې هغه فرمايي: نبی صلی الله علیه وسلم زمونږ کره نزدې ويده شو، بيا را پاڅيده چې تبسم خندا يې کوله ما ورته وفرمايل څه شي خندوي تا لره، نو نبي صلی الله علیه وسلم وفرمايل: څه کسان وو زما د امت نه ماته په خوب کې راپيش کړی شول چې هغوی به په دې شين بحر کې د جهاد لپاره سورېږي لکه بادشاهان چې په تختونو ناست وي. ام حرام فرمايي ما ورته وويل د الله نه دعا وغواړه چې ما هم له دې جملې څخه وګرځوي نو هغه ورته د دې دعا وکړه بيا دوباره ويده شو، بيا يې همداسې وکړل نو دې د اول غونډې قيصه وکړه چې هغه يې خبر قبوله کړه نو دې ورته وويل چې الله نه دعا وغواړه چې ما له همدې جملې څخه وګرځوي نو نبي صلی الله علیه وسلم ورته وفرمايل: ته به په دې کې له لومړنيو څخه يې نو دا د خپل خاوند عبادة سره (په دې غزوة) کې ووتله په اوله هغه حمله کې چې مسلمانان پکې د معاويه رضی الله عنه په مشرۍ کيې پورې وتل نو چې کله له غزا څخه واپس شول نو شام علاقې کې ديره شول نو بيا چې کله دې ته سورلۍ د سوريدو لپاره رانزدې شوه نو دا ترينه راوغورځيده او وفات شوه.

(التفكر والمناسبة)
(فی ذکر التطبيق والمناسبة)

دې حديث کې د امام بخاري رحمه الله شيخ او استاذ هغه عبدالله بن يوسف التينسی رحمه الله دی چې د توثيق او تعديل په باب کې د ثقة متقن او بلکې د أثبت الناس فی المؤطاء په صفت سره يادېږي، چې دغه حديث ترينه امام بخاري رحمه الله په سند سره له انس بن مالک رضی الله عنه څخه نقل کوي، بيا دغه حديث د کتاب الجهاد په دريم (۳) نمبر باب کې چې په باب الدعاء بالجهاد والشهادة للرجال والنساء په نوم دی هغې کې تيرشوی دی، چې د الفاظو شرحه او جمله فوايد يې هلته ذکر شوي دي، والحمد لله رب العالمين.


عن عمرو بن عبسة أنه قال للنبي صلى الله عليه وسلم:
وبأي شيء أرسلك ؟ قال : " أرسلني بصلة الأرحام ،
وكسر الأوثان ، وأن يوحد الله لا يشرك به شيء".
رواه مسلم (832)
مؤسسة العزائم
الإعلامية

امریکا د یو کال
په تیریدو لا هم
خپل زخمونه څټي
لا اله الا الله
الله
رسول
محمد

طالب مرتدین د موجوده ذلت ، غلامۍ او ارتداد کندې ته په یو دم نه دي پرېوتي ، بلکې ددوی د مشرانو په روزنه او د کشرانو په ذهنیت سازۍ یې کلونه ، کلونه د نړۍ استخباراتو د اې ایس اې په وساطت کار کړې دي ، کله چې د امریکا په مشرۍ د نړۍ کفار مطمین شول چې نور نو طالب اوس هر قسم استعمالیدای شي نو یې ورته په تر ټولو ستره استخباراتي هډه قطر کې دفتر پرانیست دغه دفتر ته یې د اې ایس اې په روزنتونونو کې روزل شوي مشران څه له همغه پیله ور انتقال کړل او کله چې په خراسان ولایت کې امریکا د امریکا لاس پوځي مرتد جمهوري نظام ، پاځونوالو ، د ایران او روس په تجهزاتو او روزنو د امارت په صف کې د طالب په نامه او جامه شیعه روافضو او په مختلفو نورو بڼو د اې ایس آې مهار شویو طالب ملیشو د اسلامي دولت په مقابل کې ماتې وخوړه او په هر ډګر کې د ذلت او رسوایي سره مخ شول نو امریکا خپله توجو طالب مرتدینو ته زیاته کړه د اې ایس آې سره په همغږۍ یې دا پریکړه وکړه چې باید د اسلامي دولت مقابلې ته طالب مرتدین نور مستقیما صحنې ته روباسي ځکه یې نو همدغه د قطر دفتر ته یې د حالاتو د غوښتنو په اساس د براډلي په شمول ډیرې طالب مشران وروسته ور انتقال کړل،د قطر په ساحلونو او عصري هوټلونو او د عیاشۍ په پټو او ښکاره مرکزونو کې یې طالب مشران پوره بلیک میل او دماغونه یې له ایمان ، حیا ، غیرت ، مروت او نورو ګڼو ارزښتونو څخه ورووینځل ترڅو هر قسم معاملې ته په اسانه غاړه کیږدي ، په طالبانو د امریکآیي قطر د (دوحې) هوا ډیره خه راغله ، ځکه چې د هر څه مصارف یې امریکا ورکول هم یې په همغه مهال له عیاشیو او خرمستیو ډک ژوند درلود او هم د راتلونکې پروژې د تکمیل په خاطر ورته د کابل د ګدۍ د سپارلو په سر معامله روانه وه ، کله چې امریکا پوهه شوه چې طالب اوس مکمل ددوی د لاس غرګۍ دي او چې کومه خوا یې غورځوي غورځولې یې شي نو یې د ټول افغانستان واک او ځواک ډیر زر ورحواله کړ ، که څه هم امریکا او طالب مرتدینو کوشش وکړ چې د واک او ځواک داسې په درست شکل د انتقال په ډرامه کې طالب جنګیالي د فاتحانو رول ولوبوي او خلکو ته دا تمثیل کړي چې دوی ګوندې په زور په

افغانستان واکمن شول او د یوې میاشتې څخه په لنډه موده کې په لکونو د تیر مرتد نظام نظامیان او ددوی امکانات او تجهزیات ورته د ددوی د زور په پایله کې تسلیم شول .

خو داسې نه ده، په دې روانو ډرامو او معاملو اوس ماشومان هم پوهیږي چې اصلي کیسه څه وه او ده ، خو خبره مې دا کوله کله چې د امریکا په تر ټول ستره استخباراتي هډه کې د نړۍ کفارو او طواغیتو سره د اسلامي خلافت په خلاف او مقابلې لپاره د کابل ګدۍ ته د رسیدو په بدل کې طالب مرتدین نړۍ سره د دوستۍ او هغوۍ ته د تسلیمۍ د تړون په لړ کې له یوې میاشتې څخه په کمه موده کې په ټول افغانستان واکمن کړای شول ،چې بیا یې مشران سره له ږیرو او پګړیو د امریکا له استخباراتي هډې قطر څخه د امریکایي قطر په یوه نظامي الوتکه کې کندهار ته را انتقال شول .

او کشران یې په ورسپارل شویو امریکایي ټانکونو سپاره پرته له کوم ډز ډوزه کابل ته ورداخل کړای شول .

کله چې د کابل له ګدۍ د امریکا په لاس نسب شوي د تیر جمهوریت ربوټان لرې شول او پرې نوي ربوټان نسب کړای شول .
نو سم له واره نویو مرتدو ملیشو طالب مرتدینو په ورسپارل شویو امریکایي ټوپکو د خپلو امریکایي بادارانو امنیت ونیوه ، د همغه ټوپکو

چې مخکې د جمهوریت د عسکرو په لاس کې و، اوس یې په ماشو کې د امارت عسکرو ګوتې اچولې وې، خو بزیې پرې نه کاوه، بلکې همداسې ګوته په ماشه یې د امریکایي درنده ګانو ساتنه کوله.

ټول په همدې کوشش کې و چې امریکایان خپل هغه کارونه چې همدا مهال ورته ټاکل شوې و د طالب ملیشو په مرسته په شریکه ترسره کړي، چې هغه دیو بل شوم پلان په خاطر چې په اینده کې به تطبیق کړای شي، د تیر مرتد جمهوري نظام د مرتدو وزیرانو، څارنوالانو، قاضیانو، وکیلانو، د مشرانو او کشرانو نظامیانو، جاسوسانو، د مختلفو کفري او استخباراتي موسیساتو د کارمندانو، همجنس بازانو او نورو ډول، ډول مرتدینو او طواغیتو په شمول په زرګونو د اسلام دښمنان او د لکونو بې ګنا انسانانو قاتلان امریکا او نورو کفري هیوادونو ته انتقالول و، په داسې حال کې چې د انتقال د دې پروسې امنیت هم طالب مرتدینو نیولې و، چې په همدغه مهال د اسلامي خلافت یو اتل استشهادي ددوی ټولو مخونه او پوزې په خاورو خړې کړې.

هو!

پوره یو کال وړاندې په همدې ورځ د اګست په ۲٦ نیټه.

هو بالکل همدا ورځ وه دادې اوس یې یو کال وروسته هم امریکا خپل زخمونه څټي او ویر کوي.

په همدې ورځ د اسلامي دولت سرشیندونکي د خرپ، ترپ د ډلګیو زمري په دې وتوانیدل چې د باګرام له زندانه تازه اذاد شوې زمرې عبدالرحمان لوګرې د طالب مرتدینو له ټولو تالاشیو تیر کړي او د امریکایانو، د تیر طاغوتي او مرتد حکومت د ګډوله زرګونو مرتدینو او طالب مشرکینو منځ ته یې ورسوي، لله الحمد عبدالرحمان لوګرې د امریکایي درنده ګانو په پنځه میترې کې چې طالب ملیشې یې هم ورسره وې او نور د تیر نظام په زرګونو حشرات هم موجود و خپل تر ټولو درونند بارودي واسکټ ته چاودنه ورکړه چې د لوې الله په فضل په دغه برید کې د سلګونو

طالب ملیشو او ددوی د تره د زامنو د تیر جمهوریت د ډول ډول مرتدینو په شمول د دیرش تنه امریکایي درنده ګانو وینې په شریکه یو ځای وبهیدلې او ټول ډیرې، ډیرې یو ځای دلی، دلی شول.

دغه اتلوال برید د امریکا او ددوی د نویو عسکرو طالب مرتدینو غاښونه وبریښول، طالب ښځونک ویاند سمدستي په دې کوشش کې شو چې په سر ور اوختې لمن په ځان راخوره کړي نویې په ډیره سپین سترګې وژل شوې امریکایان او په سلګونو ددوی طالب مرتدین او د تیر نظام ګډوله حشرات ملکیان وګڼل.

خو کله یې چې د بادارو امریکایانو ګڼو جسدونو ته خپل مشر بادار بایډن په ژړا وکوت نو بیا لکه باران وهلې پیشو په کومه سوړه ننوت.

دا اتلوال برید د امریکا او ددوی د نویو عسکرو په غرور او باټو یو کلک ګذار و او امریکایان له همغه وخته په دې وپوهیدل چې نوې ناڅکې یې هم ددوی امن نه شي ساتلې.

له دې برید راوروسته یو څو ورځې د اسلامي دولت د خرپ، ترپ زمري د ځانګړې تکتیک له مخې خاموش و او خپل ښکاریې تر عقابي نظرونو لاندې و، دا خاموشي طالب مرتدو ویاندویانو د اسلامي دولت په نابودی تعبیر کړه او په ډیره سپین سترګی به یې د انجونو سره په ناز دانه خنداګانو په تلویزونونو کې په دې تکراري خبرو شخوند واهه چې اسلامي دولت د تیر حکومت پروژه ده او د هغوی د تللو سره نور ختم شو، بریدونه نه شي کولاې..

همدا خبرې لا ددې ناڅکو په خولو کې وې چې د اسلامي دولت د سرښندونکو غازیانو له لورې د مسلسلو او سختو بریدونو یوه طوفاني څپه راپورته شوه، د طالب مرتدینو سترګې له حیرته وازې پاتې شوې.

له همغه پیله یې د هر برید په پاې کې همدا یوه خبره کوی چې داعش نور ختم دې او د برید توانایي نه لري.

خو که موږ یوازې د تیر اګست له ۲٦ نیټې راوروسته د اسلامي دولت د بې شمیره بریدونو توضیحات وړاندې کړو نو دا به ددې مجلې له برداشته بهر وي.

لله الحمد د اسلامي دولت زمري په دې وتوانیدل چې د همدوی د یو کال واکمنۍ پرمهال په سلګونو بریدونه وکړي، نه یوازې دا چې ددی بریدونو په نوعیت او تکتیکونو کې پرمختګونه راغلل، بلکې د خرپ، ترپ ددې مرګونې جګړې لمبې د خراسان په لر، بر کې خورې شوې، ددې خونړیو بریدونو لمبې د ننګرهار له تودې غیږې راپورته شوې چې په لسګونو چاودنو، کمینونو، تررونو او ډول، ډول

بریدونو د طالب ملیشو په سلګونو مرتدین د جهنم د لمبو خوراک شول ، دا لړۍ دومره تونده شوه ، چې په رڼا ورځ طالب مرتدینو د ښار په داخل کې خپلې ټوپکې په څادرونو کې پټې ګرځولې او خبره تر دې ورسیده چې د اسلامي دولت ښاري زمري طالب عسکر سره له اسلحو ژوندي پورته کول او بیا یې ذبحه کوي.

د کنړ درې او سردرې هم د اسلامي دولت دغازي زمرو د تودو معرکو شاهداني دي ، په څوکې کې د بابړو د غټ بیز په شمول د طالب مرتدینو په ګڼو پوستو او چک پاینټونو له بریدونو رانیولې ددوی په واسطو د چاودنو ، په دوی د کمینونو د وهلو ، ددوی په خپلو کورونو کې د وژلو، په هره لار او هر دیار کې یې د ترورونو دا لړۍ لا اوس هم خه تونده روانه ده ، د کفري نړۍ د استخباراتي دستګا د تیر په څېر د همغسې فعالیت په موجودیت کې د طالب مرتدینو د پرلاپسې د مخنیوي د هڅو باوجود د کابل په زړه کې د ډول ، ډول بریدونو تسلسل او دوامداره خونړۍ لړۍ د طالبانو او دددوې د کافرو بادارانو له سترګو خوبونه تښتولي .

ژباړه: د دغې آیات ظاهري مطلب دغه دی، که چېرې په یو مجلس کې استهزا کیږي او یو څوک دلته ناست وي بغیر د اکراه نه او هغوی هم خپله خبره نه بدلوي، نو دغه کس هم کافر او مرتد دی، د هغوی په شان، اګر که د هغوی غوندې عمل نه کوي، خو رضایت په کفر باندې کفر دی، او علماء د دغې آیاتونو څخه دغه مسله بیانوي، که څوک په یو ګناه راضي وي، نو دغه هم د ګنکهار شخص غوندې دی، اګر کهووایي، چې دغه ګناه زه په زړه بده ګڼم، نو د اسلام دین ظاهر ته ګوري، څوک چې د استهزاء مجلسونو کې کیني، نو حکم یی د کافر دی.

مونږه وایو: د هغه چا کفر او ارتداد خو لا ښه واضحه دی، چې په خپل اختیار سره طاغوتي احزابو ته مشروعیت ورکوي او یا د جمهوریت یا امارت څخه رسمیت طلب کوي، په نسبت د هغه خلکو چې د استهزاء په مجلس کې کیني.

په حدیث کې په دې امر راغلی، چې باید د ګناهونو مخنیوی وشي.

له عبدللّه بن مسعود (رضي الله عنه) څخه روایت دی، چې رسول اللّه (صل الله علیه والسلم) وفرمایل:

(مَا مِنْ نبيٍّ بعثَهُ اللّه فِى أُمّةٍ قَبْلِي إلاَّ كَانَ لهُ مِنْ أُمَّتِهِ حواريُّون وأَصْحَابٌ يَأْخذونَ بسُنَّتِهِ وَيَقْتَدُونَ بأمْرِهِ، ثُمَّ إنَّهَا تَخْلُفُ مِنْ بَعْدِهِمْ خُلُوفٌ يَقُلُونَ مَالاَ يَفْعَلُونَ، وَيَفْعَلونَ مَالاَ يُؤْمَرُونَ، فَمَنْ جاهدَهُمْ بِيَدِهِ فَهُوَ مُؤمِن، ومَنْ جاهدَهُمْ بِقَلْبِهِ فَهُوَ مُؤْمِن، وَمَنْ جاهدَهُمْ بِلِسَانِهِ فَهُوَ مُؤمِن، وَلَيْسَ وراء ذَلكَ مِنَ الإيْمانِ حَبَّةُ خَرْدلٍ.) رواه مسلم.

ژباړه: (له ما څخه د مخه چې الله تعالی کوم نبي هم رالیږلی، نو د هغه په أمت کې د هغه یو شمیر حوارین او ملګري داسې خلک وو، کومو به چې د هغه په سنتو باندې عمل کاوه او د هغه په حکم پسې به یې اقتداء کوله، بیا وروسته داسې خلک پیدا شول داسې خبرې یې کولې، چې دوی پرې عمل نه کاوه او داسې کارونه یې کول چې هغوی ته یې حکم نه وو شوی، نو که هر چا له هغوی سره په زړه سره جهاد وکړ دا مؤمن دی او چا چې له هغوی سره په ژبه جهاد وکړ دا هم مؤمن دی، او له دې وروسته د خرد دانې برابر هم د ایمان درجه نشته.)

په دغه حدیث کې په واضح ډول د ګناهونو په مخنیوي امر راغلی دی.

شیخ الاسلام فرمایلي دي:

تغیر المنکر یکون تارة بالقلب، وتارة باللسان، وتارة بالید، فأما القلب فیجب بکل حال, إذ لا ضرر في فعله, ومن لم یفعله فلیس هو بمؤمن.

ژباړه: د ګناهونو مخنیوی کله په زړه سره وي، کله په لاس سره وي، کله په ژبې سره وي، مګر په زړه سره باید ګناه هر وخت بده وګڼل شي،ځکه په دې کې هیڅ ضرر نشته دی، او که څوک دغه کار ونکړي نو هغه مومن نه دی.

ژباړه: د ابن مسعود نه د ژوندیو مړو باره کې پوښتنه وشوه، چې دا څوک دي؟

جواب یې ورکړ: هغه خلک دي ، چې نه نیک اعمال کوي او نه د

منکراتــو مخنيــوي کــوي.

او ســيد قطب رحمه الله په طريقة الدعوة فی ظلال القران کې وايي: مجـرد الاعـتراف بشرعية او وضـع او حكم مـن صنـع غير اللـه هـو بذاته خـروج مـن دائرة الاسلام، فا الاسلام هـو توحيد الدينونـة لـه دون سـواه. [52/2]

ژباړه: اعتراف او مشروعيت ورکول يـو نـوی حکم دی، چـې پـه اسلام کې نشته دی، د اسلام د دين څخه خروج او ارتداد دی، او واقعي اسلام هغه دی، چې بنده ګان بايد په مکمل ډول يواځې خپل عبادت او ديـنداري اللـه تـه وکـړي.

نـو د دغـې اصل منل پـه دې دلالت کـوي، چـې هغـه مرتدو حزبونـه تـه بـه ازادي ورکـوي، کـوم چې د ټولنې او خلکو پـه زيان دي، دوی بيا پـه ټولنـه کـې فساد او کفر تـه لمن وهـي، پـه دی اساس دغـه اصل د شريعت سره پـه ښکاره دښمني ده.

ثالثاً:

د جمهوريت د دغـې اصل منل کـوم چې د احزابو آزادي بيانوي دا پـه دی دلالت کـوي، چې هغـوی تـه بايد اجازه ورکول شي، تر څـو پـه ټولنه کې فساد، کفر او فتنی ايجادي کـړي، چې دغـه کړنې د اسلام سره پـه ټکر کـې دي.

پـه لاندې حديث کې غور وکړئ!

مَثلُ القائمِ علَى حدودِ اللَّهِ ، والمُدْهِنِ فيها ، كمَثلِ قومٍ استَهَموا علَى سفينةٍ في البحرِ فأصابَ بعضُهُم أعلاها ، وأصابَ بعضُهُم أسفلَها ، فكانَ الَّذينَ في أسفلِها يصعدونَ فيستَقونَ الماءَ فيصبُّونَ علَى الَّذينَ في أعلاها فقالَ الَّذينَ في أعلاها : لا ندعُكُم تصعَدونَ فتؤذونَنا ، فقالَ الَّذينَ في أسفلِها : فإنَّا نثقُبُها في أسفلِها فنستَقي ، فإن أخذوا علَى أيديهِم فمنَعوهُم نجَوا جميعًا وإن ترَكوهُم غرِقوا جميعًا.

ژباړه: مثال د هغه چا چې د الله په حدودو ولاړ دي او د هغه چاچې دغه حدود ماتوي، په شان د يو قوم دی، چې په کيښتی کې په دوو طبقو کې ناست وي، يو طبقه لاندې او بله طبقه پورته ناسته وي، نو لاندې خلک ځان سره دغه وروايي: چې موږ به څه د پورتنيو خلکو څخه اوبه را اخلو او هغوی به تکليف کوو، راځئ چې دلته يو سوری وکړو، که چيرې پورتنيو دوی پريښودل دغه کار ته نو کيښتی به ټوله غرقه شي.

هو ! هغه خلک چې لاندې طبقه کې دي، هغه زموږ د زماني جاهله خلک دي، د ديموکراسۍ او امارت حاميان دي، دوی په ځای د دې چې له بره طبقې خلکو څخه اوبه ترلاسه کړي، غواړي چې ورسره خلک په خپل هوا، هوس، شهوت او کفر سره له تندې څخه وژغوري، خو دوی په دې نه پوهيږي، چې دوی ټوله د عالمي امت بيړۍ چپه کوي .

جمهوري نظام په ټولې بې احترامۍ سره دغه وايي: احزاب آزاد دي او پرېږده يې چې دغه احزاب په کفر او شرک سره اسلامي ټولنه تباه او برباده کړي او د آزادۍ په بنياد د دغې کړنو مخه څوک په جمهوريت کې نه شي نيولی.

په داسي حال کې چې رسول الله (ﷺ) په واضح ډول سره وايي: که چيرې پورتني خلک لانديني خلک پريږدي، چې کيښتی سوری کړي، نو ټول به غرق شي، او که چيرې هغوی(پورتني) خلک، د لانديني خلک منعه کړي، نو ټول به بچ شي.

په دغه حديث کې دې ته اشاره ده: چې مجاهدين بايد د جمهوريت او د امارتي بې عقلانو د طرفدارانو په وړاندې کلک درېځ ونيسي، ځکه دغه ملعون خلک نه نصيحت ته غوږ نيسي او نه پرې تأثير کوي او دوی غواړي، چې د اسلامي أمت په دغه روانه کيښتی کې سوری وکړي او غرقه يې کړي، دوی بايد منعه شي او که منع نشو سزا يې وژل دي.

هو په خراسان کې اوس حماري مرتدينو د ملعون جمهوريت ځای نيولی دی ، دوی اوس د هر ډول کفر حاميان دي، دوی اوس د ټولو کفارو سره د خلافت په مقابله کې ترون کړی، دوی روافضو، هندوانو او ټولو کفارو ته امن ورکړی دی، دوی د دې زماني بې شرمه مرتدين دي او نږدې ده، چې دوی به د خلافت د مجاهدينو په مبارکو لاسونو ذبحه شي. بـأذن الله!

الله تعالی فرمايلي دي:

{فَلْيَحْذَرِ الَّذِينَ يُخَالِفُونَ عَنْ أَمْرِهِ أَن تُصِيبَهُمْ فِتْنَةٌ أَوْ يُصِيبَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ}[سُورَةُ النُّورِ : 63]

(د پيغمبر(صلی الله عليه وسلم) له حُکم څخه سر غړوونکي بايد ووېرېږي چې په کومه فتنه کښې اخته نه شي يا دردناك عذاب پرې رانشي.)

رابعاً:

د دغه اصل (د احزابو ازادي) د وجې نه په مسلمانانو کې بې اتفاقي او ډلې رامنځته کيږي، خلک يو بل سره کينې او بغضونه کوي، د ولاء او براء معيار ختميږي، نو ځکه دغه اصل د شريعت سره په ضد کې واقع دی ، ځکه چې اسلام موږ وحدت ته رابولي الله تعالی فرمايلي دي:

{وَاعْتَصِمُوا بِحَبْلِ اللَّهِ جَمِيعًا وَلَا تَفَرَّقُوا }[سُورَةُ آلِ عِمْرَانَ : 103]

(ټول يو ځای شئ، د الله رسۍ کلکه ونيسئ او تيت و پرک کيږئ مه.)

او همدارنګه زيات احاديث او آياتونه موږ اتفاق او اتحاد ته رابلي.

دغه بحث په لاندې حديث را ټولومه:

عَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم قَالَ: عَلَيْكُمْ بِالْجَمَاعَةِ وَإِيَّاكُمْ وَالْفُرْقَةَ فَإِنَّ الشَّيْطَانَ مَعَ الْوَاحِدِ وَهُوَ مِنَ الاثْنَيْنِ أَبْعَدُ وَمَنْ أَرَادَ بُحْبُحَةَ الْجَنَّةِ فَعَلَيْهِ بِالْجَمَاعَةِ. رواه الترمذي

ژباړه: عمر بن الخطاب (رضي الله عنه) وايي: رسول الله (صلی الله عليه والسلم) وفرمايل: تاسو خامخا د مسلمانانو له ډلې سره يوځای اوسئ او خامخا له تفرق او اختلاف نه ځانونه وساتئ، ځکه شيطان له يوه کس سره ملګری وي او له دوو کسانو نه ليرې وي او که څوک د جنت خوشالي غواړي يا غوره جنت غواړي، د مسلمانانو له ډلې سره دې يوځای اوسي.

که موږ طالب مرتدين د ديموکراسۍ په اساساتو تلو، نو ښه پرې درانه خيژي ، ځکه دوی اوس دغه اساسات په ډېر خه شکل په خپل ځان عملي کړي او د باقي پاتې د عملي کيدو لپاره په ډېره بېړه په مبارزه بوخت دي، خو بـأذن الله، د اسلامي دولت سرښندونکي غازيان ورته دا وخت نه ورکوي، چې دوی به د خپلو کافرو بادارانو اهداف او د هغوی په لاس وضعه شوي قوانين په مسلمانانو پلی(عملي) کړي .



لوستل يې مه هيروئ!

د محرم په مياشت کې د العزايم خپرندويه ادارې څخه د ګڼو فارسي او پښتو کتابونو د خپراوي ترڅنګ دا په زړه پورې کتاب چې د طالبانو کفري کړنو ته د مشروعيت ورکولو په رد کې ليکل شوې خپور شوې دې.
لوستل او تر نورو رسول يې مه هيروئ .

ښاري شازلميو ته

لار مو کړه ورکه له مرتدو طالبانو
ښاري زمريو آفرين آفرين ځلميانو.
په وينو سره ئې کړئ واټونه
هر ځای کې ډدئ ورته ماينونه
ورته يي وشندی سرونه
هير درنه نه شي واخلئ کار له چسپکيانو
ښاري زمريو ، افرين ، افرين زلميانو
خيژي اسمان ته يې بغارې
دې پرې ضربې دماشيندارې
وېنې يې له سره وهي دارې
کړل ټوپکان يې غنيمت له مردارانو.
ښاري زمريو ، افرين ، افرين زلميانو
لوی دښمنان دي د اسلام
هم د قرآن شرعي نظام
بس مرتد شوي دي تمام
د ايمان زور مو ور معلوم کړئ مؤمنانو.
ښاري زمريو ، افرين ، افرين زلميانو

کمين کې گيره يې گزمه کړئ
رنجرې ټولې يي لولپه کړئ
زړونه مو يخ په مليشه کړئ
نور سيمه پريږدئ ځان خوندي کړئ چيريکيانو
ښاري زمريو ، افرين ، افرين زلميانو
سم ترصد يې کړه له ورايه
بيا بسم الله ورته ووايه
مضبوط يې ووله څو ځايه
سر يې غلبيل کړئ په خپ کنو غلچکيانو
ښاري زمريو ، افرين ، افرين زلميانو
گوته په غابن شول ټول حيران
په ښار کې گرده لارويان
گوري غازيان خراسانيان
له بريده وروسته باقيه غږ کړو غازيانو.
ښاري زمريو ، افرين ، افرين زلميانو

مؤسسة العزائم الإعلامية

دجهاد د کاروان څاروان

شیخ ابو عمر مقبول

تقبله الله تعالی

د خراسان د انقلاب ستر امام، د جهادي کاروان نامتو مجدد، د نړیوال خلافت تر چتر لاندې د امت تېر شوي برم او مجد راستنولو سرگرم داعي، د توحید د قافلې عظیم رهبر، د کفري نړۍ سرسخته دښمن، د معاصر طاغوتي نظامونو تکړه څېړونکی او نقد کونکې، د خلافت د شهداؤ د گلشن یو ځلانده ستوری شیخ ابو عمر مقبول تقبله الله د کوم تعارف محتاج نه دی، د خراسان او هند په شمول د عربي او غربي نړۍ تقریباً هر خاص او عام یې د نوم سره آشنا دی او په ځانگړې ډول د خراسان او هند مسلمانان یې دعلمي او عملي خیرونو څخه مستفید شوي دي. ددغه سترې هستۍ یاد د موجوده او راتلونکي نسلونو لپاره د مشعل په حیث روښانه ساتلو په پار د تاریخ زرینو پاڼو ته سپارو چې آینده نسلونه یې هم په حق کې تابعداري وکړي او د اسلامي نظام ددغه اتلانو په نقش قدم باندې تللو سره د غربیانو او د اسلام د دښمنانو له جالونو او دسیسو څخه ځانونه وژغوري.

نوم او نسب:

شیخ صیب خپل نوم مقبول و، د حاجي عیدت خان زوی و، د هغه پلار اسماعیل خان بن سیف الله خان بن محمد خان و.
د اورکزو ایجنسۍ، محمود زو سیمه، د "جبه" نومي کلي کې یې نړۍ ته سترګې غړولې وی.

ماشومتوب، زده کړه، عملي او دعوتي ژوند:

شیخ مقبول په داسې ټولنه کې خپل د ژوند مزل پیل کړ چې په تمامه معنا د جاهلیت سره مشابه وه، هرې خوا ته شرکونه او بدعات عام و، ځایي خلکو به په شخصي بدیو کې یو بل سره سیالي کوله او د قتل وغارت په لوړ ګراف به یې فخر کاوه. تعلیم او تربیت ته چا پاملرنه نه کوله خو بیا هم د شیخ پلار او مور د شیخ صیب په روزنه کې زیار ویستلو، او د کورنۍ روزنې ترڅنګ یې لمړنیو زده کړو په پار د کلي په مدرسه او مکتب کې داخل کړ. شیخ صیب ته الله عزوجل نآشنا حافظه ورکړې وه. په وړوکوالي کې یې زیات شمیر سورتونه حفظ کړل او لیک لوست یې زده کړ. خپله یوه واقعه بیانوي، چې زه بیخي وړوکی وم، او له عربو څخه زمونږ یو کلیوال راغلی و، پخوا به داسې و چې مسافرۍ نه به څوک کلي ته تللو نو د کار ملګرو به هم کورونو ته سامان لیږلو، هر یو به پرې خپل نوم لیکلو، نو زما والد صیب هم یو کلیوال ته غوټه موټه ورکړې وه چې دا به زما بچیانو ته ورسوې ، نو وایي ما مې مور ته وویل چې زه هم ځم د فلاني حجره کې خلک راټول دي د خپلو خپلوانو شیان لټوي، وایي زه هم حجرې ته لاړم، چې ګورم هر سړی د خپل سامان په لټه کې دی، ما هم شیانو کې د خپل پلار نوم لټاوه، پدې کې مې خپله غوټه پیدا کړه، او خلکو ته مې وویل چې دا زمونږ غوټه ده، دا به زه یوسم، وایي هغوی راپورې وخندل چې ته څه پوهیږې، د بل چا غوټه به دې اخیستې وي، خو کله چې خلکو ولیده نو ما خپل شیان راخیستې و،. دغه رنګ وایي زه ډیر وړوکی وم، مشرانو خویندو ته مو والدې د شپې خوب څخه مخکې سورة الملک (تبارک الذي) ورزده کاوه خو ماته یې ویل ته وړوکی یې، ویده شه، بله ورځ چې امتحان و نو ما هم ټول سورت ورته تیر کړ نو والده مې سخته خوشحاله شوه.

کله چې شیخ صیب لږ راغټ شو نو د قبایلي روایاتو موافق یې ټوپک سره سخته مینه پیدا شوه، آن تر دې چې والدې به ورته د سودا لپاره پیسې ورکولې خو شیخ به په هغه باندې مرمۍ اخستلې خو والدې هم ورته څه نه ویل او په دې نیت یې نه تهدیداوه چې دا به یو ورځ د ټوپک او مرمیو په همدې مینه د اسلامي نظام دفاع کوي، شیخ صیب په وړوکوالي کې یو ټوپک ځانته برابر کړی و او د همزولو ترمنځ سخت شجاع هم و. خو کله چې یولس کلن شو نو پلار او مور یې په تربیت باندې وېرار شول، چې د کلي او ماحول تاثیر لاندې رانشي او د قتل وغارت او جهالت په لور قدمونه وانخلي ، نو والدینو یې مشوره وکړه او په وړوکوالي کې یې پلار خپل زوی ځان سره ابو ظبي (اماراتو) ته بوتلو. که څه هم مور یې د فراق په لمبو کې سوځیده او ورپسې سخته خفا کیده ځکه د څو خویندو همدا یو ورور و، خو بیا به یې د خپل بچي روښانه مستقبل په امید خپلې اوښکې تم کړې، په ابو ظبي کې د شیخ د والد دوکان و، نو شیخ صیب یې مکتب او مدرسه کې هم واچاوه او بعد د وخته به یې پلار سره د دوکان په کارونو کې مرسته کوله ، لږ وخت کې شیخ ماحول سره بلدتیا پیدا کړه او سبقونو سره یې سخت شوق پیدا شو.

په مدرسه کې یې د مصر جامعه ازهر څخه فارغ شوي شیخان استاذان ول، او شیخ د غیر معمولي ذهانت له امله په استاذانو هم ډیر ګران شو،په ځانګړي ډول په نحو کې شیخ زیات مهارت پیدا کړ. استاذ یې ورته ویل چې زه کله خپل وطن مصر ته لاړ شم نو خپلې جامعې ته به ورځم او هلته به ستا تذکره کوم چې ابو ظهبي کې زما داسې شاګرد دی چې د نورو فنونو ترڅنګ نحو کې زیات مهارت لري.

سبقونه یې خه په عزم او همت سره ویل، څو کاله پس چې کله زلمی شو نو د کار او کسب په فکر کې هم شو. متاسفانه چې د بل کار انتخابولو پرځای شیخ هم د خپل کلي د ځوانانو په ملتیا د ابو ظبي په پوځ کې داخله واخسته، د تربیت او ټریننګ څخه وروسته عسکر شو، پدې دوران کې یې د سبقونو سلسله هم نیمګړې پاتې شوه، خو لږه موده وروسته یې د عسکرۍ سره سره خپلو سبقونو ته هم دوام ورکړ. بل خوا د ده فزیکي استعدادونو، عصري او دیني تعلیم او لوړو صلاحیتونو په نظامي ډګر کې هم وځلاوه، او په مسلسل ډول یې پرمختګ وکړو د ابو ظبي په خصوصي کمانډو پوځ کې یې ځای وموند، دې سلسلې څو کاله دوام وکړ، شیخ صیب دغه طاغوتي نظام سر تر پایه په عملي بڼه ولید، کله چې ددغه نظام غلامي، کفر او ارتداد ورته ثابت شو نو توبه یې تري وویستله او پدې پوهه شو چې دا د متحده امارت، قطر، کویت وغیره عرب ملکونو حاکمان د امریکا په غلامۍ کې د امریکایانو ګمان او توقع څخه هم څو قدمه مخکې تللي دي.

شیخ صیب بیرته نیم پاتې سبقونه شروع کړل، او خپل شخصي کسب او کار یې هم کاوه. په دغه دوران کې ورته پلار د اورکزو په یوه متدینه کورنۍ کې واده هم وکړ، او شیخ به هر کال په رخصتۍ کور ته هم تللو، لږه موده وروسته شیخ صیب په ابو ظبي کې تبلیغیانو دعوت کړ، او د تبلیغ سرګرم غړی وګرځید، تر دې چې شیخ صیب به د ابو ظبي څخه بنګله دیش او د لاهور اریونډ اجتماع ته خامخا حاضریده، خو چې کله یې عملاً دا خلک ولیدل، کلونه یې ورسره تیر کړل ،ددې خلکو خرافات ورته په ډاګه شول نو د تبلیغیانو عمومي مشر عبد الوهاب ته ورغی او ددغه ډلې مشکلات یې ورته ذکر کړل، وایي عبد الوهاب راته وویل

چې زه خو عالم نه یم، فلاني او فلاني ته ورشه، وایي د هغه قول مطابق زه هماغه کسانو ته ورغلم چې د تبلیغي جماعت معروف ملایان ول. ما ترې څو پوښتنې وکړې او مشکلات مې ورته په ګوته کړل، هغوئ سره نور هیڅ جواب نه و، خو راته یې کړه : چې ته چیله (۴۰ ورځې) ولګوه، وایي زه بیا لاړم او ۴۰ ورځې مې تبلیغ کې تیرې کړې خو ددوئ نور خرافات هم راته څرګند شول، بیا لاړم او هغه ملایانو ته مې وویل چې ما خو ستاسې خبره ومنله او ۴۰ ورځې مې تبلیغ کې تیرې کړې اوس راته د پوښتنو جوابونه او ستاسې د مشکلاتو په اړه وضاحت راکړئ، هغوئ په ځای ددې چې جواب راکړي، بیا یې راته وویل چې نه ته لاړ شه او څلویښت ورځې نورې هم تیرې کړه، ځکه چې جواب یې نه درلود. ټول آرایونډ ملایان مې وکتل خو هیچا سره یې جوابونه نه ول، نه یې د اصلاح غم کاوه خو بس دین په نوم یې خپله دکانداري روانه کړې وه. نو آخر ما هم دغه صف سره مخه خه وکړه او د حق په لټه کې شوم، هماغه وه چې الله عزوجل د توحید ښکلي صف او مبارک کاروان سره یوځای کړم، وایي یوه ورځ بیت الله کې په پوړیو کې کوزیدم چې ګورم د تبلیغیانو یو معروف داعي او ملا هم په زینه کې روان دی، وایي ما ودراوه او ورته مې کړه چې زما هغه جوابونه دې پیدا کړي او که نه ؟ وایي سړی سخت خجالته شو او راڅخه په خپله مخه روان شو. الغرض شیخ صیب خپل سبقونه ابو ظبي کې سر ته ورسول او د توحید دعوت او تدریس یې شروع کړ.

الله عزوجل ورته د تدریس نآشنا صلاحیت ورکړی و، لږ وخت کې یې زیات مقبولیت پیدا کړ، د عربو ځینې متکبره شیخان یې علمیت ته قائله شول او د شیخ په علمیت یې اعتراف کاوه . ډیری عربانو ورته د خپلو بچیانو خه تربیت له امله د دویم واده، بنګلو او د مادیاتو پیشنهادونه وکړل خو شیخ صیب رد کړل، یو خو دا د ضرورت پرته دنیا وه او بل شیخ ویل چې له ما څخه د اورکزو اهل او بچیان همداسې معلق پاتې کیږي. شیخ صیب باوجود ددې چې مسافر و خو خپل اهل یې همداسې بې تربیته نه و پریښي ، بلکې هغه وخت کې به خلکو د ټیپ ریکاډر کیسټو کې پیغامات لیږل رالیږل نو شیخ صیب به د قرآن کریم ترجمه، تفسیر او ضروري احکامات ریکاډ کول او وخت په وخت به یې خپل اهل ته رالیږل او شپږ میاشتې پس به کور ته راتللو، د اهل وعیال څخه به یې په دیني درسونو کې امتحان اخستلو. او رخصتۍ پرمهال به یې له نیږدې څخه د مور خدمت کاوه. شیخ په سفر و چې مورکۍ یې وفات شوه او د اسنادو تخنیکي ستونزو له امله شیخ یې جنازې ته راونه رسید چې دا ارمان به یې تل کاوه. که څه هم د شیخ صیب والد پدغه وخت کې عمر زیات و، خو شیخ صیب د هغه خه خدمت او زړه ساتلو په پار د خپلې مور د مړینې څخه څلویښت ورځې وروسته بل واده وکړ، او کور یې ورته آباد کړ. پدې هم ورسره ځینې خپلوانو جنجال وکړ چې شرم دی، پلار دې مشر سړی دی د بل واده حاجت ورته نشته، خو شیخ صیب د هغوی بې ځایه پیغورونو او طعنو ته ونه وکتل بلکې د پلار زړه یې وساته، او تر مرګه یې د هغه دعاګانې وګټلې.

د شیخ صیب د مسافرۍ مرحلې تقریبا شل کاله دوام وکړ، چې بیا د حکومت لخوا د مجاهدینو سره اړیکو په تور ممنوع الخروج اعلان شو. کله چې شیخ صیب خپل کلي ته مستقل راغی نو لمړی یې د توحید مرکز یعني جمات بنیاد کیښود ، مونږ مخکې یادونه کړې وه چې قبایل پدغه وخت کې د شرک او بدعت مراکز ګڼل کیدل. او شیخ صیب سره توحید له امله کلیوال خلک وران شوي وو، کنه ددې څخه مخکې د خپلې سیمې د ځوانانو د ټولنې مشر و او حتی تر دې چې د سیمې خلکو ترې دا مطالبه هم کړې وه چې زمونږ له حلقې څخه انتخاباتو ته کاندید شه ، خو شیخ صیب چې کله علماؤ سره مشورې وکړې نو قوم ته یې اطمینان ورکړ چې دا کار ارتداد دی. او هیڅکله په شرکي انتخاباتو کې ونډه نه اخلم.

نو شیخ صیب چې جمات جوړ کړ، کلیوال به ورته مونځ ته نه راتلل، خطبې او درس ته به هم څوک نه کیناستل، خو شیخ هم د کمزوري عزم خاوند نه و، همت یې نه بایله. او د کلي ماشومانو ته یې ناظره او د حفظ درس شروع کړ، دا پداسې حال کې وو چې ښارونو کې شیخ صیب ته د تدریس وړاندیزونه کیدل خو شیخ صیب یو اوږد مهاله پلان درلود، شیخ صیب غوښتل چې زه خپله سیمه د توحید په مرکز او د اسلامي نظام په مضبوطه کلا بدله کړم. لهذا وړو ماشومانو ته یې د ناظرې درس ورکولو، او ددوئ عقیدوي تربیت به یې هم کاوه. او ددې ترڅنګ یې د عصري علومو په پار یو استاذ هم ونیوه، چې ماشومانو ته لیک لوست او ضروري شیان ورزده کړي، نو لږ وخت پس دغه مکتب او مدرسې پرمختګ وکړ ، د کلي ټول ماشومان سبقونو ته راتلل او شیخ به چې خپل سمسور باغ لیده نو لا به خوشحالیده، او خپله خواري به یې نوره هم زیاتوله. د سیمې خلکو ددې خدمت له امله شیخ صیب سره مینه پیدا شوه او په قرار قرار جمات ته هم د خلکو راتګ شروع شو. د خپل کلي ډیری خلک د ضد او تربورولۍ له امله نه راتلل خو په لرې پرتو کلیو کې الله عزوجل موحدین پیدا کړل. شیخ صیب به تللو او د وخت معروفو شیخانو څخه یې مطالبې کولې چې تاسې خپل فارغ شوي علماء ما سره ولیږئ، الحمد لله زه ځمکه لرم، امکانات لرم، چې پراخه مدارس او مراکز جوړ کړو، او د اورکزو ایجنسي د توحید او موحدینو لپاره مهم مرکز وګرځي خو دغه شیخانو ورته معذرت وړاندې کاوه، چې ستاسې قبایلي سیمې ته څوک زړه نه خه کوي.

خو د علماؤ دې جفا له کبله هم د شیخ په عزم کې کوم تغیر نه رانغې او په مسلسل ډول یې خپل دعوت ته کار ویلی و. کله چې د توحید دعوت د اورکزو ایجنسۍ په لر بر کې خپریدو په حال کې و، نو د سیمې ځینې ملایانو او ملکانو خپله مشري په خطر کې ولیده نو جنجالونه، پروپاګند او دسیسې جوړول یې پیل کړل. ابتداء کې ددغه ملایانو سره بحث مباحثه وشوه، د مناظرې مجالس هم منعقد شول، د شیخ صیب والد او ترونه لا هم د بدعاتو په تیارو کې پاتې و، خو یوه شپه د مخالفینو د یو ستر عالم او د شیخ ترمنځ له ماښام څخه تر سهاره مناظره وشوه او سهار کې د شیخ پلار هم د هر ډول بدعاتو څخه بیزاري اعلان کړه او د سنتو کلک متبع وګرځید، د مباحثو او مناظرو دا سلسله وغځیده، تر دې چې خبره وسلوال مخالفت ته ووتله، لویه بلوا جوړه شوه، شیخ صیب هم له پیښور څخه مشران ملایانو پسې لاړو، اکثره شیخان وډار شول خو د پیښور یو مشر شیخ ورسره تیار شو او اورکزو ته د بحث لپاره راغی، خو په لار کې دغه شیخ د قوم له خوا اختطاف شو او حالات بیخي جنګي شول، ټول قوم راوپاریده او تر راکټ لانچرو پورې اسلحې یې راواخستلې او د شیخ په کور د برید او سوځولو پلان یې جوړ کړ، چې رهبري یې د شیخ صیب خپل کاکا کوله، شیخ صیب دوی هم خپل کور کې سنګر ونیوه پیکا او نورې اسلحې یې آماده کړې، خپل او خپلوان یې هم آخري دیدن ته راغلل او په سرو سترګو یې ورسره وروستۍ دیدن وکړو ، قوم له شیخ صیب یوه مطالبه درلوده چې دغه دعوت څخه تیر شه خو شیخ صیب ویل چې له دې حق دعوت څخه هیڅکله نشم تیریدای ،کله چې فریقین ګوته په ماشه و نو دغه وخت د یو قومي مشر دماغو کار وکړ چې اوس دواړه طرفونو ته د وینو سیلابونه بهیږي، او شیخ دوئ ټوله کورنۍ د زنانه وو او ماشومانو سره د منځه ځي، نو هغه د مذاکراتو او جوړجاړي لپاره هڅې شروع کړې او د صلح لپاره یې له جانبینو څخه واک اخستلو غوښتنه وکړه، خو دواړه جانبه په خپلو دریځونو کلک ولاړ و. د ډیرو منډو په پایله کې آخر دغه منځګړي دا پریکړه وکړه چې شیخ صیب به لږې مودې لپاره دا سیمه پریږدي چې دا اختلاف ختم شي او لږه موده وروسته به بیا د راتګ حق لري. شیخ صیب خو دا نه منله خو آخر دې منلو ته اړ شو او له خپلې کلي څو میاشتې مهاجر شو. اختلاف ختم شو او هغه اختطاف شوی شیخ هم راخوشې شو او څو میاشتې پس شیخ صیب بیرته خپل کلي ته راغی او له پخوا په نسبت یې دعوت لا ګړندی کړ، او د رادیوي ماشین په څپو یې د قرآن کریم درس هم شروع کړو، اوس نو اکثره خلک د شیخ صیب په حقانیت پوهه شوي وو او بیا داسې ورځ هم راغله چې د شیخ جمات به جمعې خطبې څخه مخکې دومره ډک و چې د ناستې ځای به پکې نه و.

شیخ صیب چې دا حالت کتلو نو لاړو او څو علماء یې نور هم راوستل

او د دعوت کار لا پرمختګ وکړ او اوس چا د مخنیوی او مخالفت جرأت هم نه درلود. اګر که پټ پټ یې خلکو د وژنې هڅې کولې، زهر ورته هم ورکړل شول چې بدتاثیر یې پرې وکړ، مرض یې پیدا کړ خو له مرګه الله عزوجل وساته. خو د الله د فضل او بیا د اخلاص، کلک عزم او استقامت دا نتیجه وه چې د علم باغ یې میوې ونیوله، د قرآن کریم حافظان، د قرآن ترجمه، تفسیر او د توحید عقیدې باندې سمبال شاګردانو ډلې ، ډلې به یې فارغیدې.

د شیخ صیب جهادي ژوند:

شیخ صیب چې کله ابوظبي کې و، د توحید عقیده یې زده کړه نو هماغه راهیسې یې جهاد سره مینه پیدا شوه او په افغانستان د امریکا په مشرۍ ناټو او متحدینو هیوادونو برید په پایله کې در په در شوي عرب مهاجرینو مرستې لپاره یې زیات کوششونه کړي دي. هغه وخت چې د عرب مجاهدینو د خرڅون بازار تود و، بې دینه خلکو ایمانونه بایلل او ډالر یې ګټل نو دغه مهال شیخ د یو څو ملګرو سره د اورکزو څخه تورې بورې په لور حرکت وکړ ترڅو عرب مجاهدین په خوندي توګه خپلې سیمې ته راولي او په خپل کورونو کې یې وساتي. دا د سخت ژمي موسم و، کله چې توربورې سر ته راورسیدل نو واوره بیخي له حده زیاته وه او مزل پکې ناشوني و. د ډیر کوښښ باوجود هم تورې بورې ته په کوزیدو ونه توانیدل، د غرونو مسلسل مزل او د ژمي سختې یخنۍ له امله دوی سخت وږي او ستړي شو او د یو کور په لټه کې و چې شپه پکې تیره کړي. پدې کې یو کور باندې ورپیخ شول، غږ یې ورته وکړ خو هغه راونه وت او له کور دننه یې راغږ کړ چې فلاني ځای ته ورشئ او فلاني خان ته غږ وکړئ، هغه به درته د شپې ځای درکړي. وایي کله چې راښودلی ځای ته لاړو او په هغه نوم مو غږ وکړ نو یو پوخ عمر سړی فوراً راووت او زمونږ تود هر کلی یې وکړ، د غره په لوړه څوکه د ګټو او خټو یوه ټیټه کوټه وه، هغه ته یې وردننه کړو. پدې سخته یخنۍ کې چې مونږ وردننه شو چې ګورو کوټه سمه توده ده، ایله مو ستړي جسمونه دمه شول. خو عجیبه دا وه چې هیڅ نوعه بخارۍ وغیره په کوټه کې نه ښکاري، نو مونږ حیران شو چې دا ګرمایش له کومه شو ؟ وایي ساعت لا نه و تیر چې دغه کس غوري او مجمعې د غوښو ډکې راوړې نو مونږ سخت حیران شو، د کور ښښتن څخه مو وپوښتل چې مونږ یو څو نآشنا کاروانه ولیدل، لمړی دا چې دې کوټه کې خو بخارۍ نشته او بیا هم دومره توده ده ؟ هغه وویل چې ما ددې کوټې د لاندې پایپونه تیر کړي چې خوله یې تنور ته وتلې ده نو کله چې تنور کې ډوډۍ پخوو نو دا کوټه هم ورسره تودیږي. دویم مو ورته وویل چې هغه ابل کور والا مونږ ته دروازه خلاصه نه کړه او ستا کور یې راته وښود ؟ وایي هغه وویل: چې بس زما حجره میلمنو ته خلاصه وي، او د شاوخوا ټول خلک میلمه زما حجرې ته راولي، وایي مونږ ورته وویل: خه دریمه پوښتنه مو دا ده چې ته خو همدا اوس کور ته لاړې او دا دې د پسه غوښې څخه دې ډک لوښي راوړل، نو دومره وخت کې خو پسه نه چپه کیږي او نه هم تا میلمانه درلودل چې تا ورته له مخکې تیارې کړې وی؟ وایي هغه راته کړه چې پدې لار باندې خلک ځي او راځي، نو ځکه زه هر وخت یو پسه حلالوم او پخوم یې، د ژمي موسم دی نو زر نه خرابیږي او چې میلمانه راشي نو د هغوی اکرام پرې کوم. وایي مونږ یې په جوابونو سخت متاثره کړو، چې پدې شړ غر کې دومره میلمه پال او سخي انسان چې د خپلې رمې څخه ګډې او بزې د میلمنو لپاره حلالوي، داسې د ګډو بزو ښښتن مونږ چیرې نه و لیدلی. شپه مو تیره کړه او سبا مو په نه زړه بیرته د کور په لور حرکت پیل کړ ځکه تورې بورې ته د تګ کومه چاره نه وه.

بیا څه موده وروسته یې یو عرب ته پناه ورکړې وه، ابو عبد الله چې د اردن څخه مهاجر شوی و. د هغه نه وروسته یې رواحه چې د شام مهاجر و، مروان او د مدینې یو مهاجر ته یې کور کې پناه ورکړې وه. او په کلي کې میشتو نورو عرب مهاجرینو ته به وخت نا وخت ورتللو، د هغوی احوال پرسي به یې کوله.

همدغه رنګ شیخ صیب د کرم ایجنسۍ او پاړه چنار روافضو په خلاف زیاتو جنګونو کې برخه اخستې وه.

خو کله چې د پاکستان خلاف د قبایلو مجاهدین د بیت الله محسود په قیادت کې راجمع شول نو شیخ صیب هم ددغه تحریک غړی شو. او د پاکستان مرتد دولت پر ضد یې عملاً مبارزه شروع کړه. ابتدایي جنګونه وو، شیخ صیب په مختلفو محاذونو کې خپله میړانه ښکاره کړه، ځکه د الله عزوجل رضا طلب او اخلاص سربیره د جنګ په تکتیک پوهه و او د کامل شجاعت پیرزوینه هم پرې الله عزوجل کړې وه، لږ موده وروسته شیخ صیب د اورکزو قاضي وټاکل شو او تر خپل توانه یې شریعت تطبیق لپاره هڅې کولې. بیا یو وخت شیخ صیب د کرم ایجنسۍ قاضي وټاکل شو او ددې سره د اورکزو ایجنسۍ په شورا کې هم و دغه وخت د اورکزو مسؤول حکیم الله محسود و.

کله چې حافظ سعید خان د اورکزو مسؤول مقرر شو نو د حکیم الله په څیر د حافظ صیب خاص مشاور و او په ټولو جنګونو کې ورسره یوځای پاتې شوی. لکه د جوګي جنګ، د تور غره جنګ، د احد دفاع جنګ، شاوو جنګ او د خیبر میدان په سیمه کې د پاکستاني حکومت د اربکیانو تنظیم سره په سخت ژمي کې سخته جګړه کې د جنګ په لمړیو کرښو کې شتون درلود، په غرونو باندې یو متر واوره پراته وه او دغه اربکیان چې دولس سوه فوج او په زرګونو کلیوالي اربکیان ورسره وو، ډیر سخت جنګ وشو چې ابتداء کې تحریک ته شکست ورپه برخه شو، شیخ صیب ټول مجاهدین راټول کړل او د زړه له کومې یې مؤثر بیان ورته وکړ چې هر کس دې له خپلو ګناهونو توبه وباسي ، چې الله عزوجل مونږ ته فتحه راکړي، ددغه بیان او دعا څخه وروسته مجاهدینو د الله په مرسته یوځل بیا په دغه اربکیانو او پاکستاني فوج برید وکړ چې نتیجه کې یې ټول په ګونډو شول او هغه بنګلې، موټرې او ټول سامانونه یې غنیمت شو.

شیخ صیب په وزیرستان کې:

د تحریک رهبري به اکثر وخت وزیرستان کې وه ، نو ځکه د قبایلو نمایندګان به وخت په وخت وزیرستان ته راتلل نو شیخ صیب هم د اورکزو ایجنسۍ په نمایندګي وزیرستان ته سفرونه پیل کړل او د تحریک امیر بیت الله محسود سره نږدې پاتې شو، او هغه ته یې شرعي دوره وکړه. بیا کله چې حکیم الله محسود امیر شو نو هغه په غوښتنه یې څو کرت کور وزیرستان ته یوړ، هلته یې حکیم الله محسود ته هم شرعي دوره وکړه او د تحریک د عالي شورا مهم غړی هم و. یو وخت د مهاجرینو مسؤول هم و او بیا د تحریک عمومي ویاند وټاکل شو چې تر خلافته یې دا دنده ترسره کوله او مطبوعاتي نوم یې " شاهد الله شاهد " و.

وزیرستان کې شیخ صیب د اسلام د نصرت او د جهادي صف تصفیې په پار زیات کوششونه کړي دي چې ځینو ته به یې مونږ اشاره وکړو.

شیخ صیب او رسنۍ:

شیخ صیب چې د طاغوتي نظام په څیرنه کې ورته الله عزوجل ځانګړې مهارت ورکړی و، رسنیو ترې سر نشو پورته کولای او ددوی ټولې پوښتنې یې په معقولو دلائلو سره ځوابولې، ډیرې خبریالان داسې و چې د شیخ سره مباحثو په نتیجه کې یې د پاکستان

مرتد حکومت کفر وپیژانده. لکه یو خبریال شیخ صیب ته وویل چې ما خو د پاکستان فعلي نصاب لوستلی دی او خپل بخش کې ماسټري لرم ما خو کوم ناقض د اسلام ندی لیدلی تاسې ورته څنګه مرتد وایاست ؟ نو شیخ صیب ورته ددوی له ملي ترانې څخه شروع وکړه، چې تاسې هره ورځ دا ترانه زمزمه کوئ: [پاک سرزمین کا نظام قوت أخوت عوام] یعني د پاکستان نظام د خلکو نظام دی، او کتاب سنت کې به نظام به د الله عزوجل وي او یو ساعت خبرې یې ورسره وکړې، آخر کې هغه خبریال اعتراف وکړ چې دا نظام کفري نظام دی.

همدا راز یو بل خبریال شیخ صیب ته ویل چې تاسې خوارج یاست، شیخ صیب ورته وویل ولې ؟ هغه خوار چې په نور څه خبر نه و، وایي ځکه چې تاسې مونځونه ډیر کوئ ؟ نو شیخ صیب ورته الزامي غوندی جواب وکړ چې زمونږ مجاهدین خو اکثر جهادي سفرونو او فعالیتونو کې بوخت وي، فرض مونځ قصر کوي پاتې لا نوافل! نو هغه لا جوابه شو. نور خو خبره واضحه ده چې یواځې په ډیرو مونځونو څوک خوارج نه ګرځي، کنه معاذ الله صحابه کرامو خو تر ټولو زیات عبادات کول. نو چا کې چې نور لازمي صفات د خوارجو راشي لکه د اشغالګرو پریښودل، د بت پرستو هندوانو او روافضو امنیت تضمینول او د خالصو مجاهدینو وژل. نو ددغه شان صوفي ډوله خلکو ډیر مونځونه کول او زیات ذکرونه کول هم د خارجیت یو صفت ګرځي.

شیخ صیب او د منهج ساتنه:

شیخ صیب همیش کوشش کاوه، چې مجاهدین د کفارو سره له تعلقاتو او د هغوی لخوا د مادیاتو له خورو شویودامونو څخه وساتي. یو وخت یو هیواد د تحریک تنظیم ته د پاکستان خلاف د میزائلو وړاندیز وکړ، د هغه وخت مسؤول بیت الله محسود د مختلفو تنظیمونو برجسته علماؤ شورا راوغوختله، په شورا کې مشهور عرب مفتي ابو یحیی اللیبي دا نظر و چې دا باید واخستل شي ، خو د شیخ صیب موقف دا و چې نه ددغه کفارو استعانت پداسې مشروط ډول او داسې حالاتو کې د مجاهدینو فکري انحراف پیلامه ده . مجلس کې ددواړو شیوخو ترمنځ تقریبا دوه ساعته مباحثه وشوه چې آخر کې بیت الله محسود وویل چې د شیخ صیب مقبول دلائلو زه مطمین کړم او دې کار نه به تیر شو.

شیخ صیب او سراج الدین حقاني:

وزیرستان کې شیخ صیب ډیر کرت د سراج الدین حقاني سره ملاقاتونه کړي دي، او هغه سره یې په مختلفو موضوعاتو باندې بحثونه هم کړي دي، خو دوی لا له مخکې د اسلامي نظام د قیام ارادې نه وې بلکې یو ډیموکرات او د بین المللي قوانینو څخه مقتبس شوی ماډرن اسلام یې غوښتلو. شیخ صیب ورسره د امارت د محدودې پالیسۍ په اړه بحثونه کړي دي، لکه امارت د حنفیت مذهب پورې منحصر کول او نورو خلکو ته پکې ځای نه ورکول. دغه رنګ شرعي حدودو نفاذ او داسې نور موضوعات. خو دوی همدا جواب کاوه چې بیا خو دا خلافت شو او پدې عصر کې د خلافت قیام ناممکن دی ځکه ټول کفار بیا مونږ ته یو لاس کیږي. بل د سراج الدین حقاني یو قبیح عادت به هغوی دا بیانوه ویل یې : د هر کار په اړه به چې مونږ ورغلو نو یو خوب به یې بیانوه، داسې خوب چې هغه کې به د سراج الدین د طبیعت موافق کار ته اشاره وه. یوځل حافظ سعید خان او شیخ مقبول د سراج الدین حقاني ملاقات ته ورتلل، نو دوی یو بل سره وویل چې دې مسئله کې د سراج الدین نظر زمونږ د نظر خلاف دی او تاسو به وګورئ چې د خپل نظر په تایید کې به هماغه وخت یو فرمایشي خوب راجوړ کړي او هغه به دلیل ګرځوي، دا کوم علم غیب نه و خو د نوموړي همدا عادت و. وایي کله چې لاړو او خبره مو ورسره شریکه کړه نو سراج الدین نظر زمونږ په خلاف و او څنګه چې مونږ له مخکې څخه ویلي وو چې یو خوب به بیانوي، هماغسې وشوه یو خوب یې راجوړ کړ او استدلال یې ترې وکړ، وایي که څه هم پدغه مجلس کې مونږ ته خندا هم راغله خو د هغه خبره مو په دلیل سره رد کړه او قناعت مو ورته ورکړ، خو سړي زړه نا زړه قبوله کړه. او د سراج الدین حقاني اوس هم دا عادت دی چې زیات دروغ وایي. نو دا له پخوا څخه زمونږ د شیخ د پوښتنو قرض داره دی.

شیخ صیب او کرنل امام:

د شیخ صیب د سفر او حضر ملګری او د هغه ډرایور ایوب چې په دهشت ګرد مشهور و چې د مامند سترې چاپې په شپه په میړانه وجنګید او شهید شو. (نحسبه کذالک والله حسیبه) هغه راته خپله کیسه کوله چې وزیرستان میرانشاه کې مونږ کرنل امام انتقالوه، [هغه کرنل امام چې د پاکستاني استخباراتو نوم وتې څیره وه، د روسي اشغال څخه تر امریکایي اشغال پورې په افغانستان کې د پاکستان ګټې خوندي کونکی کرنل و. او د طالبانو بنسټ ګر و] څو ساعته لار وه، نو شاته شیخ صیب او کرنل امام ناست و او د پاکستان نظام او د هغه پر وړاندې د جهاد مشروعیت د بحث موضوع وه، دواړو ډیر ژور بحث شروع کړی و او کرنل د خپل مرتد دولت څخه دفاع کې خپل پوره زور ولګاوه، خو شیخ صیب ورته داسې معقول دلائل وړاندې کړل، چې کله منزل راورسید او له موټر څخه کوزیدو نو کرنل امام شیخ مقبول ته کړه چې زه په مجاهدینو کې زیات ګرځیدلی یم، مشران کشران مې کتلي دي، خو طاغوتي نظامونو په اړه ستا په څیر پوهه کس ما تر اوسه ندی لیدلی.

شیخ صیب او د پاکستان حکومت:

شیخ صیب چې د خپل تنظیم د مطبوعاتي مسوول حیثیت یې درلود، ځکه ویاند و او خارجي پالیسي یې ټوله اداره کوله، د پاکستان په رسنیو کې یې د پاکستان کفر بیانوه. نو ځکه پاکستان حکومت پرې انعام مقرر کړی و. او زیات کوشش یې ورپسې کاوه، تر دې چې یوه شپه یې ورته په کور بمبار وکړ، چې په نتیجه کې یې کور ړنګ شو او سپین ږیری پلار یې شدید زخمي شو، خو نور د کور غړیو ته الله عزوجل د وتلو توفیق ورکړ.

چې کله یې دغه سپین ږیری زخمي انتقالوه، پرهر ، پرهر و، خو دغه حالت کې هم د پاکستان مرتد پوځ ورته زولنې واچولې او هغه یې بندي کاوه، چې بیا الله عزوجل آساني راوسته او شفاخانې ته د وړلو اجازه یې ورکړه. بیا هماغه و چې ددغه زخم له امله یې والد صیب شهید شو او دا یې په کورنۍ کې لمړی شهید و. دغه سپین ږیري پلار به ورته همیش ویل چې زه استشهادي کوم، ما ته ترتیب راجوړ کړه خو شیخ صیب به ورته ویل: بابا جانه دا مونږ څه لپاره یو ؟ چې ته استشهادي کوې نو مونږ ته به د ځمکې په سر ژوند څه خوند راکړي. کله چې زخمي شو نو شیخ ته یې ډیر په خفګان وویل چې دا وګوره نن هم راته مرګ راغی خو تا راته د استشهادي ترتیب برابر نه کړ،تقبله الله.

کله چې د شیخ کور او جمات ړنګ پروت و نو ملګري ورته راټول شوي وو، او ټول خفه ناست و چې پدې کې یو ملګری په خندا شو، ملګرو ترې پوښتنه وکړه چې ولې دې په داسې حال کې وخندل ؟

وایي هغه ورځ مې راپه زړه شوه چې مونږ راکټ لانچرې راخستې وې او همدا کور مو محاصره کړی و او نږدې و چې ړنګ کړی مو وای ، خو نن داسې حالت راغی چې ددې په ړنګیدو خفه یو او داسې د یو وجود او ورونو مثال لرو لکه زمونږ خپل کور چې ړنګ شوی وي.

د شیخ صیب علمي آثار:

د سیکولرزم او ډیموکراسي په رد باندې د شیخ صبب دورات زیات مشهور دي. چې سلګونو کسان ترې مخامخ مستفید شوي، او په زرګونو کسانو ددغه دوراتو له امله د موجوده نظامونو کفر پیژندلی دی. ددغه دوراتو چې څومره صفت وشي نو کمه ده، لهذا ټولو مسلمانانو ته پکار ده چې دغه دورات واوري. ددې دورې بعضې حصې په لیکلی بڼه هم نشر شوي دي.

دغه رنګ یو کتاب یې " اسلام او جمهوریت دوه جدا قطبونه " په نوم مطبوع دی او یوه رساله یې د القاعدې په انحراف لیکلې ده او بعضې نورې لیکنې، غږیز او ویډیویي درسونه او پیغامات هم شته خو د زیاتو مصروفیاتو له کبله یې لیکلي آثار

کم دي.

د شیخ صیب ځینې صفات:

الله عزوجل په شیخ صیب باندې د ځانګړو صفاتو پیرزوینه کړې وه، ځینې یې دا دي:

شیخ صیب ډیر خوش اخلاقه انسان و، نابلده کس سره به یې هم داسې روغبړ کاوه، لکه د کلونو خوږ ملګری. په سفرونو کې به یې ملګرو سره ډیر خه اخلاق کول.

څنګه یې چې خپل نوم مقبول و دغسې ډیرو زړونو ته مقبول و .

شیخ صیب کې فصاحت ماده زیاته وه، مخاطب به یې په خپل فهم پوره پوهوه ، مثلا د هغه عادت و چې کله به یې د یو چا تذکره کوله، او هلته به پدغه نوم دوه درې کسان و ، نو وضاحت به یې کاوه، چې فلاني محمد داسې کار کړی و. همدغه رنګ چې یوه مسئله به یې بیانوله، تر هغه به یې خلک نه رخصتول ترڅو چې به ټولو خلکو اقرار وکړ چې پوه شو. د قاعدې، قرآن کریم د ناظرې او ترجمې په اړه یې نآشنا طرز او طریقه وه چې ابتداء به سړي ته ګرانه ښکاریده خو چې یوځل به پرې څوک پوه شول نو ډیر زر به یې ناظره او ترجمه زده کوله.

د شیخ بل صفت دا و چې د خپل اهل وعیال د تعلیم او تربیت به یې بیخي زیات خیال ساتلو. اکثر به یې ویل چې هغه عالم او هغه پوهاند او امیر نیمګړی او کم همته شخص دی، چې خپله میرمن یې ددین په ضروري مسائلو هم ناخبره وي. نو خپل اهل وعیال ته به یې د قرآن کریم تفسیر او ترجمې سره، سره د سیکولرزم دوره، د جهاد مقاصد، د کفارو چالونه وغیره په دوامداره توګه بیانول، هغه به ویل هغه عالم چې ټوله نړۍ ددین په رڼاګانو روښانه کړي ، خو چې کور کې یې د جهل تیارې وي نو هغه کامله ګڼه ونه کړه، دغه رنګ د مجاهد زنانه چې د کفر او اسلام د معرکې په حقیقت پوهه نه شوه او یواځې د خاوند تقلید کې یې هجرت کاوه نو دا یې هم د خاوند نقصان دی.

شیخ صیب به د ماشومانو په تعلیم زیات تاکید کاوه. کله چې شیخ صیب تحریک کې قاضي شو او یوځوا بل خوا سفرونه شو، اکثر به کور کې نه و نو بیا یې بچیانو لپاره استاذان ونیول او هغوی ته به یې په پابندۍ سره سبقونه ویل خو په هیڅ صورت یې بچیان بغیر له تعلیمه نه دي پریښي. او دغه رنګ د مجاهدینو صفونو کې به یې چې ماشوم ولید نو فوراً به یې مدرسې ته لیږه چې د همدې هدف لپاره حافظ سعید خان په اورکزو کې یو لویه مدرسه جوړه کړې وه او د سنګر څخه زیات اهتمام به یې مدرسې ته ورکاوه، د مدرسې مهتمم راته کیسه کوله چې یوځل حالات زیات سخت و، لارې بندې وې، هرخوا جنګ روان و، زه حافظ صیب ته لاړم چې دا لیلیه مدرسه ده او خرچه هم زیاته کیږي نو دا به رخصت کړو وایې حافظ صیب راته کړه: چې ولې یې رخصتوې، دا جنګونه خو زمونږ معمول دی، کله به سختي وي کله آساني خو تعلیم تعلم سلسله به نه منقطع کوئ او وایې سنګر ته یې د خرچې لپاره پیسې برابرې کړې وې، هغه یې ماته راکړې چې دا د سنګر پیسې واخله خو مدرسه مه بندوه، ځکه څو ورځې د تعلیم رخصتي ماشومان څو میاشتې وروسته پاتې کوي.

د شیخ صیب بل مهم صفت سخاوت و، چې پیسې ورته هیڅ اهمیت نه درلود حتی کله کله به یې یو ماشوم ته پیسې ورکولی او د جیب څخه به یې زرګون راووت نو هغه به یې ورکړ او کله به چې پنځه زریز د جیب څخه راووتلو نو هغه به یې هم وړوکي ماشوم ته ورکاوه . دغه رنګ په نورو شیانو کې هم ورته الله عزوجل پراخه زړه ورکړی و. شیخ صیب په فیصلو کې زیات دقت کاوه..

د شیخ صیب بل صفت دا و چې کوشش به یې کاوه، د هغه ملګرو بچیانو سره به یې زیات احسان کاوه، چې هغوی به یا بندیان وو او یا به شهیدان وو او دا تاکید به یې کاوه، چې په ژوند اکثره ملګري یو بل سره خواږه وي خو کله چې ملګری بندي شي یا شهید شي نو بیا اکثره خلک د خپل ملګري بچیان بیخي هیر کړي، وایې دا زیات بې وفا ملګری وي. ځکه اصل د احسان او ښیګړی وخت همدا وس دی، وس دوی محتاجه دي، مخکې خو یې سرپرست درلود.

بل صفت په شیخ صیب کې د شجاعت و، ډیر شجاع انسان و، په سختو مقاماتو کې یې حوصله د لاسه نده ورکړی. یو مشر ملګري کیسه کوله چې یو مجلس کې ناست و، چې مهم جهادي قائدینو پکې هم شتون درلود. پدې کې د پاکستان مرتد حکومت توپونه ویشتل شروع کړل، دا توپونه نږدې ، نږدې لګیدل خو دوی په هماغه ځای ناست و، نو دې ملګري ویل چې ما شیخ ته او ټولو ته کتل چې د توپ لګیدو پرمهال سر ښکته کوي او که نه ؟ وایې اکثرو ملګرو به طبعي ډار له امله سر ښکته کاوه خو شیخ صیب هماغسې عادي ناست و. د خبرو اترو او ذهن سازۍ نآشنا مهارت ورته الله عزوجل ورکړی و، په خبرو به یې اکثر خلکو قناعت کاوه، د نظام په هکله هم ډیر د بصیرت خاوند و، حتی تر دې چې د سنزلی په سیمه کې د علماؤ یوې خصوصي غونډې ته حافظ سعید خان صیب د وینا پرمهال شیخ مقبول او شیخ جلال الدین د یوې غوره نمونې په څیر ذکر کړل، او علماؤ څخه یې د هغوی په مسیر د تللو مطالبه وکړه.

د خلافت سره بیعت :

مونږ مخکې یادونه کړې وه چې شیخ صیب له ابتداء راهیسې دا اراده وه چې خپله سیمه کې ددعوت له لارې د اسلامي نظام د قیام لپاره زمینه سازي وکړي. بیا چې تحریک راغی نو د همدې هدف په اساس یې ورسره ملتیا وکړه او خپل هدف یې هیر کړی نه و، همیش به یې د ملګرو ذهن سازي کوله، کله چې عراق کې مجاهدینو د نبوي منهج موافق اسلامي دولت اعلان کړ، نو هغه وخت ورته شیخ مقبول خپل بیعت لیږلی و. او کله چې خلافت اعلان شو نو شیخ صیب بیا خپل بیعت ولیږه او بیعت یې قبول شو ، شیخ صیب د هجرت اراده وکړه، ځان یې چمتو کړ، او د لارې جوړولو په لټه کې و، خو حافظ سعید خان او ځینې نورو مشرانو ورته ویل باید چې لږ صبر وشي، شاید دلته ترتیب راجوړ شي ځکه دا مونږ سره تقریبا ۱۳ کروړه روپو اسلحه ده او امکانات دي او دومره زیات مجاهدین دي، نو دا ټول خو مرکز ته نشي رسیدای. او دلته حافظ صیب او شیخ مقبول دوی سره د خلافت ځینې عرب مجاهدینو وختونه تیر کړي و لکه شیخ ابو مالک التمیمي تقبله الله، أبو ثائر او داسې نور، شیخ صیب هم د مرکز د امر په انتظار و، هماغه وه چې د خلافت سالم او باتدبیره قیادت لخوا د خراسان مجاهدینو لپاره د ولایت پرانیستلو پریکړه وشوه او دوی ته یې د شورا جوړولو امر وکړ او د شورا امیر یې شیخ مقبول تعیین کړ، شیخ مقبول د مرکز سره دوامداره رابطه کې و او د هغوی د لارښونو موافق یې ملګري راټول کړل او شورا د عمیق سوچ او فکر وروسته حافظ سعید خان والي او عبد الرؤوف خادم د نائب په توګه وټاکه د خلافت په ابتدایي مرحله کې د شیخ صیب هڅې د یادولو وړ دي، چې څومره سفرونه یې وکړل، د پاکستان قبایلو، پاکستان ښارونو او د افغانستان اکثره ساحو ته یې ملګري ولیږل، ملاقاتونه یې وکړل، د خلکو اشکالات یې ورختم کړل، د تنظیمونو ټولو مشرانو سره یې لیدنې کتنې وکړې ، خو هیچا سره د بیعت نه کولو کوم دلیل موجود نه و، په ټولو یې حجت قایم کړ، بیا هماغه وه چې د الله په توفیق سره د شیخ کوششونو رنګ راوړ او د خراسان لر بر څخه د مجاهدینو، مهاجرینو او انصارو قافلې راشروع شوې. جهادي لړۍ یو نوې روح وموند، د هرې خوا مسلمانانو د عالمي خلافت تر سیوري لاندې د تیر برم او عزت ترلاسه کولو په امید بیعتونه شروع کړل. نو دغه وخت کې شیخ صیب ملګرو ته وویل چې زما همدا ارمان و، همدا مې د مبارزې ځانګړی هدف و او ډیر د خوشحالۍ مقام دی چې په ژوند کې ورته ورسیدو. اوس ددې نه وروسته که زمونږ وینه تویه

شي نو زه هيڅ خفه نه يم.

د طالبانو لخوا د جګړې پيل:

کله چې د خراسان ولايت عامه مجاهدينو خلافت سره بيعت وکړ نو د پاکستان استخباراتي اداري ای ايس ای دا د خطر زنګ وګاڼه. او ددې مخنيوي په پار يې خپل کم کرايه طالب مليشې عيارې کړې، او د اختر منصور په نوم طالب چارواکي د اسلام او ملت سره ستره جفا وکړه ،د کفارو ددغه پروژې تطبيق ذمه يې په غاړه واخسته. او د ايران، پاکستان، روس او چين څخه کومک اخستلو وروسته يې د خلافت په مجاهدينو جنګ پيل کړ، د شا لخوا يې په غدارۍ سره وويشتل، نو عام مجاهدين ابتداء کې د طالبانو په جنګ کې مترددە و، شيخ مقبول هغه وخت د مجاهدينو داسې ذهن سازي وکړه چې بيا هر يو د طالبانو جګړې ته په مينه ورمخکې کيده، شيخ صيب د افغان مرتد حکومت او د طالبانو تقابل بيان کړ، چې د هغوی اکمال او ددوی اکمال سرچينه يو شان ده، د کفر امامانو څخه د مجاهدينو خلاف کومک اخلي، او زيات شمير نواقض يې بيان کړل نو مجاهدينو هم د طالبانو د بريدونو جواب ورکول شروع کړل چې لږ وخت کې يې ترې څو ولسوالۍ ونيولې.

د شيخ صيب شهادت:

کله چې د طالبانو د جګړې په جواب کې مجاهدينو خپله دفاع شروع کړه، او طالبانو پرلپسې شکستونه وخوړل، ددښمن ډيری عسکر مجاهدينو لاس ته راغلل، مجاهدينو ورته عفوه وکړه او شيخ عبد الحسيب ورته شرعي دوره شروع کړه، ددورې څخه وروسته يې پدې شرط خوشې کړل چې تاسې به نور د طالبانو څخه لاس واخلئ، هغوی عهد وکړ او په ټوله سيمه کې امن او امان قايم شو، هرې خوا اسلامي نظام حاکم شو، شيخ صيب پدغه ورځو کې د اوغز دوره ختمه کړه او مامند ته راغی، ترڅو مامند کې علماؤ ته دوره ورکړي، مامند کې يې يوه شپه کړې وه، چې سبا سهار هغه طالب مليشو لخوا غدر وشو چې مجاهدينو ورته عفوه کړې وه، په خيانت سره يې د مجاهدينو په کورونو بريد وکړ، خلکو ورسره هم پاڅون وکړ او له بهر څخه نورو امارتيانو تعارض وکړ د خلافت مجاهدين يې کلک محاصره کړل، ددوی کورونه يې چور کړل حتی سپين ږيري يې د زنانه و په مخ کې په چړو ووهل. دغه هنګامي حالت کې شيخ صيب ډير په اطمينان او سکون سره د غره په لور روان شو، مونږ مخکې يادونه کړې وه چې شيخ صيب په سختو حالاتو کې هم خپله حوصله د لاسه نه ورکوله او ډير په سړه سينه به يې کار کاوه. کله چې د غره سر ته پورته شول نو مجاهدين سخت ستړي هم و،د څښلو اوبه هم نه وې، او مجاهدينو جنګ هم کړی و، مولانه ګل زمان فاتح او جهاد يار هم دغه ځای ته راغی، تقريبا پنځوس شاوخوا مجاهدين راټول شول، دلته شيخ صيب دوی ملګري منظم کول چې بيا تعارض وکړي او دغه خائنانو ته د عبرت درس ورکړي ، خو د رب تقدير بدل و، شيخ صيب ملګرو ته ډير موثر بيان وکړ، او دا يې ورته وويل چې نن ماخام به يا مامند ته کوزيږو او يا به جنت ته ځو ان شاء الله ، همدغه خبرو کې امريکايي جيټ بمبار وکړ او بيا ورپسې ډرون الوتکې ګذارونه کول تر دې چې ځلويښت مجاهدين ددغه لوړ غره په سر د شهادت په اوچته مرتبه باندې فائز شو. نحسبهم كذالك والله حسيبهم ولا نزكي على الله أحدا. د شيخ صيب جسد خو بيخي معلوم نشو، او د نورو ملګرو د جسمونو ټوکړې د غره په لمن کې خپرې شوې او د رب سره کړې ژمنه يې پوره کړه. تقبلهم الله.

دغه شهيدانو کې د شيخ صيب مشر زوی عمر هم و

هغه عمر چې شيخ صيب خپل کنيت هم د هغه په نوم و، مستقبل کې ترې زياتې تمې درلودې، ډير ذهين، پوهه او د صلاح خاوند و. خو شيخ خبر نه و چې دده او زما شهادت به يوځای وي. شيخ صيب او عمر هم د خپل والد او نيکه پسې ورغلل. او د شيخ صيب يو خورين عبد الحسيب هم دغه شهداؤ کې شامل و. تقبلهم الله.

شيخ صيب به هميش داسې دعا کوله چې يا الله ماته داسې شهادت راکړې چې د قيامت په ورځ د حشراتو او حيواناتو د خيټو څخه زما ذره ذره شوي بدن ټوټې راټولې کړای شي.

عمر تقبله الله

عبدالحسيب تقبله الله

الله عزوجل غيرتي ذات دی، څو ورځې وروسته نورو مجاهدينو تعارض وکړ چې دا پاڅون خيل او غداران ورته الله عزوجل په لاس ورکړل، بيا مجاهدينو هم ورته عبرتناکه سزا ورکړه، په بمونو يې کينول، دې لپاره چې بيا څوک د خيانت اراده هم ونه کړي او هماغسې وشوه د امريکايي طيارو سيوري پرته بيا چا د خلافت سيمو ته په بده سترګه ونشو کتلای. ولله الحمد والمنة.

د شيخ صيب کورنۍ د جهاد او هجرت په اغزنو لارو د شيخ سره يو ځاى د يو ستر هدف او روڼ منزل په لور په يون وه او په دې لاره کې يې ددې شهيد پروره کورنۍ د قربانيو تاريخ هم پټ نه دې ، دوی په خپلو وينو خپلو راتلونکو نسلونو ته د تاريخونو بابونه د ميړانو او کارنامو په حماسو ډک کړي دي.

عجيبه ده د شيخ صيب د کورنۍ پرلاپسې غړي د جهاد په لاره کې خپلې ځوانۍ ټوټه ، ټوټه کوي خو ورپسې تر شا روانه قافله يې نه ستنيږي بلکې لا ګرندۍ کيږي ، د شيخ صيب، عمر او عبد الحسيب شهادت څخه لږه موده مخکې يې بل خورين " محمدي " ډرون ويشتلی و.

او ددوی د شهادت څخه څو کاله وروسته د شيخ صيب کشر ورور، چې دا يې ددويمې مور يواځنی زوی و.

عبدالله نوميده ، الله عزوجل پرې د يو چينار ، چينار ځوانۍ ترڅنګ د ډيرو غوره او خوږو اخلاقو لورينه

عبدالله تقبله الله

هم کړې وه ، ډير متواضع ، منونکې ، حليم او صابره ځوان و، د واده يې دوه مياشتې کيدی،د ژوند د رنګونو ددغه خوږو لمحو خوږو شيبو ددې څنه ور غازي پښو ته زولنې وراونه چولې بلکې لا يي د سنګر او مورچل په مينه مست کړ، تل به د جګړې په لومړيو ليکو کې و ، د مامند په چاپه کې بزدله صليبيانو سره د جګړې ميدان ته ورکوز شو ، خو ډارن دښمن له طيارو څخه وويشت او شهيد شو. تقبله الله.

د عبد الله له شهادت څخه وروسته د کور ټوله سرپرستي د عبيد په نوم د شيخ صيب دويم زوی ته پاتې شوه، چې دغه وخت د پنځم صنف متعلم و، عبيد هم د شيخ صيب په پل روان و ، په اخلاقو او جرات کې د همغه

په پل، پل ایښئ و، تل به یی خوله له خوږې خندا ډکه وه، په واړه ځان ورته د ستړې کورنۍ بوج ورپه اوږو شو.

د تمکین د کړاونو په ډک ژوند کې په ډیرو لالهانده او سرګردانه شیبو کې یې هم د خپل پلار مسیر پرینښود، او په همدې کړاونو او د اورونو په باران کې د ټولې کورنۍ سره یوځای اوسیده، مور ورته په تنکۍ ځوانۍ کې واده وکړ او د واده یې شپږ میاشتې شوی وې، د ډیرو سختیو ګاللو څخه وروسته دغه دویم زوی یې هم د هسکې مینې والسوالۍ په لوړه مینه کې د بوې چاپې پرمهال په داسې حال کې د طیارو څخه د بمبار په پایله کې شهید شو چې پلې راغلو کفارو او مرتدینو سره یې خه ګرمه جګړه ترسره کړه.

عبید چې په کومه چاپه کې شهید شو، دا چاپه دده د اوخې یانې د شیخ صیب د زوم " ارشد " چې په باز مشهور وپه کور باندې وه، عبید هم په همدې شپه د خپل اوخې څنګ ته تللې و، د چاپې په جریان کې یې اوخې ارشد باز هم په ډیره میړانه د راغلو کفارو او مرتدینو سره څو ساعته نښته ترسره کړه.

ارشد(باز) هم ډیر چست او چابکه ځوان و، په ډیرو سختو حالاتو کې

ارشد (باز) تقبله الله

